کوربت

لومړی کال، لومړی ګڼه، ۱۳۷۸ل کال (تله لړم) ۱۹۹۹م کال اکتوبر نومبر

بودا او مولانا

د هېواد له ملي خدمتګار ښاغلي ډاکټر عبدالوکيل سره مرکه

ایا ولس د بقا وروستی چانس له لاسه واکړی ؟!

په پېښور کې

افغانان د چواړیانو پر ځای

Bimonthly
Gorbat
Culturl Organization

ګوربت
دوه میاشتینی

لومړی کال، لومړی ګڼه، ۱۳۷۸ل کال تله - لړم، ۱۹۹۹ کال اکتوبر - نومبر

نیولیک

سرلیک	مخ
- د ګوربت فرهنګي ټولنې د مشر پیغام	۱
- د ګوربت د وزرو غوړېدل زموږ د شنه اسمان...	۲
- د مذهب او تهذیب ډېرې زریزې	۴
- ایا ولس د بقا وروستی چانس	۷
- د ځوانو ژورنالستانو او لیکوالو روزونکی "وجدی"	۹
- بودا او مولانا	۱۱
- پښتو ژبه: یوه ملي او فرهنګي اړتیا	۱۲
- ادب او ټولنه	۱۷
- افغانان د چواړیانو پر ځای	۱۹
- زموږ ملي یووالي ته پښن ګواښونه	۲۲
- د اریانا د اوسېدونکیو او سیمو تاریخي شالید	۲۴
- عالمګیر ادب	۲۷
- ډاکټر ترې، "پښتانه او مهاجرتونه"	۲۸
- د هېواد د ژغورنې لپاره ... (مرکه)	۳۳
- هیپاټایټس بي (روغتیا)	۳۹
- سیند په کوزه کې	۴۰
- د کمکیانو ګوربت	۴۱
- ښاپېرۍ زما همزولې	۴۳
- خوب پوهنه (خوبونه تعبیر)	۴۶
- شکورګلونه	۴۷
- برکتي ډوډۍ	۴۹
- د خوشال خان په دستارنامه کې د ایتونو او...	۵۱
- د واده انتخاب (طنز)	۵۲
- د لاس کرښې	۵۳
- کور کالي ډوډۍ	۵۴
- په زړه پورې معلومات	۶۰
- د محمد هاشم میوندوال د شهادت...	۶۱
- کور او پخلنځی	۶۲
- پیغامونه	۶۳
- مننه او کور ودانی	۶۴

ګوربت فرهنګي ټولنه
مشر : ډاکټر امان الله وردګ

ګوربت دوه میاشتینی خپرونه
مسوول مدیر : حفیظ الله غښتلی
مرستیال : احمد ویس وردګ
د ګڼونکې ډلې تر نظر لاندې

پته:
پېښور:

Gorbat
G.P.O Box # 388
Peshawar – Pakstan

اروپا:

Dr. Amanulla Wardag
30 Floyd Road
Charlton
London SE7 8AY
ENGLAND
Tel: 0044 795 7632135
Fax: 0044 181 8589667

استرالیا:

Shirsha Ghairat
52 Victoria Dirve
Thomas Town
Vic Australia

امریکا:

Latif J. Babi
331 Beach 31 Street
For Rochaway NY 11691
USA

د ګډون کلنۍ بیه:

افغانستان : ۸۰۰۰۰ افغانۍ
پاکستان : ۲۵۰ روپۍ
نوراسیایي هېوادونه: ۴۰ امریکایي ډالره
اروپا : ۴۵ امریکایي ډالره
امریکا او استرالیا : ۵۰ امریکایي ډالره
د یوې ګڼې بیه : ۲۲ روپۍ

د ګوربت فرهنګي ټولنې د مشر پیغام

د لوی خدایﷻ په نامه

ګرانو هېوادوالو!

د "ګوربت فرهنګي ټولنې" د لاړښودي شوراه په پرېکړه او غوښتنه مې ګران هېواد او اتلو هېوادوالو د خدمت یوه دړانه بار ته اوږه ورکوم، تر وروستي برېده به هڅه کوم، چې د خپل ګران ولس ښه خدمت وکړای شم؛ زه له ښاغلیو مشرانو په دړناوي هیله کوم، چې د تېروتنې پر مهال لاړښوونه راته وکړي.

ویارم چې د یوویشتمې پېړۍ د پیلېدو په لړ کې خپل اتل ولس ته یو فرهنګي خدمت کوم او دا فرهنګي خدمت خپل ولس او هېواد ته د یوه نېک فال په توګه نیسم. د رحمن خدایﷻ په ستر دربار کې هیله من یم، چې د یوویشتمې پېړۍ له پیلېدو سره سم به هېواد ته تلپاتې سوله راشي او ډېر ژر به د بیا ودانېدو چارې پیل شي.

"ګوربت فرهنګي ټولنه" په هېواد کې د فرهنګ د وړانګو د بیا غوړېدا په لړ کې خپلې هڅې جارې ساتي، په دې لړ کې مو له یوې دوه میاشتنۍ خپرونې تر څنګ لومړی ګام په ورډګو کې د یوه ستر کتابتون او څو خپرمه یېزو کوچنیو کتابتونو د جوړولو تابیا کړې، په همدغه لومړي ګام کې مو پتېیلې چې هېواد کې دننه چاپېدونکي ورځپاڼې، مجلې او رسالې یادو شویو کتابتونو ته پر وخت ورسوو، چې د ولس تر منځ د مینې او الفت رېښې غزونې وکړي.

ګرانو هېوادوالو!

موږ به تر ډېره کوښښ وکو چې خبرې لږ او کار ډېر وکړو، هغسې چې یو همغسې ځان وښیو، څه چې کوو، ملت ته بې د ګړه کتنې لپاره وړاندې کړو او تر ګړه کتنې وروسته راتلونکي تګلاره وټاکو.

د خبرو لمن رانغاړم او په پای کې بیا هم له دړنو مشرانو د لاړښوونې او غوره مشورو هیله کوو.

په ډېره مینه او ادب

ستاسې

ډاکټر امان الله وردګ

PROPERTY OF ACKU

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سریزه:

د ګوربت د وزرو غوړېدل
زموږ د شنه اسمان په څنډو کې یو نېک فال

"نړۍ ته د انسان له راتګ سره جوخت فرهنګ هم راغلی چې د انساني ژوند د پایښت او پرمختګ یو بنسټیز لامل دی، فرهنګ په انساني ذهن کې د انسانیت مینې، عاطفې، او الفت ډېوې بلوي، د تیارو لمنې څیري او وګړیو ته د ژوند تګلار او تګلوری ټاکي، فرهنګ هغه وسیله او وسله ده چې په اوسني پېر کې د انساني ژوند لپاره اړین برېښي او له فرهنګ پرته انساني ژوند ناشونی دی، ویښ ولسونه تل هڅه کوي چې د فرهنګ په وسله ځان سمبال کړي او د ژوندانه له هسکو ټیټو نه د تېرېدا او پر ستونزو د لاسبري لپاره یې د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه وکاروي، د یوه ولس لوړتیا، بری او ښه مرغي د هغه د فرهنګ په پانو کې ده."

په اوسني پېر کې په نړیواله کچه د افغانانو لپاره او په ځانګړي ډول په هېواد کې دننه د یو داسې خپلواک ملي، اسلامي فرهنګي یون ته اړتیا ده چې له څېرو نقابونه اوچت کړي، ولس ته ربښتیا ووایي، ولس د نوي پېر له پرمختیاوو خبر کړي، په ولس کې د شل کلن ناورین نه د افغانانو تر منځ د را ولاړې شوې کرکې، تعصب، کینې، مرګاو... پر ځای د مینې، الفت، او ورورګلویز ژوند چاپېریال را پیدا کړي.

ګوربت لاربښودې شورا د همدغسې یوه فرهنګي "تشیال" د ډکولو لپاره پتېیلې چې ټولنه جوړه کړي او دا ټولنه به یوه خپلواکه ملي په اسلامي اصولو ولاړه خپرونه ولري.

میاشت وروسته پر کائناتو د مهال (وخت) یوه نوې څپه راتلونکې ده، چې یوویشتمه پېړۍ بلل کېږي، چې د نړۍ ګڼ شمېر ولسونو یې د نمانځنې لپاره د ځانګړي جشن تیاري نیسي. ګوربت فرهنګي ټولنه هم د یوویشتمې پېړۍ د پیل په زېري کې د ګوربت وزرې وغوړلې.

د ګوربت وزرې په داسې مهال هېوادوالو ته غوړېږي چې له یوه لوري یوویشتمه پېړۍ را دبره کېږي او له بلې خوا مو پر ګران هېواد له هر لوري افتونه او بلاوې راکښته دي، ښووڼه او روزنه په ټپه ولاړه ده، ملي غرور مو [خدایؑ مه کړه] مات او ملي عنعنات مو ټپي شوي دي، ملي شتمنۍ مو لوټ شوې او هېواد مو وران شوی دی.

زموږ ځوان نسل او نوی کول په همدغسې یوه اتوموسفیر او چاپېریال کې راټوکېدلی چې هلته د قلم پر ځای ټوپک چلېدلی او د شپونکي د خوږې شپلۍ پر ځای پکې د توپ او ټوپک د ډز و ډوز انګازې تر غوږ شوي دي. نو په داسې یوه چاپېریال کې چې هلته د ملي - اسلامي مقدساتو، ملي عنعناتو او په لنډ ډول د انساني کراماتو د درناوي ځای نه وي هلته به نوی کول څه زده کړي.

په دغسې اتوموسفیر او چاپېریال کې له کشرانو سره د مینې، الفت او د مشرانو د درناوي پر ځای په کې له کشرانو سره کینه او د مشرانو سپکاوی دود شو، د ولس لوستي او نالوستي ګڼ شمېر وګړي مو په یو ډول رواني کینه لرونکیو ناروغیو اخته

شول، د مذهب، ژبې او ان د قوم په نامه پکې درزونه پيدا شول او د دغو شان تخمونو د کرولو هڅې وشوې او زموږ ځوان نسل يې پکې رابنکېل کړ. دا هڅې تر ۱۳۷۱ل کال راوروسته لا ګړندۍ او اورنۍ شوې چې د اور لوګي يې د افغانانو تر منځ انساني او افغاني خواکمن اړيکي تور کړل او دا سترې خواکمنې ستنې يې ورچولې، چې اوس يې تر يوه بريده د لوی خدایؒ په فضل مخه لږ څه ډب شوې ده.

کوربت فرهنګي ټولنه د يوې داسې فرهنګي ټولنې بنسټ دی چې څه له پاسه د دوو لسيزو اورنيو او فرهنګ وژنکيو جګړو له لاسه خاورې شوې فرهنګي شتمنۍ او مړاوې کېدونکي ځوان فرهنګي ځواکونه او استعدادونه له نور فنا وژغوري او يو ځل بيا په سباني سمسوربدونکي او سوکاله افغانستان کې د کارنده او فعال رول لرلو ته د ځوانانو هڅونه او روزنه وکړي.

کوربت به د ځوانانو د ملي روحي او ملي شعور د ژوندي کولو لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کوي، چې دا دی اوس ان شاء الله په دغه لار کې لومړی ګام اوچوو، کوربت ستاسې په لاسونو کې دی او لولئ يې. موږ به د ځپل وس تر وروستي بريده هېوادوالو ته په رښتينه توګه ځپلواک کوربت وړاندې کړو.

په لنډ ډول وبلای شو چې زموږ موخې به په دې ډول وي.

- په ټول هېواد کې له جنسي، مذهبي او ژبني توپير پرته د ښوونې او روزنې د دودولو لپاره هلې ځلې او په دې لار کې په خلاص مټ کار کول.

- نوی کول او ځوان نسل له نوې او پرمختللې تکنالوژۍ سره اشنا کول، نوی کول دې ته هڅول چې د هېواد په بيا رغاونه او پرمختيا کې معاصرې تکنالوژۍ ته مخه کړي.

- د افغاني کلتور ژوندي ساتل او وده ورکول.

- په افغاني ماشومانو او ځوانانو کې د ملي احساس او شعور را ژوندي کول.

- ملي يووالي ته د افغانانو د پاملرنې را اړول او په دې اړه جدي کار کول.

- د هر افغان په لنډ ډول د انسان درناوی کول او حقوقو ته يې پاملرنه.

- په دغو شل کالو کې چې زموږ ځوان کول (نسل) له زده کړې لېرې پاتې شوي د ټوپک او وسلې په ځنګ کې را لوی شوي او له پوهې او ملي احساس تش روزل شوي په يو ډول نه يو ډول د دغه تشيال ډکولو لپاره هلې ځلې. د وسلې پر ځای يې له قلم او کاغذ سره د مينې پيدا کولو کوښښونه کول.

- خلکو ته د دې حوصله او زغم ورکول چې د بل خبره واوري، غوږ ورته ونيسي او په خبرو کې له زغمه کار واخلي.

- د ځوانانو تر منځ د کينې، تعصب او بد نيتۍ پر ځای د مينې او الفت چاپېريال منځ ته راوړل.

- د نشه يي توکيو پر ضد مبارزه کول، د عام ولس په منځ کې د نشه يي توکيه د ناوړو او بدو اغېزو په اړه د پوهې منځ ته راوړل. بزګران دې ته هڅول چې د نشه يي بوټيو د کر پر ځای مېوه لرونکي بوټي، سبزي او نور ګټور بوټي وکري.

- د لرغوني او اوسني ادب د څېړنې، پلټنې او ښرازۍ لپاره هڅه او هاند کول.

- د افغاني فرهنګ د نوميالیو، ادبي فرهنګي څېرو، فرهنګي پېښو او آثارو په باب د ځانګړيو علمي غونډو او سيمينارونو جوړول.

- د ملي ورځو، ملي مشرانو او ملي خدمتګارانو د نمانځلو لپاره به ځانګړي جشنونو جوړول.

- د ځوانانو د ادبي او فرهنګي وړتيا او ځواکونو د روزنې، ودې او پرمختيا لپاره چارې برابرول.

- په بهر کې له افغاني فرهنګي ټولنو او وګړيو سره اړيکي ټينګول، په دې توګه به وکولای شو چې وخت پر وخت له هېواده لېرې مېشتو افغانانو سره هېوادنۍ مينه وکړو.

- ټولنه به په لومړي ګام کې په ورډګو کې يو ستر کتابون جوړ کړي، چې په څېرمه يېز (فرعي) ځانګې کې به هم کتابتونه پرانيځي. او د همدې کتابتون تر څنګ به دا لاندينۍ ځانګې هم فعالې کړي:

۱- د څېړنې ځانګه. ۲- د ولسي ادبياتو ځانګه. ۳- د ايجادي (تخليقي) ادبياتو ځانګه. ۴- د ژباړې ځانګه. ۵- د نړيوالو ادبياتو ځانګه. ٦- د داستاني ادبياتو ځانګه. ۷- د خپرونو ځانګه. ۸- د ارشيف ځانګه. ۹- د سيمه يېز موزيم ځانګه.

دا لړۍ به ورو ورو د ګران هېواد نورو ولايتونو ته غځول کېږي او ګام پر ګام به د دې لړۍ دا کړۍ پراخېږي.

هېواد ته د يوې ابدي سولې راستنېدو په هيله.

اداره.

استاد عبدالجلیل وجدي

د مذهب او تهذیب ډیرې زریزې

په همدې ځو شپو ورځو کې یو نوی کال، یوه نوې پېړۍ او یوه نوې زرکلنه دوره یا د لوېدیزوالو په ژبه مېلینیم (Millennium) پیلېږي. ورسره زمانه هم خپلې جامې بدلوي. د نړۍ بېلا بېلې ټولنې اجتماعي گروپونه او بین المللي موسسې لگیا دي چې د نوې زمانې په قدم او انداز برابرې جامې جوړې او د سوغات په توگه یې ورته وړاندې کړي.

مثلاً یونسکو غواړي چې نوې پېړۍ ته د سولې آبي رنگه جامې ور واغوندي ورسره د دې پېړۍ علمي وقار زیارت کړي.

تر ټولو عجیبه خبره خو لا دا ده چې په لندن کې د فلمي صنعت مینانو د یوې زرکلنې دورې له ټولو ښکلاوو څخه یو امېل جوړ کړی دی او هغه یې د هندوستان د یو فلمي ستوري امیتابچن په غاړه کې اچولی دی او دغه هنرمند د فنکار لقب ورکړی دی.

خو ټول خلك د خیالونو او هوسونو په نیلي سپاره نه دي. چې د هنرونو او صنعتونو رنگینۍ یې سترگې خیره کړي. له بله مرغه اوس هم زموږ په زمانه کې د هغو کسانو شمېر کم نه دی چې د علم او عرفان، عقل او حکمت ډیوې بلې ساتي، ځکه خو یوې شاگردې له دې امله غټ انعام یا لویه جایزه وگټله چې یوه بله پیلېدونکې زرکلنه دوره یې د عقل د ودې زمانه وبلله او په دې کار سره یې د راتلونکې ځوان نسل د هیلو، فکر او احساس ښه ترجماني وکړه.

په مقابل کې یې د اعلانونو او اشتهارونو لویو لویو ادارو له ډېرې مودې راهیسې هنگامه توده کړې ده او د هغو تجارتي او صنعتي کمپنیو د مالونو د خرڅلاو لپاره یې شور ماشور جوړ کړی دی چې خپل تجارتي یا صنعتي مالونه ورته له نوي مېلینیم سره زر یا الماس ښکاره کړي.

د نوي مېلینیم شور او ځوږ د سیاست او ډیپلوماسۍ په جهان کې هم لویې انگازې خپرې کړې دي او لویې لویې ولولې یې بوږنولې دي. هر هغه دولت چې ځان ورته سوپر طاقت ښکاري یا د سوپر پاور پېښې کوي، هڅه کوي چې نوې پېړۍ یا نوې زمانې ته داسې نوی نظام وړاندې کړي چې د دوی په اقتصادي یا نظامي ځواك دربدلی وي.

خو هغه په مذهب او تهذیب مین ملتونه چې تل قربانۍ ته چمتوالی لري، پاخه ایمان او پیاوړې مورال یې د لویو لویو ویاړونو خاوند کړې وي، غواړي چې نوې پېړۍ یا نوې زمانې ته د خپلو تازه زخمونو تر څنگ، د وخت د بوتانو یا د باطلو خدایانو د ماتولو نه هېرېدونکې خاطرې او نه فنا کېدونکې سپېڅلې نظریات وړاندې کړي.

دا چې له ښه مرغه د نوې پېړۍ لومړۍ میاشت یعنې جنوري د مبارکې روژې په عباداتو یا د اختر په خوشحالیو کې له موږ سره برخه اخلي، په راتلونکې زمانې کې د سپېڅلیو ارادو د کامیابۍ لپاره یو ښه فال بللای شو. د نوې پېړۍ لومړنۍ روژه امکان لري د (۲۰۰۰) کال د جنوري په لومړۍ نېټه یا د یو بل حساب له مخې د ۲۰۰۱م کال د جنوري په لومړیو لسو ورځو کې پیل شي. په وختونو کې دا ډول اختلاف له دې امله پیدا شوی دی چې د ځینو محققینو له نظره د نوي عیسوي تقویم یا جنترۍ اعداد د صفر پرځای د (۱) له رقم څخه پیلېږي، نو د دوی له نظره نوې عیسوي پېړۍ له (۲۰۰۱)م کال څخه پیلېږي.

دا مهمه نه ده چې لومړۍ خبره سمه وبولو او که دویمه، مګر د ټولو لپاره د منلو وړ حقیقت دا دی چې د ۱۹۹۹م کال د ډسمبر (۳۱) نېټه د شلمې پېړۍ وروستنۍ ورځ ده. له همدې ورځې نه وروسته د ټولې نړۍ په جنتریانو یا کلینډرانو او کمپیوټرانو کې د عیسوي سنې د ارقامو څخه ځلورم یا د کیڼې خوا څخه لومړی رقم د (۱۰۰۰) پر ځای (۲۰۰۰) ارزښت پیدا کوي. په دې صورت کې زموږ پام یوازې د یوې پېړۍ پېښنو او تحولاتو ته نه ورګرځي، بلکې د زرګونو کلونو یو اوږد او پراخ تاریخ هم د پاملرنې وړ ګرځي.

دا وخت زموږ په نړۍ کې داسې هېوادونه او ولسونه شته چې تېرې زرکلنې دورې ته د ډېر ستر تاریخي پړاو په نظر ګوري، زیات اهمیت ورکوي او د درناوي لپاره یې تیاریانې او ترتیبات نیسي. دلته د یادونې وړ ټکی دا هم دی لکه چې موږ یوې سل کلنې مودې ته پېړۍ، قرن، یا صدۍ وایو، هماغسې یوې زرکلنې تاریخي دورې ته (Milleunnium) ویل کېږي. غوره دا ده چې موږ د کار د اسانۍ لپاره په خپله ژبه د میلینیم لپاره اسانه او لنډه کلمه وټاکو بنایي "زریزه" ورته مناسبه اصطلاح وي.

په عیسوي دنیا کې د حضرت مسیح(ع) تر ولادت وروسته هره زرکلنه موده په خاصو توګه تعبیر کېږي. مثلاً په یوه زریزه کې لکه څنګه چې په انجیل کې یې پېش ګویي شوې ده، حضرت عیسی(ع) راښکته کېږي او د ځمکې پر مخ خپله واکمني جوړوي. په همدې ډول د داسې زریزې پیش ګویي هم شوې ده، چې په هغې کې به نېکمرغي او خوشحالي را روانې وي او عدالت به پکې چلېږي(۱)

خو په دې بهاره کې زموږ ارزیابي د واقعیتونو له مخه رواني دي نو موږ ته د لاس ته راغلیو نتیجو په اساس هم تر میلاد وروسته دوې زریزې او هم تر میلاد مخکې تقریباً ځلور زریزې چې د حق دین د وخت تمدنونو ته تهذیب وبانبه، خاص خاص اهمیتونه لري. که موږ د شا په لوري یو نظر واچوو او د تاریخ د لویې ګړۍ عقربونه په شا وګرځوو او په هره زرکلنه دوره یوه نښه ولګوو او په نښه کړل شوې دوره یو څه مطالعه کړو، نو بیا هره زریزه (Millennium) موږ ته د مهمو فکري او اجتماعي تحولاتو یوه مبدا رانښیي. مثلاً تر میلاد وروسته لومړۍ زریزه موږ ته هم په عمومي تاریخ، هم د اسلام په تاریخ او هم د افغانستان په تاریخ کې د مهمو تحولاتو یوه ډېره جالبه دوره را پېژني، چې د دې دورې غټ غټ مشخصات د جامدو او ژوندیو بتانو ماتونه له اساطیرو څخه د مذهبي عقائدو ازادي او جهل باندې دعلم بریالیتوب دی.

د نړۍ عمومي تاریخ ته یوه کتنه موږ ته را په زړه کوي چې په دې زریزه کې د شرقي دیانت او ثقافت د ودې او په خاصه توګه د پرمختګونو په نتیجه کې، د نړۍ په شرق او غرب کې د علومو اوفنو د احیا (Renaissance) پروسه پر مخ روانه وه، مسلمانانو د علم او عرفان ډیوې د نړۍ ډېرو تیارو ګوټونو ته رسولې وې، زموږ په ګران هېواد افغانستان کې زړونه او دماغونه د توحید په رڼا ښه منور شوي وو او لرغوني، غزني د یو لوړ فرهنګي ټاټوبي په توګه لکه د الماسو غمی هغسې ځلېده. په همدغه وخت کې زموږ د ملي ژبې پښتو د لوړو تصوفي او حماسي ادبیاتو د پټو خزانو لومړۍ بېلګې را څرګندې شوې وې.

تر میلاد وروسته دویمې زریزې چې نتیجې یې موږ تر سترګو لاندې دي، موږ ته تر ټولو لویې ویاړنې را په برخه کړې دي. که د انصاف تله د نړۍ د محققینو په لاس ورکړله شي، نو هغوی به د دویمې زریزې وروستنۍ پېړۍ یعنې شلمه پېړۍ د افغانانو پېړۍ وبولي، ځکه دغه مسلمان قهرمان او تاریخي ملت د دې پېړۍ په لومړیو لسیزو کې انګلیسي استعمار ته چې د چا خبره په قلمرو کې یې د ډېر پراخوالي په سبب لمر نه ډوبېده، ماتې ورکړه او د همدې پېړۍ په وروستیو لسیزو کې یې یو بل سوپر طاقت چې د نړۍ پر مخ نور استکباري طاقتونه ورڅخه په وېره کې وو، له پښو واچاوه او د نړۍ د تاریخ مسیر ته یې تغیر ورکړ. په دې معنی چې د شرق او غرب تر منځ سړه جګړه یې پای ته ورسوله او ورسره یې د درېیمې نړیوالې جګړې لپاره په رګونو کې په خوښ راتلونکې وینې یې سړې کړې.

موږ دا منو چې شلمې پېړۍ تر دې دمخه د اتوم د عصر د مخابراتو او مواصلاتو د پېړۍ د مصنوعي اقمارو الکترونیکي میډیا او کمپیوټر د زماني القاب او داسې نور نومونه او اوصاف ګټلي دي. خو دا ټول شیان د ازادۍ او خپلواکۍ هومره ارزښت نه لري، که ازادي او نور غوره انساني خصلتونه، نه وي نو دا ټول تخنیکي شیان د بشر او بشریت د غاړې زنځیر ګرځي. نو په هر لحاظ تر ټولو لوی او ویاړلی لقب د خپلواکۍ د علمبردارۍ لقب دی چې افغان قهرمان ملت ته په همدې پېړۍ کې دوه ځله په برخه رسېدلی دی. یعنې دغه ملت دوه ځله د نړۍ ټولو ملتونو ته دا ښودلې چې یو په ایمان مجهز ملت که څه هم د نفوسو په لحاظ کوچنی وي او مادي شتمنې هم و نه لري، د خپل مورال په مرسته لویو استعماري او استبکاري طاقتونو ته مات ورکړلای شي او سوپر پاور په صفر پاور بدلولای شي.

که څه هم افغانستان دحق اوباطل په دې لویه جګړه او لوی جهاد کې

۱- Oxford Advanced Learner, incyclopedic Dictionary,

هغومره ځاني او مالي زيانونه وليدل چې ممکن نورو ته په درېيمه نړيواله جگړه کې اوښتي واى، خو معنوي ويار او افتخار يې له مادي زيانونو څخه ډېر لوړ او زښته زيات ارزښتناك دي. که چېرې دغه زيارکښ ملت د خپلوقربانيو او ايثارونو څخه سم درس واخلي، له بې ځايه جگړو څخه لاس واخلي، نور د پرديو فتنه گرو خبرو ته غوږ و نه نيسي او د خپل هېواد د ودانولو جهاد هم په لوړه جذبه پر مخ بوزي، بيا نو په لنډه موده کې د دغو ټولو مادي زيانونو تلافي کولاى شي.

د تاريخ د هغو معاصرو څېړونکيو لپاره چې محتوى د غټو غټو تغيراتو سبب گڼي داسې يو حقيقت يقيناً ډېر په زړه پورې دی چې افغان مجاهد ملت په خپل قاطع نظر او عمل د کمونيزم په هغې نظريې د بطلان کرښه را وايستله چې ريښې يې په تاريخ کې ډېرې ژورې تللې وې، تر دې چې د لرغوني يونان تر فلسفي مکتبونو پورې غځېدلې وې. زموږ په عصر کې د دې نظريې پلويانو ډېره هڅه کوله چې يوه علمي نظريه وښيي، خو د زماني په لابراتوار کې تر تجزيې کېدو وروسته ثابته شوه چې په خپله د روسيې پوهانو په قول د خيالونو يو موزيم و. د شوروي اتحاد د کمونيست گوند يو ډېر جرار سرمنشي خروسچف چې د دغه هېواد تر ټولو واکمن سړی و، د خپل اقتدار په زمانه کې ويلي وو چې شوروي اتحاد به د شلمې پېړۍ په (۸۰) لسيزه کې د کمونيزم مرحلې ته رسېږي، ممکن نور محمد تره کي همداسې خوب ليدلی و، چې ويل به يې زموږ انقلاب دوې مرحلې پر مخ تللی، يعنې د فيوډاليزم او کاپيټاليزم نه يې ټوپ وهلی او نېغ سوسياليزم ته رسېدلی دی.

له افغانانو سره د شوروي اتحاد او مسکو پلوي سوسياليستي بلاك د جگړې په جريان کې د دوی د مالي او نظامي قوتونو د شنل کېدو سره سم د دوی په ايډيالوژۍ کې هم د تخريب پروسه پيل شوه، په دې توگه د دوی خپلو خوبونو د دوی په گټه تعبير نه درلود.

د دوی د توقع پر خلاف د (۸۰) پر لسيزه په اروپا کې هم چې د مارکس د نظره له کمونيزم د ودې اصلي مرکز او د دغې نظريې اساسي هدف و، د کمونيزم د نظريې لپاره قبر وايستل شو. يو فرانسوي نامتو ليکوال اندره زيد کله چې شوروي اتحاد ته ورغی، په شلمه پېړۍ کې يې يوه ډېره کرغېړنه بت پرستي وليدله، له همدغه امله يې مارکسيزم ته شا واړوله او د فرانسې له کمونيست گوند څخه يې استعفا وکړه، ده وويل: "زه په عيسويت کې له باطلو خدايانو په تېښته تېښته کمونيزم ته ورغلم، خو هلته باطل خدايان نور هم زيات وو، د لينن لويې مجسمې چې لس متره لوړوالی يې درلود، تر ټولو ناولې بت پرستي راوښودله."

د دغه نامتو ليکوال وينا موږ ته يو ډېر مهم ټکي په لاس راکوي او هغه دا دی چې له ډېرو خدايانو څخه ځورېدلي خلك بالاخره يو خداى ته تسلېمېږي او پناه ور وړي.

د اسلام معنى هم دا ده او د اروپايي کمونيزم د مکتب يو نامتو تيوريسن اوژه گارودي په همدې ډول اسلام د نجات وروستى لاره وبلله او د افغانستان دجهاد په انقلابي دوران کې مسلمان شو او د توحيد په عقيده کې يې هغه څه وليدل چې نورو زښته زياتو فلسفي او سياسي نظرياتوهغه په لاس نه شو ورکولاى.

له اسلام څخه د روژه گارودي او د ده په څېر د نورو مهمو شخصيتونو تاثرات او برداشتونه يوه په زړه پوري موضوع ده چې په خپل ځاى کې به وربانديې په تفصيل خبرې وشي. دلته زموږ د بحث اساسي ټکی د توحيد عقيده ده، چې د تاريخ په جريان کې ورڅخه يوه علمي او سياسي کليه او نظريه هم جوړه شوې ده، چې د شلمې پېړۍ مسلمانو مفکرينو په هغې کې د يوه غره سياسي او اجتماعي نظام هسته پېژندلې ده. دا کليه د هغو ټولو کليو په نسبت د ډېر عمر خاونده، جامعه او کامله ده چې اوږدو تجربو يې حقانيت او علمي حقيقت ثابت کړی دی.

دتاريخ په ټول جريان کې کله نمروديان او فرعونان د قدرت لوړو پوړيو ته رسېدلي دي او د خدايي دعوا يې کړې ده، نو د خپلې باطلې خدايي د ثبوت لپاره يې پر انسانانو ډېر زيات ظلمونه کړي او سخت کړاوونه يې پرې ور وستلي دي. د لرغوني بين النهرين څخه پاتې شوي تاريخي آثار همدارنگه د مصر اهرامونه او د هغو په څېر نور لرغوني آثار اوس هم د حال په ژبه دا حقيقت بيانوي چې دوی آثارو د ودانولو او جوړولو ډېر سخت او درانده کارونه چې نننی بشر هم ورته حيران دی، تر ډېره حده د مظلومو او محکومو انسانانو په بشري طاقت سرته رسېدلي دي چې د هغه وخت د استثمار يا استحصال ډېره ناوړه حالت بيانوي.

موږ منو چې د باطل لرغوني آثار، د مصر اهرامونه او دې ته ورته نور تاريخي آثار، موږ ته د تېرو مهمو لرغونو تمدنونو څېرې رابښيي، يا به ووايو چې د هغو مادي اړخونه راته څرگندوي، خو هغه څه چې د هرې زماني تمدن ته د تهذيب جمال او کمال ښښي، اسماني دين دی، چې هر خت يې خپلو پيروانو ته له باطلو او ظالمو طاقتونو سره د جهاد او مبارزې لوري او لارې ټاکلي دي. مثلاً د مصر اهرامونه موږ ته ښيي چې د لرغوني مصر فرعونان داسې پياوړي او مستبدين وو چې پر خلکو يې دا ډول

۵۵مخ

م. ش

ایا ولس د بقا وروستی چانس هم بایللی دی؟!

طالبان، مخالفین یې او د هېواد بحران

زموږ ګران هېواد افغانستان بیله شنکه چې په یوه ډېر خطرناک پړاو کې دی او د تاریخ د یوه ډېر بد بحران تل ته پرېوتی، څه د بهرنیو توطیو او څه د خپلو د جفاکاریو په نتیجه کې افغانان اوس ټول ځان پر ځان دي او د اختلاف او ځانځانی یوه بې سارې سیالي پکې روانه ده.

دې پوښتنو ته ځواب چې له دې بحران څخه د وتلو لاره شته او که نه او څه ورکېدای شي افغان ولس له روانې غمېزې څخه نجات ومومي اسانه نه دی، ځکه چې اوس د دې بحران عوامل ډېر زیات دي، چې د ټولو رفع کېدل هسې د خولې خبره نه ده.

موږ پخوا تر دې چې د حل پر امکاناتو وغږېږو، د افغان بحران عمده عوامل په لنډ ډول سره شمېرو:

لومړی- بهرنی لاسوهنې.

دویم- د شمال ائتلاف.

دریم- د طالبانو غورځنګ.

څلورم- د پخوانیي پاچا پلویان.

په دې کې شک نه شته چې زموږ د هېواد د روانو لانجو د جرړې ماشورې سر په بهر کې دی. د دې ټولو توطیو اوبه خور د افغان ولس تاریخي غلیمان دي، چې اوس زمینه ورته برابره شوې ده، د تعصبونو اور ته له بهر څخه لمن وهل کېږي، افغانستان د بهرنیو په تېره د ګاونډیو د ګټو د جګړې ډګر دی او په ډېره نامردانه لاره غواړي په سیمه او نړۍ کې افغان غیور ولس خپل مقام او حیثیت وبایلي، چې متاسفانه غلیم تر ډېره حده پر خپل دغه شوم نیت کې بریالی شوی دی، خو بهرنیو دښمنو حلقو ته بیا هم دغه فرصت داخلي هغو لوریو برابر کړی دی چې د نورو د مصالحو لپاره د خپلو ورونو وینې تویوې او جګړې جاري ساتي.

د شمال ائتلاف ځیني څېرې

په داخلي لوریو کې تر ټولو لوی د جګړې او بدمرغیو عامل د شمال ائتلاف دی چې احمد شاه مسعود یې محوري څېره ده، دغه ائتلاف د هېواد د ځینو تاریخي دښمنانو په ملاتړ د جګړې پر دوام زور اچوي. وسلې او پیسې راوړي او په همدې پردیو پیسو یوې داسې جګړې ته دوام ورکوي چې د هېواد سالمیت ته هرهشېبه ګواښ ده.

د بهرنی لاسوهنې یو څو څېرې

د شمال ائتلاف د جګړې د دوام لپاره څه جواز لري؟

ځواب دا دی چې هېڅ او چې بیا جګړه د پردیو په مرسته او حمایه وي، نو دغه ځواب نور هم روښانه دی.

د شمال ائتلافي مشران ادعا لري چې طالبان د پاکستان ملیشې دي او دوی په اصطلاح د هېواد مدافعین! خو واقعیت دا دی چې دواړو لوریو ته لږ تر لږه په داخلي سطحه خبره د اقتدار ده، چې هېڅ توجیه کېدای نه شي.

پر دې سربېره دویم لوری یانې طالبان هم د بحران د دوام عامل دی. طالبان ځکه د روان بحران د دوام مسوول دي چې دوی د ولس د مصالحو پر ځای هغه اشتباهات تکرار کړل چې د جهادي ګوندونو له خوا یو ځل پخوا تجربه شوي وو. طالبانو د هېواد د یوه لوی قوت په توګه ښه چانس لاس ته راوړ، چې هېواد بشپړ له یوې خطرناکې دسیسې څخه وژغوري او سالمیت او ملي وحدت یې تامین کړي.

خو د دوی د پېرزوینې او ایثار ځولۍ تنګه ده. دوی چې د کابل په شمول د هېواد په زیاته برخه خاوره واکمن شول، د حکومت او اقتدار پر خوږو واوښتل، دوی په همدې احساس فکر کوي چې کولی شي په یوه غورځي پاتې لږې برخې له مخالفینو څخه ونیسي او بالاخره خپل اقتدار د ډېر بد انحصار په چوکاټ کې د اوږدې مودې لپاره یقیني کړي. په داسې حال کې چې دوی په تېره میاشت کې له پوره تیارۍ سره پر تخار ور وختل، خو ناکام شول او تر هغو پخوا په شمال کې په یوه بدنامه جګړه کې دوی هم نظامي ماتې وخوړه او هم یې پر نېکنامۍ داغونه ولګېدل.

طالبان دې ته پام نه کوي چې د جګړې لوی عامل د افغان ولس د تاریخي بهرنیو دښمنانو لاسوهنې او دسیسې دي او تر څو په داخلي سطحه د یوه ملي سرتاسري جوړ جاړي امکانات برابر نه شي چې جګړه پرې ختمه شي د



پخوانی پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه په روم کې د افغان مشورتي کمېسیون د غړو په منځ کې

یوې ډلې که هر څومره زوروره هم وي انحصاري واکمني ناشونې ده.

د روان بحران یو بل عامل د پخواني پاچا پلویان، د پاچا په شمول دي، په دې ډله کې ټول هغه تشکیلات او افراد راځي چې د طالب او مخالفینو تر منځ تکر او جګړه د طالب او مجاهد د ورکېدو عامل ګڼي او دوی یې دوام ته ګوري ماتوي، دوی زیاتره پر دې باور دي چې دواړه ښکېل لوري به د جګړې په دوام هم کمزوري شي او هم بدنام او بالاخره به دوی ته ډګر تش پاتې شي، پخوانی پاچا هم په داسې خیال چې باید په افغانستان کې یو داسې څوک زور وي چې وسله یې

طالبان

پر اوږه وي او د ده مخالفت کوي، بیا دې په کوم هوایي ډګر د همایون ذات د هرکلي لپاره ترتیبات ونیول شي.

دا خو شول د هېواد په اړه د مختلفو ښکېلو لوریو دریځونه چې متاسفانه یو لوری هم نه شي کولی په دغسې شکل چې دوی یې تصور کوي د بحران د حل په باب اغېزمن واقع شي.

راځو دې ته چې افغانان څه کولی شي او کوم امکانات یې په لاس کې شته، که نه خدای مه کړه وروستي چانسونه یې هم بایللي دي؟

ځواب یې دا دی چې سره له دې چې ډېرې اوبه تر پله لاندې تېرې شوې دي، سره له دې چې ډېر فرصتونه له لاسه وتلي دي او افغانان په یوه ډېر بد ماتم اوښتي دي، خو د یوه ولس او بیا څو زره کلن لرغوني ولس بشپړ سقوط او زوال دومره اسانه هم نه دی.

دلته یوه تاریخي تریخ حقیقت ته اشاره کوم چې باید هسې شعاري خبره و نه کړو او اعتراف وکړو چې که خدای مه کړه افغانان نور هم په دغه حالت کې پاتې شول، د څو زره کلن لرغونتوب سره سره یې د زوال او محکومیت امکانات شته. د دغسې یوې تاریخي فاجعې مخنیوی د یوې ډلې، یوه لوري، یوه مشر او یا څو تنو او ډلو د وس خبره نه ده، په مجموع کې باید ټول افغانان د غفلت له اوسني خوبه راویښ شي، دوی باید درک کړي چې په یوه داسې مرحله کې دي چې د ورکېدو خطر یې دی، تر ټولو رومبی د بدمرغۍ خپلمنځنۍ جګړې لمبې باید سړې شي او نور پرې د تقدس تېل ور وا نه چول شي. که دغسې یو شعور را بېدار شي، د ولس د ژغورنې وروستۍ چاره پرې کېدای شي. خدای دې وکړي، هر افغان دغه خطر احساس کړي او خپل مسوولیت درک او تر سره کړي. ◆

سرمحقق زلمی هیوادمل

د ځوانو ژورنالستانو او لیکوالو روزونکی وجدي

موږ پوهېږو چې زموږ په هېواد کې د لیکوالو، ژورنالیستانو او هنرمندانو د حقوقو د دفاع او روزلو سرکاري اتحادیې هم ډېرې وروسته جوړې شوې او د ازادو فرهنګي ټولنو د جوړولو خو حتی پېنځلس کاله هم نه پوره کېږي.

د روانې هجري شمسي پېړۍ له لومړیو لسیزونه واخله ان تر ۱۳۷۱هـ ش پورې زموږ په هېواد کې د ځوانو لیکوالو، شاعرانو او ژورنالستانو د زیات مشق او روزنې وسیلې دهېواد د مرکز او ولایاتو خپرونې وې.

که به ددې خپرونو چلوونکي او یا په اخبارونو او مجلو کې نور واکوال ښه خلك وو، نو له ځوانانو سره به یې لیدل او دوی به یې لیکنو، شعرونو او یا د خبري او ګزارشي مطالبو تسهیې ته هڅول. لیکنې، شعرونه، ګزارشونه او ترجمې به یې ورسمول، خو خینې به بیا داسې هم وو چې ځوانانو ته به یې موقع نه ورکوله. موقع خو لا څه چې لیدل به یې لانه ورسره او له دروازې به جوابېدل.

خنګه چې اوس هم خینې ناشران وایي چې زموږ اخبار یا مجله خو د مشق تخته نه ده، چې واړه ماشومان پکې مشق وکړي، خینو پخوانو دغسې هم عقیده درلوده. موږ باید په صراحت دا خبره وکړو چې دا ډول ذهنیت نه یوازې دا چې سم نه دی، بلکې د ځوان نسل د روزنې په وړاندې یو ډول بې مسوولیتي هم ده. که اوسنې ټول لیکوال او ژورنالستان چې د خپرونو چلوونکي دي، د خپلې لیکوالۍ لومړنۍ

ورځې ور په یاد کړي، نو به خپله ورته د دې احساس وشي چې دنویو لیکوالو او ژورنالستانو د روزنې لپاره باید د خپرونو څه برخې مشق ته اختصاص کړي.

تر دې مقدماتي خبرو چې ور تېر شو، را به شو، تجربه کار ژورنالیست او لیکوال بناغلي عبد الجلیل وجدي ته چې ده د خپلو رسمي کارونو په

دروان کې له ځوانو لیکوالو او شاعرانو سره څه ور چلند درلود؟

عبدالجلیل وجدي زه له هغه وخته پېژنم، چې دی په هېواد ورځپانه کې د تدقیق مدیر و. غالباً ۱۳۵۰ هـ ش کال و، ما یوه مقاله لیکلې وه، زړه نازړه مې د هېواد ورځپاڼې په دفتر کې چا ته وسپارله، او دا مې ورته وویل چې دا لیکنه وجدي صاحب ته ورکړي او زه ژر ترې بېرته راووتم.

وروسته تر دې به مې هر مازیګر د هېواد ورځپانه کتله، هېواد ورځپانه مازیګرنۍ وه، چې زما مقاله یې خپره کړې او که نه؟

یوه ورځ مازیګر مې په پل باغ عمومي کې په بېړه د اخبارونو له پلورنځي نه د هېواد د هماغې ورځې ګڼه را واخیسته، ګورم چې په شپږم مخ کې یې زما مضمون خپور کړی دی.

بله هفته مې نو جرات زیات شوی و، بله مقاله مې لیکلې وه او مخ په مطبعې پلې روان وم، هغه وخت د مطبعې مخې ته ښاري بسونه نه تېرېدل، ګورم چې د کارتوګرافۍ د موسسې تر خنګه وجدي صاحب را روان دی ښار ته راځي. د معدن او صنایعو د وزارت تر شا زه ورسره مخامخ شوم، سلام مې ور واچاوه او ځان مې ور معرفي کړ، سملاسي یې راته وویل: "هېواد ته هغه فلانۍ مقاله تا رالېږلې وه؟" ما ویل: هو.

ده زما د هغې نیمې، نیمګورې او ډېرې ابتدایي مقالې دومره تعریف وکړ، چې زه یې خپله اریان کړم، ما ته یې وویل هر وخت لیکنې راوړه.

د وجدي صاحب دې برخورد دومره خوشحاله کړم، چې په جامو کې نه ځایېدم. له هغې ورځې د وجدي صاحب او زما پېژندګلوي سره وشوه، تر هغې وروسته چې دی د هېواد د ورځپاڼې مشر و، که د پښتو انکشاف د

موسسې مشر او یا د ګردیز د اطلاعاتو او کلتور او بیا بېرته د هېواد د اخبار عادي غړی په دې ټول دوران کې ما له دوی سره نژدې روابط درلودل.

د هېواد په ورځپاڼه کې که د تدقیق مدیر و، بیا معاون او سرپرست ما به هره ورځ دی په مطبعه کې لیده، د حروفچینۍ په ځانګو، صفحه بست او خپل دفتر کې ځوانان پر راټول وو، ځوانانو ته یې د خبرنګارۍ ګزارش لیکنې او د تبصره لیکنې په برخه کې ځانګړې لارښوونې کولې. د دوی د استعداد تبارز ته به یې زمینه برابروله.

سربېره پر هغو ځوانانو چې له ده سره به یې کار کاوه، د پوهنتون د محصلانو او د لیسو د زده کوونکیو په ډلو کې د استعداد خاوند ځوانان به یې هم هڅول. شعرونه، لیکنې او ګزارشونه به یې ور چاپول. په اخبار کې یې د ځوانانو ځانګړې صفحه هم وه، د ښځو هم. ده غوښتل چې اخبار ډېر لوستونکي پیدا کړي، په همدې نیامت یې زیار ایست چې د اخبار په خپرونو کې ابتکار وکړي. دلچسپ او د هر چا د طبعې او مزاج مضامین پکې خپاره کړي.

ښه مې په یاد دي چې پر ۱۳۵۵هـ ش کال د وجدي صاحب په ځانګړې هڅه او ابتکار [جمهوري پلوشه] نومې مجله د پښتو انکشاف د ادارې له خوا خپره شوه. په دې مجله کې هم د وجدي صاحب دا هڅه وه چې د ځوانو لیکوالو مضامینو ته زیاته برخه ورکړي. د مجلې مسوول مدیر به یې هم هڅاوه چې ځوانانو ته زیاته موقع ورکړي.

لنډه دا چې وجدي د خپل کار په ټولو مراحلو کې د ځوانانو پر استعدادونو باور درلود او د دې استعدادونو د غوړېدو لپاره یې چې څه په واك کې وو، هغه یې نه سپمول.

وجدي صاحب د خپل دولتي کار له لومړنیو مراحلو نه دا زیار ایست چې خپله علمي سویه لوړه کاندي، له مطالعې سره یې مینه درلوده، د اخبار چلونې د نویو مهارتونو د زده کړې لپاره یې د ژورنالیزم ځانګړي کورسونه تعقیب کړي وو او د ژورنالیزم او عملي ورځپاڼه لیکنې په باره کې به یې چې څه آثار پیدا کول هغه به یې مطالعه کړل.

ده خپلې تجربې له نورو سره شریکولې، هغه څه به یې چې زده کړي وو، هغه به یې د کار په ساحه کې نورو ته هم ښوول.

دې سره له دې چې یو تکړه ژورنالیست، ښه تبصره لیکونکی او د خپل وخت د اوضاعو ښه تحلیلګر و، له پښتني فرهنګ سره به یې خپله ژوره مینه پاللله. له فوکلور سره یې مینه وه او ډېر کسان یې هڅول چې د خپلو سیمو فوکلور په واقعي شکل یې لاسوهنې را ټول او د چاپ لپاره یې ورځپاڼو او مجلو ته وسپاري.

ده په علمي بین المللي سیمینارونو کې هم ګډون کاوه. عملي مقالې یې هم لیکلې، دی د بایزید روښان د بین المللي سیمینار غړی و. د روښانیانو روښانه ملي لار په نامه یې یوه مقاله ولیکله او یوه رساله یې هم د روښانیانو د نهضت په ارتباط وکښله، چې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا خپره شوه.

په وروستیو دوو پېړیو کې د پښتو د چاپي آثارو نړیوال سیمینار د پښتو انکشاف د ادارې له پخوا هغه وخت جوړ شو، چې وجدي صاحب یې مشر و، د دغه سیمینار په مناسبت د هېواد د ښېلا ښېلوموسسو تر ډېرشو زیات پښتو کتابونه چاپ کړل. د سیمینار غونډې کابو یوه اوونۍ د کابل په انترکانتیننتال هوټل کې روانې وې. ډېرو داخلي، خارجي او د پښتونخوا پوهانو پکې برخه اخیستې وه. د دې سیمینار منشي او مهتمم ګویا وجدي صاحب و.

له علم او زده کړې سره د ده مینه هغه وخت ما ته لا ثابته شوه، چې دی د پښتو انکشاف د ادارې مشر و، خو هر مازیګر به امریکن سنټر ته روان و او انګریزي به یې زده کوله. د ډېرو تنکیو ځوانانو سره به یې په صنف کې ناست و او زده کړه به یې کوله او انګلیسي تر دې حده زده کړه چې کله دی مهاجر شو، نو د انګریزۍ زده کړې ورسره د کار په پیدا کېدو کې ښه مرسته وکړه، دا وخت ده له انګریزۍ نه ښې ترجمې کولای شوې.

وجدي صاحب د مهاجرت په دوران کې د انګریزي زده کړه تر دې حده ورسوله چې خبرې، ترجمې او په انګریزي یې لیکل کولای شول.

پر ۱۹۹۵کال زه او ښاغلی ظاهر بابري کوټې ته تللي وو، یوه غرمه د وجدي صاحب لیدو ته ورغلو، د بېرته ستنېدو په وخت کې یې د خپلو پښتو مقالو او نوشتو تر څنګه خپله یوه لیکلې انګریزي مقاله هم راکړه چې یې "The WUFA" نومې مجلې ته د نشر لپاره وسپارم. کله چې مونږ بېرته پېښور ته راغلو، انګریزي مقاله مې د "The WUFA" مدیر دوکتور فضل الرحیم مروت ته وسپارله او بله ورځ مې هسې د ازمېښت لپاره له دوکتور مروت نه پوښتنه وکړه چې د وجدي صاحب مقاله دې ولوستله، هغه راته وویل، هو! ما یې وپوښتل: څنګه وه؟ هغه راته وویل: هم د موضوع له مخې ښه مقاله وه، تحلیل یې ډېر د کار و او ژبه یې هم خورا ښه وه. دوکتور مروت زیاته کړه، ډېرو افغانانو چې حتی په امریکې کې یې زده کړې کړې دي، د هغو انګریزي لیکنې او ترجمې ما نه دي چاپ کړي، دا ځکه چې نه یې ترجمه سمه وي او نه یې لیکنه، مګر بالمقابل د وجدي صاحب هغې په معیار برابر راوختله.

په دې کې شك نه شته چې وجدي صاحب سیاسي تمایلات هم درلودلي دي، خو دا تمایلات نه شرقي او نه غربي وو، یوازې ملي تمایلات وو، چې له هېواد او خپلو خلکو سره د ده له ژورې مینې څرګېبدل.

وجدي صاحب د خپلې ملي لارې د پاللو لپاره هم قلم چلولی دی، ډېرې په

پاتې په ۱۸مخ کې

شهرت ننګيال

بودا او مولانا

د دغو ليكنو لړۍ مې د پښتونخوا له يوې ځايي ورځپاڼې سره پيل كړې وه، خو چلوونكي يې د لاټديني ليكنې خپراوي ته تينګ نه شول، دا دى اوس د "ګوربت" همت پرې ازمويم، ګوندې وي چې د زهرو دغه غوړپ تېر كړي.
ننګيال

خبر دى چې مولانا فضل الرحمن او جنرال نصير الله بابر د پښتونخوا تورپكيانو ته منځ د سولې د هڅو تر پردې لاندې له افغانستانه د بودا مجسمه قاچاق كړې او په لس مليونه ډالرو يې پلورلې ده.

كله چې ښاغلى مجددي د مشال جمهور رئيس په نامه د پېښور ترون له مخې كابل ته ورسېد، ښاغلي نواز شريف كابل ته په خپل بهرني سفر كې د لسو مليونو ډالرو يو چك مجددي ته د نېك نيتى او عاجلې مرستې په نامه وړاندې كړ. پر دغه چك وروسته ډېر جنجالونه جوړ شول مجددي صاحب دغه مرسته لكه د وسلو سهميه خپل حق او برخه ګڼله، چې نواز شريف ګڼې دغه چك د ده له بركته وركړى، رباني صاحب هم پرې سترګې سرې كړې او د مور شيدې يې بللې. خو ښاغلي سردار روښن ښه و، د دواړو په وړاندې ودرېد، چې د دغه تېښګار له امله د اسلام اباد له سفارت نه لاس مينځلو ته اړ شو.

ښه شوه چې د بودا مجسمه د پاكستان د لسو مليونو ډالرو د پور جوګه وګرځېده، كه نه نو د سيال خواره يا پور وي، يا پېغور. په پېغور دغه پور او كې خو نژدې زموږ هر څه ګرو شوي وو، ګرو څه چې د بيع بات انديښنه يې هم شته. دا چې د بودا مجسمه څنګه دغو دوو محترمو شخصيتونو قاچاق كړه، په زړه پورې بحث دى.

مولانا صاحب خو د بېنظيري په حكومت كې افغانستان ته د ډيزلو د پرمټونو له امله په "ډيزل رحمن" مشهور شو. چې دا دى اوس يې د [بت فروش] لقب هم وګاټه. كه نه نو مرحوم مفتي محمود صاحب خو دومره فقيرانه ژوند تېراوه چې كله وفات شو، جنرال ضياء الحق يې جنازې ته ورغى، نو كېناستو ته يې مولانا بجلي ګر خپل څادر وغوړاوه.

سره له دې چې مفتي صاحب د صوبه سرحد مشر وزير پاتې شوى و، خو له دې سره بې بيا هم لاس له زرو ډك نه شو. د افغانستان ربړه ډېره بركتي ده، دا اوس چې د افغان مهاجرو په كټمنړۍ كې د ملياردونو روپيو د غبن دوسيه راپورته شوې، د پښتونخوا اعلى وزيرانو په ګډون ډېرو لويو ويو افسرانو پكې خپل تش جېبونه ډك كړي دي، تر دې چې د ايالتي شورا د غړو د ملاتړ تر لاسه كولو لپاره هم د افغان

۵۶مخ

پوهندوی عبد الخالق رشيد

پښتو ژبه
يوه ملي او فرهنګي اړتيا

يوه مختصي يادونه:

تېر کال (۱۹۹۶) د هندوستان په اتراپردېش، د رامپور په ښکلي ښار کي هلته چي کلونه، کلونه د پښتنو نوابي، تېري شوي او د روهيلکنډ تاريخي وياړونه يې تر اوسه د هند اوچتيا څرګندوي، د فارسي ژبي نړيوال کنفرانس جوړ شو و. دغه غونډه د هند د خپلواکي د پنځوسمي او د رامپور رضا کتابتون د دوه سوه يمي کاليزي په درشل کي جوړه شوي وه. په دغه نړيوال کنفرانس کي د ټول هندوستان د فارسي ژبي استادانو، د ايران، ترکيي، بنګله دېش، ترکمنستان او د افغانستان استازيو پوهانو او فرهنګيانو ګډون کړی و، د افغانستان د استازي په توګه په دغه غونډه کي د "علامه حبيبي او فارسي ژبي ته د ده خدمتونه" پر موضوع باندي ما مقاله ولوسته. د استاد د معنوي برکت له امله دغه مقاله د نوموړي کنفرانس په ترڅ کي په هغو مقالو کي راغله چي وستايل شوه او ګډون کوونکيو په ډېرو ښو احساساتو بدرګه کړه. د دغه کنفرانس په ترڅ کي د ايران تر ټولو زياتو ليکوالو ګډون کړی و، چي په سر کي يې د ايران نامتو څېړونکي استاد جعفر شهيدي هم و. هغه چي استاد له نږدې پېژانده او د هغه له آثارو سره اشنا و، په دې نظر و چي: "استاد حبيبي علماً په شلمه پېړۍ کي د فارسي ژبي هغه خلا ډکه کړه چي د فارسي ژبي د کلاسيکو او زموږ تر منځ واقع شوي وه".

له ايراني ليکوالو سره په خبرو او بحثونو کي ما يوه بله ډېره جالبه خبره دا هم را برسېره کړه چي د دوی د پوهانو او رسمي پاليسي يو د اختلاف ټکی دا دی چي چارواکي يې غواړي، په فرهنګي او ژبني لحاظ دومره ځان اوچت او واکمن وښيي چي ان په ژبني لحاظ هم چي څه په فارسي ژبي پوري اړه لري، هغه د خپلي لوړتيا غوښتني تر ټول د "ايران" ارزښتونه وبولي. يوه استاد په ډېره خواشيني سره دا راته وويل چي: "موږ د افغانستان په اړه اوس پر يوې سياسي دوه لاري باندي ولاړ يو، يو دا چي موږ فکر کوو چي فارسي يوازي د ايران ژبه ده او له ګاونډيو هېوادو څخه يې تغير ورځ په ورځ په ټولېدو دی چي ډېر ښه او لومړنی مثال يې هند دی، په افغانستان کي هم فارسي د اکثريت ژبه نه ده، ځکه ورته اميدوار نه يو، کېدای شي يوه ورځ هلته هم د فارسي ژبي برخليک همهغه د هند برخليک شي. لکه چي هندوانو د پارسي په وړاندي انګريزي او هندي ژبي الترناتيف کړي، همداسي په افغانستان کي د پارسي الترناتيف پښتو ژبه په ښې ساري توګه د ودې په حال کي ده. دويم دا چي زموږ د سياسي ټولنو لوړتيا غوښتنه او د پارسي ژبي هر څه د ځان بلل په خپله د پارسي ژبي لپاره قبر کيندل دي. زه پر دې باور لرم چي د پارسي ژبي په برخه کي د افغانستان ونډه هم اوس او هم د تاريخ په اوږدو کي انکار نه کېدونکی حقيقت دی".

پورتني خبره زما لپاره له څو پلوه د پاملرني وړ شوه؛ يو دا چي دا د يوه عالم نظر و. هغه چي د ژبي، فرهنګ او فرهنګي ارزښتونو په اړه لکه سياستمداران داسي وچ فکر نه کوي. بل دا چي که ايرانيان په رښتيا هم د فرهنګ غصبولو چاره د ځان کړي او دې ته خوشحاله وي چي زر زر پارسي

له نوري نړۍ راټوله شي او زموږ مال وګټل شي او هر څه چې د تاریخ په اوږدو کې دا ژبه لري هغه هم د دوی شي. زه فکر کوم چې دا عمل به له یوه خانګړي عکس العمل سره مخامخ شي؛ هغه دا چې که په افغانستان کې پارسي ژبه په تمامه مانا له منځه ولاړه شي او د هند پر برخلیك اخته شي، دا به د افغانانو د تولو نسلونو لپاره تر اوسني حالت په ځو ځو ځلې په زیاته اندازه ګرانه پرېوزي، دا به د افغانانو لپاره د منلو وړ نه وي، چې د نړۍ د اوچت فرهنګ یوه مهمه او ارزښتناکه برخه دې بې ښه او بده له لاسه ورکړي.

مانا دا چې دا د ایرانیانو بې بنسته قضاوت دی چې دوی فکر کوي د پښتو ژبې پیاوړتیا به د دې سبب شي چې د فارسي ژبې جرړي له افغانستان څخه وړوزي او هر څه به لکه چې "فارس" یې په "ایران" واړاوه، د خان ویولي. خو افغان پوهان پر دې باور نه دي ان که دا پارسي ژبه د چا خبره مات لاس هم شي نو دا به یې په غاړه کې پرته وي او د سیمې د ملي او تاریخي سیالۍ او ارزښت له مخې به اهمیت ورته ولري.(۱).

پښتو د یوه اوږده تېر مهال پر کودر
(یوه نوې نظریه)

د تاریخي او ژبنیو اسنادو له مخې، د اوسنیو پرمختللیو څېړنو او عیني واقعیتونو له مخې دا ټکی باید ومنو چې پښتو د اسیا له هغو مهمو ژبو څخه ده چې د شتوالي تاریخ یې د اسیا په یوه ډېر مهم، لرغوني او تاریخي قوم (پښتنو، پټانانو، افغانانو) پورې اړوند دی. دا چې له بدمرغه د ده قوم د اند و ژوند سر رښتنه د ژوند په یوازیني او پرله پسې لړۍ (جګړې) پورې تړلې وه، دوی د دې لپاره چې فکر وکړي، ولیکي، ووایي، او واوري، ډېر لږ وخت پیدا کړی دی او له هغې لږ وخت څخه یې دومره ګټه اخیستې ده، چې دا ژبه یې پاللې او د هغه لپاره یې دا مبارزه کړې چې باید ژوندی پاتې شي او تر ننه پورې دې د پښتنو له سرکښ کاروان سره غړونه او رغونه ووهي. پښتو ژبه له نن څخه نږدې دوره زره کاله دمخه په اسیا کې د یوه ژوندي او "مدعاوالا" قوم ژبه وه او د دغه قوم د مادي او معنوي ارزونې او ویاړونو ژوند او ښېښلیك پرې څرګندېده. سربېره پر دې نن سبا هندي پوهان دا خبره بې شکه مني چې د هندي فرهنګ او کلچر په سرچینو کې پښتانه، د هغوی فرهنګ او د هغوی فرهنګي هلې ځلې یو د پاملرنې وړ څېرکی جوړوي. د دې خبرې د اثبات په خاطر په سلګونو سرچینې له سانسکریتي دور څخه بیا تر ننني عصر پورې زموږ په واك کې شته دي، کله چې د هندي فرهنګ په لرغونو سرچینو کې پالي (Pali) ژبه او ادبیات څېړو، په مستقیمه او نامستقیمه توګه له پښتو ژبې، او پښتني لرغوني فرهنګ سره خپل اړیکې ساتي، د بېلګې په توګه پالي ژبه لکه پښتو ژبه بډای فوکلور لري چې په ډېرو برخو کې له پښتو فوکلور سره ورته والی او یو رنګي لري. بله دا چې پالي د بودایي دورې د مذهبي تعلیماتو په خورولو کې د پاملرنې وړ برخه درلوده او ډېر پخواني آثار په کې "د ملندا پښو او ناګه سینا" پوښتنې او ځوابونه دي چې پوهان وایي هغه لومړی ځل په "زړه پښتو" کښل شوي.(۲) چې ژباړې یې اوس په پالي، برمایي او نورو ژبو کې د بودایي مذهب د پلویانو د درنا وي وړ دي.

همدارنګه سانسکریت ژبه چې د هندي فرهنګ له معتبرو سرچینو څخه ګڼل کېږي او د دغې ژبې په سمونه او ګرامر لیکنه کې د پاڼي نې (Panini) نوم نه هېردونکی دی. د هند د فرهنګ څېړونکي او پوهان او د (Feeders of Indian Culture) لیکوال خو په ډاګه دا د هند د کلتوري جوړښت تر څنګ لیکي چې: تر هر څه دمخه پر دې باید باور وو چې رازونه هېڅکله هم روښانه او په میدان نه دي، هغه باید په ژورتیا سره وڅېړل شي. دا روښانه او له شکه وتلې خبره ده چې د دغې ژورتیا یو اړخ په پخوانو پورې اړوند دی، بل هغه چې مخکې له مخکې د هغو کسانو له خوا چې د هېواد د مینې غم نیولي او په شوونستي توګه هڅه کوي د هند د خلکو پر هندي والي (Indianisation) باندې خپله پاملرنه راوګرځوي، خو دا به ډېره ګرانه خبره وي چې دوی یې سپینه کړي او یا دا ګوله په اسانۍ تر ستوني تېره کړي، د مثال په توګه د سانسکریت لوی عالم او ګرامرپوه پاڼي نې (Panini) که څه هم براهمن یادېږي خو له اره د ایران (اریانا) اوسېدونکی یوسفزی پټان دی، نه د هندوستان...(۳)

د پاڼي نې (Panini) د پښتون بللو په اړه نور څرګند شواهد په خپله د ده لیکنې دي، د ده په اثارو کې هم د پښتو کلمو څرك او شتوالی د نوموړي عالم خبره د حقیقت پر کرسۍ کښېنوي، په "انبت ادهیایي" نومي اثر کې یې زیاتې پښتو کلمې راغلې او په ډاګه شوې دي.(۴) دا خو د پاڼي نې په باب خبره ده چې موږ د هغه د پښتون بللو ادعا کوو او د پوهانو پر پلو باندې ګامونه ږدو، یوه بله جالبه خبره چې هغه هم د پاڼي نې پښتون بلل تاییدولای شي دا ده چې د هند په جنوب کې چې کوم د راوسدي تمدن وده کړې او اوسنۍ تاملي ژبه یې پخوانۍ نښه ده، پوهانو په دې باب کښلي، د تاملي ژبې کوم ګرامر چې تر میلاد مخکې لیکل شوی د هغه لیکوال هم اصلاً د هند له شمال څخه جنوب ته تللی او هلته یې دا ګرامر بشپړ کړی دی.

"د دوډیزې دنیا له مخې د تاملي ادب لرغونتیا تر میلاد دمخه ۲۵۰۰ کالو ته رسېږي، خو د شتو اسنادو له

مخې یه دغه ژبې کې تر میلاد دمخه (۱۰۰۰) او زاړه اسناد شته دي. په لرغوني جنوبي هند کې درې علمي ټولنخې یا اکاډیمۍ (Songams) د زاړه مدورا کپادا پورم (Madura Kapada Puram) یا اوسني مدورايي (Mudurai) په ښار کې وو. د لومړۍ اکاډیمۍ له ډېرو نامتو غړیو څخه یو اګاستیا (Agastya) و، چې د اګاتیام (Agathiam) په نامه یې د تاملي ژبې لومړنۍ ګرامر ولیکه. وایي چې دی د هند د شمال یو آرین مبلغ و، چې د ویدیک (Vedic) مذهب د خورولو لپاره جنوبي هند ته راغلی و. د هغه دولسو پلویانو یو زیات شمېر رسالې او مقالې د ګرامر، موسیقۍ، نڅا او نورو په برخو کې لیکلي دي. د دغو رسالو یوه د تولکاپ پیم (Tolkappiam) په نامه یادېږي، چې تر میلاد دمخه د (۱۰۰۰) کال په شاوخوا کې لیکل شوې او تر اوسه شته ده..."(۵)

کله چې دا ټولې خبرې سره راغونډوو، نو په پای کې یې دا ویلای شو چې پاڼيني که له یوې خوا "یوسفزی پښتان" دی، نو له بلې خوا د پښتو ژبې یو پخوانی دودیال او لیکوال هم دی، چې پښتو ژبه یې د هند ډېرې مهمې او لرغونې ژبې سانسکریټ ته ژباړلې... ښکلې زده وه او شاید چې لیکنې یې هم پرې کړې وي. د پاڼيني په باب د پوهانو دا ډول نظریات او شواهد دا ټکی هم تاییدوي چې د ملیندا پنهو (Milindapanha) او ناګه سینا (Nagasena) پوښتنې به بې شکه په "زړه پښتو" لیکل شوې وي.

لکه چې پر داسې ټکو باندې تر اوسه هم پر دې پرتې دي، دا ډول په سلګونو نورې سرچینې هم شته چې د هغو په ترڅ کې دا په ډاګه ویلای شو، چې زموږ د ادب او فرهنګ د لرغوني ودې په اړه د هندي ادب او فرهنګ څېړنه یوه حتمي اړتیا ده، ځکه که موږ د هندي ګډ فرهنګ (هندي آریايي)

مختلف اړخونه په دقیقه توګه راوسپړو او ویې لولو د هغه په مرسته زموږ د تاریخ او فرهنګ ډېرې تیارې روښانه او ډېرې نورې ربښتیاوې رابرسېره کېدای شي. سربېره پر دې دا هم ویلای شو چې پښتو ژبه او پښتني فرهنګ که له یوې خوا د داسې وړتیاوو لرونکي دي، نو له بلې خوا د اسیا د فرهنګ د یوه مهم توک او مهمې ژبې په توګه د یوې روښانه راتلونکې په لور هم د ودې او پرمختګ په لور اوچت ګامونه اخلي.

پښتو د اوس مهالي یون پر پېچومي اوړي
(وده، اړتیا او غوښتنه)

لومړی: ملي هویت، ملي ژبه:

افغانستان نن سبا د اسیا په زړه کې د نویو اقتصادي او ټولنیزو بدلونو په درشل کې دی او یو ځل بیا دا لرغونی هېواد داسې فکر کېږي چې د "وریښمو د لارې" د زړه ټاټوبي پر ځای په اوسني عمر کې له نوې وړتیا سره مخامخېږي. کله چې دغه هېواد له دغو نویو اړیکو سره مخامخېږي، په دې کې شک نه شته چې زموږ هېواد د وریښمو له لارې د تاریخي شیبو په اندول په ټولنیز لحاظ له خواره واره والي څخه په امن شوی او یوه موټی شوی دی، ځکه نو د هغه وخت په اندول اوس د دغه ملت د فرهنګي او معنوي ودې هم اړتیا زیاته شوې او هم یې د خلکو شعور دې ته تیار شوی چې په دغه برخه کې باید رغنده ګامونه اوچت کړي. افغان په اسیا کې اوس د یوه واحد "ملت" په نوم دی، چې د خپل هویت د لاسمیالتیا په خاطر د واحدو ارزښتونو، ټولنیزو موسسو او "واحدې ژبې" د ټاکولو او اړتیا خبرې اوس تر بل هر وخت ورته مهمې او د پاملرنې وړ دي، چې په دغه ترڅ کې د دغه ملت غوښتنو ته د نورو ژبو په اندول "د پښتو ژبه" ملي او فرهنګي دریځ غوره کولای شي. نن سبا په ټولو اسیايي هېوادو کې د دغو هېوادو خلک که له یوې خوا یو ملت یادېږي، نو د دغه ملت د شتوالي او ملي جوړښت تر ټولو ښه هنداره د هغه ملت ژبه ده. هغه ژبه چې د ملت د ډېرکي ژبه وي، د ټول ملت د ملي هویت څرګندونه باید وکړي. زه فکر کوم چې د نویو ټولنیزو اړیکو او افغاني ملي هویت د پېژندنې او نورو ملتو څخه د توپیر په لحاظ پښتو ژبه په دغه بهیر کې خپله لاره په ډېره ښه توګه ایستلای شي.

دویم: یوه تجربه، یوه ازموینه:

زموږ د هېواد او د سیمې د هېوادو د شملې پېړۍ تاریخي بهیر ځینې حقیقتونه د تجربې په ترڅ کې په روښانه توګه ځواب کړي دي. په دغه لړ کې دوه مثالونه د ځانګړې یادونې وړ دي. یو په افغانستان کې د پښتو ژبې چټکه وده او بل په هندوستان کې د هندي ژبې. په هندوستان کې د لودیانو له وخته بیا د مغلو تر هغو هم را وروسته فارسي ژبه د هند رسمي او درباري ژبه وه، خو کله چې انګرېزان په هند کې په پښو ودرېدل د نورو کړو وړو په څنګ کې یې یو دا هم شو چې پر ۱۸۳۷ کال یې د دغې ژبې چې نږدې اته، نهه سوه کاله د هند حاکمه ژبه وه، د نه اړتیا اعلان وکړ او کرار کرار یې خبره په نږدې نیمه پېړۍ کې دې ته ورسېده چې نن یې د نفوذ ساحه له موزیم او څېړنیزو موسسو څخه د باندې نه وځي. که چېرې د دغې ژبې په اړه دا پوښتنه طرحه کوو چې دا څنګه وشول، چې د هند د اتو، نهو سوو کالو مهمه ژبه دې په یو ځلي توګه په نیمه پېړۍ کې له منځه لاړه شي؟ دغې پوښتنې ته ژبپوهان او تاریخ پوهان اوس یوازې یو ځواب وایي او هغه دا چې "له بده مرغه چې د هند په نیمه وچه کې په دې دومره اوږده موده کې

فارسي ژبه له دربار څه د باندې را و نه وتله کله چېرې د دغې ژبې خواخوږو دغه ژبه د دربار په دېوالونو کې نه وای بنده کړې او د ملت منځ ته يې هم لار ورکړې وای. نو اوس به يې دغه برخليك ته د هند په نيمه وچه کې هر کلی نه وايه "تر اوسه د دغې ژبې ځای په يوه برخه کې انګريزي او په نورو برخو کې هندي ژبې ونيو. انګريزي ژبه هم په هند کې د فارسي پر برخليك ور اوري. څکه چې د هندي ژبې د ودې او پرمختګ بهير دومره چټك او دومره په ملي لحاظ د اهميت وړ دی چې ان د اردو ژبې اړتيا يې هم له ګواښ سره مخامخ کړې ده. څکه چې اوس هندوان هم هغه د ګاندي خبره کوي چې "زه باور نه لرم چې اردو ځانګړې ژبه ده. څکه چې د دې ژبې جوړښت او ګرامر د هندي ژبې ګرامر دی او ويي پانګه (Vocabulary) يې له فارسي او عربي څخه ده.

هغه خوك بې اردو خبرې کولای شي چې عربي او فارسي يې زده وي".(۶) همدغې نظريې اوس خبره دې ته را رسولې ده چې د اردو ژبې ليك دود هم پر هندي ليك دود بدل کړي. خو مسلمانان يې په وړاندې په کلکه مقاومت کوي او داسې فکر کېږي چې د هندي ژبې د اوسنۍ چټك ځپاو په وړاندې به دا مقاومت هم بې اغېزې شي.

کټ مټ بهير د پښتو ژبې په اړه هم د پاملرنې وړ دی. د شلمې پېړۍ اوږدو کلونو په اوږدو کې پښتو ژبې په افغانستان کې خپله لازه وايسته او د هېواد په ټولو علمي او فرهنګي موسسو کې يې ځای ونيو. دا چېکه وده په زماني لحاظ يو علمي او په ملي لحاظ يو طبيعي خوځون و چې په ټولنه او د دې ټولنې د ټولنيز ژوند په عيني بهير پورې يې اړه درلوده او د حساسو ليکوالو او فرهنګيانو وتده او ژوندۍ پوهه ورسره ملګرې وه. دا خبره دا دليل هم پېښوري کوي چې د همدغې پېړۍ په اوږدو کې پښتو ژبې نه يوازې په افغانستان کې دننه، بلکې په پښتونخوا او پاکستان کې يې هم د خوږېدو لمنه وغوړېدله. او دا لوی بري دا په ړوښانه توګه په ډاګه کوي چې دغې ژبې په خپل طبيعي بهير او جوړښت کې ځان د اويا کلونو په ترڅ کې دومره اوچت کړ، نو دا څو له شکه وتلې خبره ده چې دا ژبه د دې توان لري چې د افغان ملت د اند و ژوند ټولو اړخونو ته اوږه ورکړي او افغان بايد د خپل ژوند په روان او راتلونکي بهير کې په علمي او ملي لحاظ د هغې په وړاندې د بشپړ مسووليت احساس وکړي.

درېيم: پښتو لا هسې نکوه پرېږده

د نړۍ د ژبو او ادبياتو تاريخ او د هغو وده په علمي او منطقي لحاظ دا ټکي په ګوته کوي چې يو شمېر ژبې د خپلې بشپړتيا او لوړې وړتيا له امله د زماني په زړه کې د مختلفو عواملو او يا د ودې د قانونمندۍ له مخې په نورو ژبو او زماني حالاتو کې يا خورې شوې او يا له منځه تللې دي. لاتين پر څه ډول برخليك اخته شوه سانسکريټ ولې اوس "کلاسيکه" ژبه شوه. په آرياني ژبو کې "اوېستا" ولې له خپلو همزولو ژبو پښتو او فارسي سره تر ننه را و نه رسېده؟ د دا ډول تاريخي بېرم لرونکو ژبو له منځه تلل او يا په نورو بڼو څرګند بدل په خپله په مختلفو ټولنيزو عواملو او اړښتونو لګه واکمنې، مذهبي اړښت، کلتوري وړتيا او يا نه وړتيا (البته د ځينو خلکو او عواملو له نظره) پورې اړه لري چې يا به وده ورکوي او يا به يې نه ورکوي. که وده ورکړي نو پرمختګ او چلن يې دوام کېدونکي دي او که پاملرنه ورته و نه شي نو هم له پرمختګه لوېږي او هم له چلنده. د نړۍ د ډېرو مهمو ژبو لکه چې څو بېلګې مو يادې کړې برخليك همداسې شوی دی. لاتين اوس "کلاسيکه" ژبه ده، سانسکريټ اوس "کلاسيکه" ژبه شوه، چې برخليك يې اوس په نړۍ کې يوازې په دغه پښتو لنډۍ کې ډېر ښه ځلېدای شي:

"دا ځپل ښايست راپورې اور شو
لکه قاتل په پدرګه ځان تېرومه"

په دې کې شك نه شته چې نوموړې ژبې همدا اوس هم د بشر د اندو ژوند ډېره مهمه او ارزښتناکه پانګه په خپله سره غېږه کې ساتي خو له دغې وړتيا سره سره اوس پر دغو ژبو کوم برګنی څېرې اتري نه کوي، بلکې ارزښتونه يې د هرې ورځې په تېرېدو سره خپلو ژبو ته رالېږدوي.

که چېرې د دغو ژبو د بدايي زېرمې او تاريخي شتوالي د اوږده بهير د پرتلنې په څنګ کې پښتو ژبې ته کتنه وکړو نو دا به د ژبو د تاريخ د څېړنې له مخې ويلای شو چې پښتو ژبه هم د ادبي زېرمې له پلوه او هم د تاريخي او زماني واټن په ترڅ کې داسې ژبه ارزولای او څېړلای شو چې دغې ژبې د پوړتيو دوو ارزښتونو دوره او شپې ورځې تر اوسه نه دي بشپړې کړې، پښتو اوس له ځاپورو د پوړته کېدو په حال کې ده او د خپلې خوانۍ په لور ټوي ګامونه اخلي. تر اوسه دا ژبه نه درباريانو نه ختلې او نه هم د تاريخ په اوږدو کې بخت ياري ورسره کړې وه. پښتو اوس اوس هغه کوي چې خانته پاني ني او کاليداس وموسي، پښتو اوس اوس هڅه کوي چې ځان له کلي تر پوهنتون پورې ورسوي. پښتو اوس اوس هڅه کوي چې له خپلو وړتياوو څخه نړۍ، تاريخ او تمدن خبر کړي او پښتو اوس نوې پر دې پوهېدلې لکه چې نوميالي بچي يې خوشال خان خټك (۱۶۱۳-۱۶۸۹م) پرې رمز پوهېدلی و چې "...پښتو لاهسې بکره پرته ده."

خلورم- پښتو او د ورېښمو نوی بازار:

وروستی ټکی د پښتو ژبې د ودې او ارتیا په ترڅ کې زه فکر کوم چې دا هم د یادولو وړ دی چې پښتو په مرکزي اسیا کې په هغو ژبو کې راځي چې زیات شمېر اوسېدونکي خبرې پرې کوي او د مرکزي اسیا ډېر مهم اقتصادي او فرهنګي ښارونه او حوزې لکه پېښور، جلال آباد، کوېټه، کندهار، کابل، غزني، پکتیا او نور د دغې ژبې په ولکه کې راځي، لکه چې د تاریخ په اوږدو کې پورتني ښارونه او د هغو اقتصادي او فرهنګي اړیکې د پاملرنې وړ وو، همداسې په اوسني عصر کې د نویو اقتصادي اړیکي په پام کې نیولو سره هم او د پاملرنې وړ دي. د پېښور، کوټې، کندهار او ننګرهار تود اقتصادي مارکېټ او د کابل فرهنګي او اداري نفوذ کولای شي نور هم د دغې ژبې لپاره په ټولنیزو، علمي او تخنیکي برخو کې رغنده ګامونه اوچت کړي، نن سبا پښتو ژبې خپله لاره په هره برخه کې ایستلې ده. نن سبا پښتو تر کمپیوټر، او انټرنېټ هم اوچت ګامونه اخلي، پښتو ژبې په تېرو دوو لسیزو کې هم خپله لار وایستله، دا که چا مینه ورسره ښوده او که دښمني، دې یې پروا و نه کړه همداسې که نن او سبا هم دا ژبه څوك وپالي او که نه بیا هم په خپل هوډ بریمنه ده، ځکه چې دا ژبه د یوه داسې ملت ژبه ده چې د ژوند د تاریخ جرړې او د اند و ژوند ماسې او حماسې یې په خپله دا ژبه او د هغې د ودې بهیر روښانه او ژوندی ساتي. پښتو نن سبا د مرکزي اسیا د خلکو له لویو ژبو څخه ده چې دا به یوازې د افغانستان، پښتونخوا او پاکستان په اوسېدونکو او طبیعي حدودو کې پاتې نه شي، بلکې د ګاونډیو خلکو د ورځني ژوند او فرهنګي موسسو ته به هم ډېر ژر د پاملرنې وړ لاره پیدا کړي.

دا وو زما هغه نیمګړي څه چې د پښتو ژبې په اړه مې ولیکل، په دې هیله چې د دغې ژبې په پراندې زموږ نوی نسل د خپلو تېرو نسلونو په شان په ملي افغاني او علمي احساس سره تر هغو هم اوچت، پاخه ګامونه اوچت کړي. د پښتو ژبې لویه ښېګڼه دا ده چې موږ د هغې له پالنې، ودې او روزنې سره د افغانستان د ملي یووالي او په نړۍ کې د "افغان ملي هویت" ویاړ د ځان کولای شو. که چېرې دغه ټکي لږ په روښانه او څرګندو الفاظو کې ولیکم، باید ووایم چې موږ او زموږ هېواد او زموږ د هېواد تاریخ د اسیا په تمدن او تاریخو کې د مور حیثیت لري، نن سبا چې په اسیا کې کوم هېوادونه زموږ د هېواد په شاوخوا کې پراته دي او د نرم او برم خاوندان شوي دوی له موږ څخه زېږېدلي، د دې پر ځای چې دغه ټکي ته پام وکړي، پرعکس زموږ پر سترګو کې له کالیو سره راننوزي او هغه فرهنګ او فرهنګي ارزښتونه چې زموږ دي هغه د ځان بولي او له موږ څخه یې اخستې دي. چې یو هم په دغو ارزښتونو کې زموږ یو لږ نورې ژبې دي چې پارسي ژبه یې په سر کې راځي، لکه چې مخکې د دغې لیکنې په پیل کې یادونه وکړه ایران هڅه کوي ځان د فارسي ژبې وارث وبولي. هغه څه چې دوی د دغې ژبې په اړه اوس په خپله پالیسۍ کې تر لاس لاندې لري، زموږ لپاره ګټه نه لري، کوم مادي، امکانات چې دوی په واك کې لري، هغه ښیي چې هغه باید د ایران د سرلورۍ په لاره کې وي، نه د ټولو. دوی دا ډول چال چلند په دې خاطر تر سره کوي چې دوی فکر کوي او دا یو حقیقت هم دی چې پارسي د ایران د ډېرکي ژبه ده او تر نورو هېوادو دوی په دغه برخه کې د زیات مسوولیت احساس کوي. همدې شان اوس زموږ لپاره هم د پښتو ژبې د ودې او پالنې اړتیا باید همدا ارزښت ولري، ځکه پارسي خو موږ هم پالو هغوی هم، خو پښتو پالنه بیا زموږ د ملي هویت او خلکو د "ډېرکي" ښنست جوړوي، هغه چې زموږ افغانیت" پر هغه باندې ولاړ دی. د افغانیت تر ټولو ښه سرمایه او روښانه معیار د افغانستان ټول اوسېدونکي دي، چې په بل نامه او د نورو په ویاړ هېڅ ځای، ځای نه لري او د افغان ملي هویت یوه ځانګړتیا کېدای شي پښتو ژبه او د هغې لپاره په ملي هوډ او تفاهم سره ژمنه ښکاره کړای شي.

اخخونه، پایخور او یادونې:

۱- د نومـوړي ټکي د ښې څرګندوې او د ایرانیانو د افغانانو له فارسي پالنې څخه اخبرې د دوی په یو شمېر خپرونو کې هم له ورایه ښکاري. له تهران څخه خپرېدونکي ادبي او فرهنګي مجلې "آشنا" د ۱۳۷۵ کال په "۳۳" ګڼه کې لیکي چې: "در تاسیس مدارس برنامه های داریم برای تاجکستان و افغانستان که همزبان ماهستند بعضی ازین ها با خط فارسي اشنا نیستند، برنامه های ویژه ای برایشان تنظیم کردیم..." د افغانستان او تاجکستان یو رنګه بلل دا په خپله ښیي چې ایرانیان څومره د فارسي ژبې له غمه مړه او څومره ترې خبر دي؟

پاتې په ۵۷ مخ کې

لیکوال: ډاکټر نعیم نقوي
ژباړن: استاد محمد آصف صمیم

ادب او ټولنه

ادب او ټولنه دواړه یو د بل مخ و څټ دي، چې پیوستون او خپلوي یې سره نه شي بېلېدای. دا هېڅکله نه شي کېدای، چې د کومې زمانې ادب دې په هغه زمانې پورې اړوند نه وي. ادیب چې کله خپل ودانیزې ټولنیزې وته پېزې (اقتصادي) او سیاسي ربړې څېړي، نو خپل چاپېریال په هېڅ توګه له پامه نه شي غورځولای، یانې تر څه ځایه د خپلې ټولنې استازی وي. دا هم سمه او منلې خبره ده، چې د ادیب خپلې ځانګړې ربړې هم وي، خو له دې حقیقته څوک سترګې پټولای شي، چې د وګړي پر ځانګړیو ربړو باندې ټولنیز ځرنګوالی اړو مړو اغېز پرېباسي ربړه که هر څومره هم ځانګړې (فردي) شي، له ټولنې نه شي جلا کېدای. په کومه ټولنه کې چې یو څوک ساه اخلي. دا په دې معنی چې د ځانګړیو او ځانې ربړو او ستونزو تړاو په یو نه یو ډول له ټولنې سره اړو مړو وي. یعنې ادیب د ټولنې دننې او بهرنې ځرنګوالی په خپلو ولولو، ازمېښتونو او انګېرنو سره خپل هنري اثر ته لېږدوي. په ایجادي او زېږنې ادب کې د هنرمن دا کارنامه د یادونې وړ ده چې د زړه د خبرې څرګندونه داسې کوي، چې ټولنیز او ټولنیز لومړیتوبونه هم خلوي، یعنې د عصر او مهال د مزاج اغېز د وګړي (فرد) له سوچه نه شي جلا کېدای. انسان له بنسټي پلوه له ختې نه مدني راغلی دی، ځکه دننیو او بهرنیو عواملو پوره پوره ګډون د ادب په نامه وړاندې کول د ده ستره ژمنه ده.

دا یو حقیقت دی، چې ادب د ټولنې زېږنده ده او ټولنه له ادب اغېزمنه وي، د دواړو پر یو بل باندې اغېز پرېوتنه اړینه او لازمي وي. د تاریخ پاڼې ګواه دي، چې ادب په ټولنه کې له رامنځته کېدونکیو غورځنګونو اغېزمن شوی دی. هغه غورځنګونه دیني وي، سیاسي یا اقتصادي وي او که ټولنیز. ادیب په هر مهال کې په دې هڅه کې وي چې د خپل پېر او مهال غورځنګونو او نظریو ته په پاملرنه افکار را میدان ته کړي.

داسې ادیبانو او شاعرانو ټولنیز لومړیتوبونه پېژندلي او د مهال په غوښتنو پوهېدلي دي، داسې ادیب او شاعر د خپلو افکارو په هنداره کې د ټولنیزو ارزښتونو په خلونه او انځورنه نه یوازې خپل مدني او کولتوري دودونه په ښه توګه وړاندې کوي، بلکې پر وسمهال (حال) سربېره یې پر ګانده (آینده) هم سترګې ښخې وي. د هغه زېږنې (ایجادي) هڅې د داسې تحلیلي چارو لپاره وي، چې د ټولنوالې او ټولنیز ژوندانه د ودې خلانده لارې چارې هم پکې له وړاندې ښکاري. هغه ادبي اثر چې د ټولنوالې وینه او ساه پکې چلېږي، که څه هم د ځان هڅو پایله (نتیجه) وي، خو د ادیب او ټولنې نه شلېدونکي پیوستون تړي څرګندوي.

دا وخت د نړۍ او ټولنو منځي ډېر رالنډ شوي او وسیلې او مسئلې یې شعېره دي. د ټولنې پر بېلابېلو اړخونو باندې د نورو هېوادو اغېزې په چټکتیا سره تر سترګو کېږي. سیمه پېز ادب ته د نړیوال پلوشې رالنوتې دي. پر منځپانګه (محتوی) سربېره په جوله (شکل) کې هم ډېر بدلونونه راغلي دي او دا خبره جوته ده، چې ټولنیز، مدني، سیاسي او ادبي ارزښتونه پر هرې ژبې او ادب

اغېز پرېباسي. اوسني ادبيات مور ته د ځان تللني او محاسبې بلنه هم راکوي او د ټولني د مخ د ښکلا او ښايست غوښتنه هم کوي. د ليکوال، کيسه کښونکي او شاعر ژمنه ده، چې ټولني ته لارې روښانه کړي، ادب او ټولنه سپېڅلي کړي، څرنګه چې هنرمن حساس زړه، غړيا لي سترګي او لوړ ذوق لري، نو ژمنه يې ده چې پر لوړ و خوړ، ناکراری او خپرېدا او پرېشاني يې سترګي ښخې وي.
هنرمن ته د ځان برسېرونې اوځلونې پر وخت پکار دي، چې د ټولنواله له پاره و نه غورځوي، ان که په دې لړ کې سېمبوليز دريځ لرنې ته هم اړتيا شي. سېمبوليزه بڼه که اغېزمن او روغمن وي، نو څه بدي پکې نه شته. هن! هسې د ډول لپاره سېمبوليزه بڼه غوره کول پر ببلاری، تلل دي. د جبر و تنګسې پر وخت د سېمبوليزې بڼې خپلول خو د ازادي، هغه فضا رامنځ ته کوي چې ټولني ته ګټوره وي.
انسان همېشه په ژوندانه کې د ښو او غوره لارو په تکل کې وي. تاريخ اوتمدن دا حقيقت په ګوته کوي، چې د مبارزې جذبه انسان له يوې خانګرې ناکراری او د پوهې له خوږ (درد) سره ملګری کوي. د ټولنې د ښه او غوره رغون او سمون جذبه د زړه د ډاډ لامل او سبب ګرځي. يو ستر ليکوال د کايناتو په ګلبڼ کې د بېلا بېلو مدنيتونو، تهذيبونو، کولتورونو او ټولنيز چلن د نويو غوړېدلو ګلونو د ودې او ښېرازی لپاره لاس و پښې وي.
د ژوندانه د ښکلا زياتونه او ټولنيز شعور ته په نوي کاته د نوښتګر او ايجادګر هنرمن ژمنه ده.
علامه اقبال شاعر ته د اولس د سترګور نوم ورکړی دی او وايي چې شاعر د ولس د سر سترګې دي:

ژباړه:
په دردېدلي غړي ژاړي سترګي
څومره خوږې دي په بدن کې،
سترګې خو شاعر او ليکوال د ژړاندو سترګو په څېر نه دي؛ بلکې هغه له دي امله چې د ننيو څرانګولو انګېرنه هم کوي. نو د يوه سترګور په توګه د اولس لپاره يوه لويه لوربېنه ده. د قلم د درنښت او د پوهې د لوېښت انګېرنه هغه مهال کېدای شي، چې د هنرمن د زړه له لارښوونې د وجدان له څارنې او د احساساتو له رښتينې سره همغاړې وي.

د څوانو ژورنالستانو...

ملي رنګ رنګېدلي سياسي مقالې او تحليلونه يې هم ليکلي دي.
د ملي لار په نامه د ده يوه رساله ډېره پخوا چاپ شوې وه، په وروستيو کلونو کې يې «د افغانستان د لويې لويې ستېج» په نامه يوه ډېره غنيمت رساله په پښتو وليکله. دا رساله تحقيقي او تحليلي دواړې برخې لري او د يوې ملي اندېښنې په رڼا کې ليکل شوې ده. دا رساله په يوه کال کې ختمه شوه. ډېر غوښتونکي او لوستونکي يې پيدا کړل. له داخل او خارج نه افغانانو دا رساله له موږه وغوښته او بالاخره تر دې حده ورته ضرورت محسوس شو چې د دانش خپرنخي خوان اسد الله ساپي دانش د ښاغلي سميع الله تازه په مرسته په دري واړوله او دري متن يې هم له پښتوره خپور شو.
وجدي صاحب افغاني جرګو او لويو جرګو ته ډېر معتقد دی او دی زموږ د هېواد په سطح دا جرګې د دموکراسۍ د تامين يو نسبي عالي شکل بولي. په همدې نيامت ده په افغانستان کې د جرګو نن، پرون او سبا په نامه يو ښه کتاب ليکلی دی،
دا کتاب پخوا د جهاد په دوران کې له پېښوره چاپ او نشر شوی و.
ډېر کلونه وشول چې وجدي صاحب په کوټه کې ژوند کوي. د کوټې فرهنګي حلقې ده ته د يو معزز فرهنګي په توګه ډېر درانه ګوري؛ په سيمينارونو او لويو وړو فرهنګي غونډو کې يې خبروي، دی هم په خورا مينه دغو مجالسو ته ورځي او برخه پکې اخلي.
عبدالجليل وجدي له ژورنالستيکو او نورو سياسي، اجتماعي او فرهنګي تحقيقي او تحليلي مستقلو آثارو او ګڼو مقالو او ليکنو سربېره په پښتو لنډې کيسې هم ليکي. ده په کابل کې هم کيسې ليکلې او د مهاجرت په دوران کې يې هم څه کيسې ليکلې دي، چې څو يې يې د وفا په اخبار کې نشر دي. دی د کيسو د سوژو په څوښولو کې غښتلی استعداد لري.
لنډه دا چې وجدي په خپل دې څه د پاسه شپېته کلن عمر کې د ځوانو ليکوالو او ژورنالستانو لارښوونه او روزنه کړې، په خپله يې ژورنالستي کار کړی. البته د ده ژورناليستي کار خپل ځانګړی سبک او خاص روش لري. د فرهنګ او افغاني جامعې د تاريخ د ځينو څنګونو د څېړلو او تحليل په لاره کې يې په خپل ملي رنګ کې ګټه ور کارونه کړي دي او لا لګيا دی. په دې لاره کې خپل قلم چلوي.
زه ښاغلي وجدي صاحب ته ښه صحت او اوږد عمر غواړم. چې د خپلې ژبې په خولی کې څه نور هم ور غورځوي او خپل ملي او فرهنګي رسالت نور هم پياوړی سرته ورسوي.

رپوټ د : ح. غ

د ستونزو په ګرداب کې

افغانان د چوارپانو پر ځای

د پېښور ښار پاکوالی د چا پر غاړه دی؟ او څوک یې جارو کوي؟
په پېښور کې اوس افغانان د "چوارپانو" پر ځای ولې کار کوي؟!!
زموږ نوی نسل او ځوانان له څه ور کړاوونو سره لاس و ګرېوان دي؟

په یوویشتمه پېړۍ کې به څو فیصده افغانان لوستي (باسواده) وي؟ په ځانګړي ډول ښځمنې به څو فیصده وي؟ افغانان به د لوست له پلوه په نړۍ کې څوم هېواد وي؟

د افغانانو سمه او درسته سرشمېرنه نه ده څرګنده، دا سېې نه ده معلومه چې څومره افغانان په هېواد کې دننه دي او څومره له هېواد د باندې؟ او دا نه ده معلومه چې په کومو کومو هېوادونو کې په څه شمېر پراته دي؟

تر ۱۳۷۱ل کال مخکې لا د لېږد (مهاجرو) شوېو سرشمېرنه څه ناڅه معلومه وه، چې په پاکستان کې ۳ملیونه او په ایران کې ۲ ملیونه شمېرل شوي وو، خو تر ۱۳۷۱ل کال وروسته دا شمېر سره ګډوډ شو، لس شمېر بېرته هېواد ته ستانه شول او څه بېرته نورو هېوادونو ته ولېږدېدل.

تر ۱۳۷۱ل کاله له ټولو افغانانو

هغه جاړې چې پخوا به د پېښور خاپې چوارپانو تر سره کولې، څو اوس یې افغانان تر سره کوي، ښې لاس ته ارباب روږد او چپ لاس ته بورډ ګورئ.

سره یوه هیله وه، چې په یو ډول نه یو ډول به هېواد ته سوله راشي، د جګړې نوم او نښان به ورك شي، خو له بده مرغه چې د افغانانو دا هیله په اوبو لاهو شوه او تېر دغه کال وروسته لا خونړۍ جګړې نه د افغانانو تر منځ د قدرت پر سر ونښتل، هېواد وران شو، ملي شتمني لوټ شوه او ګڼ شمېر هېوادوال له خپلو کورونو بې خایه او ولېږدول شول، چې ډېر شمېر یې لومړی پېښور ته او بیا یې هغه لوستي له پېښوره نورو هېوادونو ته لاړل او دا لړۍ لا روانه ده.

افغانان خو له خپل هېواده ولېږدول (مهاجر) شول، دوی ټولو په خپل تاتوبي کې په بېلا بېلو چارو بوخت وو او لاس یې تر خولې رسېده. له هغو سترو او خونړیو جګړو سربېره چې له ۱۳۷۱ ل کال مخکې شوې وې له ټولو افغانانو سره هیلې او امیدونه وو، ټول ډاډمن وو چې راتلونکی افغانستان به سمسور وي، خو کله چې ۱۳۷۱ل کال را ډېره شو او لا یې میاشت او اووه ورځې نه وې تېرې شوې چې پر افغانانو څرخ چپه واوښت په لس ګونو زره بې ګناه هېوادوال شهیدان شول. په لس ګونو زره هېوادوال معیوب شول او په لکونو لېږد ته اړ کړای شول، وداني په کنډوالو

واوښتې، لنډه دا چې په نړۍ کې د خپل هېوادوالي ریکارډ یې ټینګ کړ تر ټولو ستره غمیزه دا چې زموږ د ځوان نسل پر مخ د ښوونځیو دروازې وتړل شوې، ورو کیو توپك ته لاس کړ او نجونې په کاله کې زندانیانې شوې او پایله دا شوه چې اوس زموږ د ځوان او نوي نسل ډېر شمېر نالوستي پاتې دي او لا نالوستي پاتې کېږي او ماشومان ګاونډیو هېوادونو ته په مزدورۍ پسې ځي او یا له خپلو کورنو سره هلته لېږدېدلي دي، چې داسې شاقه او درانه کارونه کوي چې په لیدو یې د سړي غوښې زیږه شي

موږ پر ځوانانو د دغسې درنو او شاقه کارونو په اړه یو لنډ رپوټ تیار کړی چې تاسې یې لوستو ته رابولو ګڼ شمېر ځوان افغان ماشومان اوس د پېښور ښار په پاکولو او جارو کولو بوخت دي، تر روان کال مخکې به دا چارې پاکستاني عیسویانو تر سره کولې چې چواریان به یې بلل، خو اوس چواریان تعلیم کوي

او د سوداګرۍ پر چارو بوخت دي او افغانان کراچۍ پر لاس د پېښور ښار ګندګي او چټلي راټولوي او سرکونه یې جارو کوي

راخي: په خپله د دغسې یوه کار کوونکي له خولې یې واورو.

"تمام ذکر الله، از چاردهی کابل استم. سه سال میشه که به پشاور آمدیم. تا صنف هشت مکتب خواندم، ۱۸ بهار از عمرم گذشته، در خانه ۱۱ زنده سر داریم، که مسوولیتش بدوشم است. از سه ماه بدینسو جاروکشی میکنم و پیش ازین روزانه مزدوري می کردم"

د خپلو دغو هېوادوالو د خبرو په اورېدو سره د سړي پر بدن اور ولګي، له سترګو یې اوښکې راوبهېږي او له واره یې خوله پر هغه چا په لعنت ویل پرانیستل شي چې پر افغانانو یې دغه ورځ راوستې ده.

راځئ چې له یوه بله یې لږ څه نور هم واورو:

نوم مې جمال الدین دی، تقریباً ۳۷ کلن یم او د خیرخانې د اولې حصې اوسېدونکی یم. دوه کاله کېږي چې پېښور ته راغلی یم، پخوا مې روزانه مزدوري کوله، خو اوس دلته سرکونه جارو کوم. تر روزانه مزدورۍ دا کار ښه دی، ځکه چې هغه مزدوري یوه ورځ وي او بله نه، او دا د جاروکشي کار خو د میاشتې پر حساب کوو او د میاشتې ۲۳۰۰ روپۍ راکوي

جمال الدین زیاته کړه:

"په افغانستان کې مې د وزیرانو په شورا کې د خوشکه شوېی دنده تر سره کوله چې دولس کاله مې همدا کار کړی دی او څلور میاشتې کېږي چې د جارو کشی کار کوم، د پېښور ښار د صفا کولو چارې یو افغان چې اکبر نومېږي او د کابل اوسېدونکی دی په اجاره او ټیکه اخیستې او اکبر له خپل خان سره ټول مزدوران افغانان نیولي دي. د اکبر دغې ټیکې د یره ښه نتیجه ورکړې ده چې ښایي اوس د ټول پاکستان د ښارونو د پاکولو دنده افغانانو ته وسپارل شي."

د جمال الدین یوه بل ملګری همایون راته وویل:

"نامم همایون است، ۱۷ ساله استم، مکتب نه خاندیم، پدرم وفات شده و حال مسوولیت خانه به گردنم است، تعداد فامیلم ۸ نفر است و در کوز تاکال در یک خانه خامه زندگی میکنم، ۷ ماه میشه که از کابل آمدیم و از چار ماه به اینطرف در این کار مصروف استم.

صفاکاران و پاکاران شهر پشاور که افغانان است بدو تیم تقسیم شده، یکی شان از ساعت ۶ صبح الی دو ظهر و دیگر شان از ساعت دو الی ۱۰ شام کار میکنند، رخصتی نداریم و هر روز کار میکنم. تقریباً از ارباب رود تا بورد ۹۰ نفر افغان در دو تیم این کار جاروکشی میکنند."

د پېښور ښار له پاکولو پرته نور ګڼ شمېر افغاني نجونې او هلکان په بازارونو کې د خلکو بوټونه رنګوي، پلاستیکي کڅوړې خرڅوي، له سړکونو او له ډېرانونو نه کاغذونه او پلاستیکونه راټولوي او بیا یې پلورې او سپېلنی پر لاس د خلکو نذیر ماتوي.

یو ماشوم چې ۹ کلن دی او په بازار کې پلاستیکي کڅوړې پلورې راته وویل: "سید الرحیم نومېږم، پلار مې دیارې کوي او مور مې ناروغه ده، زموږ د پلار په عاید ګوزاره نه کېږي، ځکه په کور کې ټول ۱۰ کسان یو، نو زه هم مجبور یم چې کار وکړم، نور کار مې له وسه نه کېږي نو دا پلاستیکي کڅوړې (شاپینګ بک) خرڅوم، ښه دي د ورځې ۳۰ - ۴۰ روپۍ راته پاتې کېږي.

هغې ماشومې نجلۍ چې سپېلنی او د انګار ډبې یې په لاس کې و راته وویل: "د کابل د میرویس میدان اوسېدونکې یم، پلار مې په راکټ ولګېد او شهید شو، موږ له ناچارۍ پېښور ته راغلو، زه اوس ۷ کلنه یم، په کور کې مو د کار څوك نه شته، مور مې ناروغه ده او زه د دغو سپېلنیو له دودولو څخه ۳۰-۴۰ روپۍ د ورځې پیدا کوم."

او هغه ماشوم هلك چې د بوټونو د رنګولو سامان یې د غاړې په صندوقچه کې پروت و، داسې راته وویل: "روزانه ۴۰-۴۵ روپیه پیدا میکنم، پدرم ۳ سال پیش در کابل به مرمی راکت شهید شد، و حال نفقه خانه را بدوش دارم. ما در یک خیمه در بورد زنده گی میکنم، ایقدر است که دست به دانم میرسد، باز هم شکر است."

دغه ماشوم هلك راته نوم وحید الله وښود او زیاته یې کړه: "۱۲ سال عمر دارم، دو خوار و یک برادر دارم، که همه شان از مه خورد تر است."

که په پېښور ښار کې لږ نور هم تم شو او په خیبر شاوخوا وګورو، نو هغه خوان او د پاخه عمر افغانان به مو تر سترګو شي چې د دیاړې (ورځني مزدورۍ) لپاره په ټاون کې سپین جومات ته مخامخ، په صدر کې، په چوکیادګار کې له ګبنته ګر سره، په پندو سړك له دورې چوك سره، د حیات آباد په ۳ فېز کې له بشارت مارکېټ او په لومړي فېز کې سوپر مارکېټ ته مخامخ او په نورو بېلابېلو ځایونو کې د یوې ورځې مزدورۍ لپاره لاس تر زنې ناست دي.

سپین جومات ته مخامخ له ناستو کسانو یوه کس راته داسې وویل: نوم مې لال محمد دی، دا درې ورځې کېږي چې دغه ځای ته راځم، خو لا چا په مزدورۍ نه یم بیولی. زه د ننګرهار د سره رود اوسېدونکی یم او له ۱۳۶۷ کال راهیسې پېښور ته را مهاجر شوی یم. اوس ځکه بېرته هېواد ته نه ځم چې هلته کار و روزګار نشته او د ځمکې پرن عایدانو مې ګوزاره نه کېږي.

یوه بل خوان هلك راته وویل:

زه دلوګر د محمد آغې اوسېدونکی یم، نوم مې عبد الله او د پلار نوم مې عبدالواحد دی، درې میاشتې کېږي چې له لوګره په مزدورۍ ------

پاتې په ۵۹ مخ کې

شهرت ننګیال

زموږ ملي یووالي ته پېښ ګواښونه

څه مهال د مخه وحدت ورځپاڼې یو مطلب خپور کړی و، چې په هغې کې یې د خپل تجزیه نګار له خولې د مهاجرو لیکوالو په دوو ډلو وېشلو او بې اتفاقۍ خبره راپورته کړې وه.

وحدت ورځپاڼه ما ته ورو‌سته رسېږي، د دغه مطلب په لوستو یوازې زه نه بلکې ډېر نور اندېوالان هم خواشیني او اندېښمن شول، چې اخر د پښتنو لیکوالو په منځ کې څه نکه پرېوته چې دوی یې هم یوې خبرې ته پرېښنبودل، بېل یې کړل او پر ډلو یې ووېشل.

د ثور له کرغېړنې کودتا وروسته چې کومه سره برېوکې را والوته، هغه خو نه زموږ د هېواد دیني او مذهبي کړي، یوې خبرې، یوې مسئلې، یوې فتوی او یوه دریځ ته پرېښوې او نه سیاستوال په دې وتوانېدل چې له یوه موقف او ستېج نه خبرې وکړي او د هېواد ربړې ته د حل ړېښتني او تولو ته د منلو وړ لاره خپله کړي.

د مقاومت له وخته بېلا بېل جهادي ګوندونه د شوروي اتحاد ستر دښمن او یرغلګر خواك له ګوابن سره نه یوازې دا چې یو سنګر او دفتر خپل نه شو کړای، بلکې د یو بل پر خلاف یې وسله واخیسته او څېنو خو یې له دښمني سره مراودې او تړونونه هم لاسلیك کړل: چې خپل رقیبان وځپي او هر څه پر خان ختم کړي.

له همدې ځایه وه چې دغه ګوندونه په جګړه مارو ډلو واوښتل، د جهاد عظمت یې بایلاوه او ګټلی حیثیت یې نه یوازې دا چې له لاسه ورکړ، بلکې د ملي خائینانو او ولس د قاتلانو نومونه پرې پورې شول. د دې یو لامل دا و چې د ثور له خونړۍ کودتا وروسته په بېلا بېلو لستونو کې نغښتې لاسونه زموږ د ولس د فکري، عقیدتي او ملي جوړښت پر ضد اوږده شول، په لومړي سر کې د ګوندونو ګوندیو، قومي اتحادیو سیلۍ راوالوته، ورسره د مذهبي بېلتون کرښې تېرې شوې او د وهابیانو، پنجپیرانو او داسې نورو توپانونه راوالوتل او په څنګ کې یې د ساداتو، میاګانو او بېلا بېلو نومونو د شوراګانو غږونه پورته شول.

د شمال اتحادیې، د خراسان کمپ، د خراسان عیار، د خراسان اونیکې او داسې نورې هڅې د دغه اوږده څنځیر بېلا بېلې کړۍ دي، چې د وخت په تېرېدو سره یو ځای او دا دي زموږ د ولس پښو، لاسونو او فکرونو ته یې زولنې اچولې دي. د دغو هڅو بهیر داسې لوری غوره کړ، چې زموږ د یو موټي ملت پر سینه یې د تعصب او ستم چاړه کېښوده. د لوی خراسان او هزارستان نومونه او نقشې یې رامخې ته کړې، د شمال او جنوب لیکه یې تېره او د هېواد د ملي وحدت پخې او درنې ستنې ورانولو ته ارم شول.

موږ ګورو چې ځینې د پردي فرهنګ د ودې او دودونې لپاره د خپل هېواد په منل شوې ملي ترمینالوژۍ هم پښې ږدي او په خپلو لیکنو کې دانشګاه، دانکشکده، شهرداري او دې ته ورته نومونو په کارولو د خپل صافي الضمیر څرګندونه کوي.

خبره دې ته ورسېده چې د افغانستان او افغان په نوم هم کرښه وکاږي او د افغان پر ځای ځانونه افغانستاني وګڼي.

وروستۍ خبره د هغو کړیو د ناولو نیتونو څرګندوی ده چې د افغانستان

دښمنانو په لسمون او ګټه د روښنفکرانو اکتونه کوي او د لړکيو د حقوقو د دفاع ډنډوري غږوي، خو په حقيقت کې له پرد يو سره د خپل چوپړ او مزدورۍ د پخولو او زياتولو هڅه کوي، چې په وريشو يې ځو داني ور زياتي کړي.

دا هغه غولوونکې پرده او هڅه ده چې تر تولو زيات يې هماغه لوري زمولولي او ځپلي چې دوی يې د حقوقو د دفاع تاني پر نهر وهي او خپله سياسي دکانداري پرې چلوي او د ځاني ګټو په لار کې تري د يوې وسيلې په توګه کار اخلي.

خبره په پر دوو ډلو د پښتنو ليکوالو د وېش وه، دغه مطلب تر هغې پسېښي ترلي چې د CCA يعنې د افغانستان د مرستو مرکز د يوه ورکشاپ په غونډه کې (اګست ۲۳-۲۷) پر پښتو د ګرېدو د بنديز په اړه را پيدا شوي وه.

د CCA په ورکشاپ کې هغه وخت خبره له شف شف نه شقتالو شوه چې يوه برخوال په پښتو د پوښتني له راپورته کولو په تحکمانه بڼه منع کړی شو: "ازينکه زبان وسيله تفاهم و زبان مجلس از آغاز فارسی بوده لذا بايد بزبانی حرف زده شود که همه ما بفهيم."

له دې څرګندېږي د CCA د چلوونکيو په وړاندې پښتو د افهام او تفهيم چاره نه شي تر سره کولای.

د دې مانا دا ده چې پر دغه دوزخي ژبه خبري لږ تر لږه د CAA په ورکشاپ کې لا هم جرم او ګناه ګڼل کېږي.

کومه ژبه چې په سيمينارونو کې د ويلو ونه ګڼل شي او مازې د يوې وړې پوښتنې تر کچې يې هم زغم ناشوني شي، د هغې مطلب له دې پرته بل څه کېداې شي، چې پښتو د علم او پوهې ژبه نه ده، بيا به څود ورته د اکثريت بې فرهنګه ژبه وايي او ورسره به د مشر ورور د مړګۍ خوبونو ته هم تعبير پيدا کوي.

اخر د دوو نيمو پېړيو واکمني له تور او الزام سره سره پښتنو د دې توان او مخ پيدا نه شو کړای چې په پښتونخوا کې جوړ يو ورکشاپ کې په خپله ژبه د څو خبرو حق تر لاسه کړي.؟

اوس تاسې ووايي د دوو نيمو پېړيو واکمني چې په بدل کې يې د زرګونو پښتنو وينې تويې، او په کډګريو کې ميخونه تپك وهل شول، پښتنو څه تر لاسه کړل؟ د دغه تور او پېغور په ګناه چې پښتانه څومره وځپل شول، داسې ښکاري چې لا د دغه نه کړې ګناه کفاره نه وي پوره شوې او لا د ښلو ړو نه وي ګڼل شوې.

يو څوك چې د خپل هېواد په اړه جوړه شوي غونډه کې په خپله ژبه د خبرو حق و نه لري، د دوه نيمو سوو کالونو پادشاهي حقيقت له دې پرته بل څه کېداې شي.

زما پرې هسې خان بدنام دی
دليلا سرې شوندې پېزوان خوړلې دينه

سره له دې چې د CCA د بشر د حقوقو په نامه ځانګه هم لري، چې له دغه نامه نه په ګټې پورته کولو سره يې پرېمانه نړيوالې مرستې تر لاسه کړي، خو د افغانستان پر يوه ملي او رسمي ژبه د خبرو حق تر پښو لاندې کوي، چې دا خپله د بشر پر يوه منل شوي حق بلوسه ده.

له بلې خوا دغسې ذهنيت په هېواد کې قومي تفرقو او لمسونو ته لمن وهل دي، چې د هېواد د ملي يووالي او جوړښت په وړاندې يو بل ګواښ ګڼل کېږي.

په داسې حال کې چې CCA د ګرد هېواد په سطحه د مرستو او فعاليت ادعا لري، خو خېروني يې بيا هم زياتره په فارسي او فعاليتونه يې تر ځانګړو سيمو پورې محدودې دي او په اړوندو ځانګو کې يې ناکښې هم په هڅدې معيار تر سره شوي، تر دې چې زياتره کليدي پوستونه يې د تعصب په زهرو لړلي فکرونه او ځېرې تشکيلوي.

د CCA په ورکشاپ کې پر پښتو د دغه بنديز په وړاندې د ورکشاپ يوه برخوال درانه اديب محمد اصف صميم نيوکه وکړه، خو څرنګه چې د ده نيوکې نه د ورکشاپ چلوونکيو څه پام و نه کړ، له غونډې ووت، چې له بده بخته د غونډې برخوالو ليکوالو يې دغه قانوني اعتراض بدرګه نه کړ.

دغه خبرې په مطبوعاتو کې ژور انعکاس وموند او په وحدت او سهار ورځپانو کې پرې ليکنې او تبصرې وشوې، چې ورسره د CCA له نورو پټو نيتونو او موخو هم پرده پورته شوه، خو بيا هم CCA وال له خپل څره کوز نه شول، خپله پړه يې و نه منله او د تفرقي له پاليسۍ يې د دفاع دريځ خپل کړ.

د دغه پېښې په اړه ګڼې ليکنې خپرې شوې، چې په هغو کې دا خبره هم وشوه چې پښتنو ليکوالو ښايي د CCA د کړنو او پاليسۍ له مخې په ورکشاپ کې له سره ګډون نه وای کړی، په دې توګه به هم د CCA جنتي ماحول او رنګينه فضا په دوزخي ژبه نه وای ترطنه شوې او هم به دوی له دغسې يوه توهين سره نه مخامخېدل.

د همدغو ليکنو له خپراوي سره پر دوو ډلو د پښتنو ليکوالو د وېش خبره راپورته شوه، چې په هېواد کې دننه او بهر يې ډېر هېوادوال له شکونو او انديښنو سره مخامخ کړل.

د هغه مطلب په لوستو ما داسې وګڼله چې CCA په يوه غشي دوې مرغۍ ښکار کړې هم يې د ملي تفرقې يو بل سنګر پرانيست او هم يې دا دی پر دوو ډلو د پښتنو ليکوالو د وېش زمينه برابره کړه.

که څه هم دا خبره د نه منلو ښکارېده، ځکه د دغو ليکوالو په منځ کې داسې څه نشته چې پرهغې سره وځوري، خوڅرنګه چې له دغسې ۵۶مخ -

پروفیسر ډاکتر گل جان وردگ ورور

د آریانا د اوسیدونکیو او سیمو تاریخي شالید (پس منظر)

د باختري کتلې د ژوند مشترکه دوره:

د (اري) یا باختري کتلې د ژوند مشترکه دوره له هرې خوا په تېره بیا د نژاد له پلوه د افغانستان لپاره ډېر اهمیت لري، د "آریا" او "ایریا" په نامه د ځو مختلفو قبایلو څخه مرکب د هندوکش په هره خوا کې د دوی ټولنیزه، ادبي او معنوي وده د تهذیب، دیانت، ادب او د فردي ژوند د قوانینو د ظهور باعث وګرځېدل، چې د افغانستان په تاریخ کې د (ویدي) او (اوېستا) متونو خصوصاً د اوېستا د اول فرګاو په شهامت او د شوروي پوهانو د وروستي لرغون پېژندنې په کشفیاتو کې ځرګند شوی چې د اري کتلې مهد او د مهاجرت خط له (ایریانا ویجه) څخه پیل شوی دی. د اوېستا او یوناني کلاسیکو منابعو په شهادت افغانستان د (ایراني او هندي آریائیانو د ودې زانګو ده، عبدالحسین سعدیان دهرودوت، اوېستا او داریوش له کتیبو څخه په لږ تفاوت سره لیکي چې د اریایانو قبیلو د خپل ضرورت او غذایي موادو د پیدا کولو لپاره په (۱۲) سیمو کې استوګنه غوره کړې ده، چې تر نیمایي یې ډېرې سیمې په اوسني افغانستان کې واقع دي. (۱) د پخوانیو اریانو په برخه کې زموږ معلومات د "ویدیك" له ادبیاتو څخه لاس ته راځي چې دغه مذهبي مواد بنایي (۱۰۰۰ ز.م) کې منځته راغلي وي. (۲)

مرکزي آرین چې د باختر یا بخدي یا (بلخ) په شاوخوا کې اوسېدل ښه غوره مذنیت یې درلود، دوی خپل هېواد (آریا ورته یا اریا ورشه) باله. لومړی پلا دا نوم د منوسمهیتا (Manu-Samhita) (د ځو نسلونو دافکارو مجموعه) په کتاب (دویم څپرکي دوه ویشتم شعر) کې راغلی چې مانو یا (منو) د آریا پلار ګڼل کېږي او آریایان (منوزي) دي. دې پلار په دوی کې ډېر شهرت درلود او د ده په نامه ځیني قوانین شته چې د منو لیار یې بولي. (آریا ورته (Aria Warta) هم مانو تیکه په خپل کتاب کې یاده کړې ده.

ولسن په خپل آریانا انتیکوائر کې لیکي چې محققینو د اوېستا مفسرینو او تاریخ پوهانو کښلي چې په دې هېواد کې آریایان پښت تر پښته پیداشوي دي. همدارنګه د دوی هېواد یې د اصیلو او غښتلیو خلکو هېواد بللی دی. (۳) همدارنګه پوهاند عبدالحی حبیبي هم د پورتني مطلب د تمدن د (۱۸۴ مخ) او هند قدیم د (۴) مخ په حواله تایید کړی دی.

کلاسیك منابع ځرګندوي چې د ویدا (دویدا) تر منځ ته راتلو پخوا آریایان موجود وو او سیمه یې د باختري کتلې مرکز وه. د دې مطلب د ځرګندونې لپاره د اریایانو د یوې قبیلې نوم په ریګوېد کې پکهت (پښتون) او په اوېستا کې باختر او بلخ (پښون) راوړی دی.

قاضي عطاء الله وایي: "په ریګوید کې آریانا او په اوېستا کې "آریانا ویجه" بلل شوې ده. (۵) لکه چې په اوېستا کې د آریایانو اصلي وطن د "آرین واج" راغلی دی. څنګه چې "واج" له (ویجي) څخه عبارت دی او ویجه ځای ته وایي، یعنې د آریایانو ځای او هم ځرګندېږي چې د آریا کلمه به د اوېستا تر موجودیت دمخه په (ریګوید) کې راغلې وي. (۶)

آریایانو چې له میلاد (۱۵۰۰) څخه تر (۳۰۰۰) کلونو پخوا په ټولنیز ډول ژوند کاوه، ځان ته یې (اري) ویل او د دې کتلې لومړنی زانګو یې په اوېستا کې (آریانا ویجه) بللې ده. چې د اوېستا په

شهادت او د متصلو ځمکو په تسلسل همدارنګه د کشفیاتو په ثبوت د اریاپانو محل (د سیر دریا) بېره حوزه او د امو سیند په شمال کې تاکل کېدلای شي.(۷) د آریاپانو نغری یا د ژوند لومړنی ځانګو د سیحون او جیحون سیمه یا د افغانستان شمالي برخې دي. آریاپانو خپل استوګنځي ته "آریا نم وائیګو" یا "آریانم وایجو" ویل او پخواني اریاپان له هغه ځای څه د نرۍ نورو ځایونو ته تللي دي.(۸)

د (۲۵۰۰ ز م) کلونو په شاوخوا کې آریاپانو د امو د سیند په شمال "آریاناتو ویجه" کې په مالدارۍ او کوچیاني ژوند بوخت وو.(۹) د دوی د استوګنې ځای په "زند" کې آرینه ویجه" یا "آریانا یوجو" "Eriene Veejo" بالـه کېده او همدغه سیمه "آریا ورته" "Arya Varta" یا آریا ورشه "Aryavarsha" هم باله کېده.(۱۰) یعنې "آریا ورته" یا "آریاورشه" هماغه د زند آریانا ویجه ده، یا "آریاورشه" (۱۱) چې ویلسن یې د ښاغلیو او اصلیو ټاټوبی بولي او ول دورانت Will Duarnt یې هم داستوګنځي "آریانا ویجو" بللی دی.(۱۲) همدارنګه دورنت د خپل اثر "Breasted Conquest Civilization" د یوولسم څپرکي دریم ټوك د ۲۸۶ مخ په حواله لیکي چې د آرین کلمه د هغو خلکو لپاره راغلې ده چې کسپین ته یې نژدې ژوند کاوه او یادهغه ځای څخه راغلي دي.

پوهاند علامه حبیبي په یو اثر کې په زړه پورې تحقیق کړی او په دې اړه داسې لیکي:

آریانه دډیانت له پلوه معتقد، قربانی ورکوونکي او پرستش کوونکي ویل شوی او په پخواني اصطلاح شریف، نجیب، بادار، آغا، مالك اختیاردار، ځوانمرد، میلمه پال، زړور، وطن دوست او داسې نور ښه صفات لري. دغه ډول صفات په پښتنو کې د پښتنو لپاره کټ مټ یاد شوي دي. په دې اساس پښتو ژبو دا خپل مزیت غونډ او بشپړ ساتلی دی چې له یوې کلمې څخه ډېر صفات ځرګندېږي لکه پښتو، پښتونواله او داسې نور.(۱۳) پوهاند حبیبي زیاتوي: د آرین کلمه اصیل، نجیب او شریف مانا لري. په خپل اثر "د پښتو ادبیات" په ۲۹ مخ کې د المانی څېړونکي ډاکټر ویلیم ګیګر په حواله لیکي چې آرین د آره مشتق شوی دی او په سانسکرت کې د اصل او بنیاد په مانا راغلی دی. همدغه مولف(۱۴) زیاتوي چې د آرین په کلمه کې چې ریښه یې (آره) ده او دغه کلمه تر اوسه په پښتو کې ژوندۍ ده، لکه په اکبر زمینداوري چې د ګوډ تیمور معاصر و او د (۸۰۰هـ) په شاوخوا کې یې ژوند کاوه ویلي دي:

دغه آره یې سوه تېښګه زما په زړه کې
د غریب سره خندا کړي هوسېږي

ملا الف هوتك چې بحرالانسان یې په ۱۰۱۹هـ کې نظم کړی دی او وایي: "دی له آره و ښاغلی څه که سو په ویر تتلی"

پیر محمد میاصبي (۱۱۳۵هـ) وایي: "شیخ متي چې خلیلی و، دی له آره لوی والي و" تو "آره" د اصل او بنسټ په مانا پخوانۍ کلمه ده او تر اوسه هم ژوندۍ ده، چې د (هـ) اواز او سمبول تري غورځېدلی او "ین" ورسره یو ځای شوی دی، لکه: خاوره خاورین.

د اصیل، درانه او شریف کلمه په اریانا د خپل نسب په برخه کې استعمالوله او زیار یې کاږه چې په عمل کې پورتني صفات وساتي، لکه چې "W.N. Weech" همدغه مطلب ته اشاره کړې ده او هم په زند کې راغلي دي چې:

The name of Aryana by which they called themselves means noble.(15)

قاضي عطاء الله د پښتو تاریخ د لومړي ټوك په ۹ مخ کې د (آریا) لغوي ژباړه: "عبادت کوونکی"، "عقیده راوړونکی"، "قرباني ورکوونکی" ګڼي، مګر اصطلاحي مانا یې "نجیب"، "شریف"، "بادار"، "آقا"، "مالك"، "زړور"، "ځوانمر"، "میلمه پال"، "هېوادپال"، "ښه خوی" لري.(۱۶) آریاپانو داسې نوم ځان ته خوښ کړی چې تفرقه په کې نه وي. او له پردیو څخه وېژندل شي.(۱۷)

ان کله چې هند ته ولاړل له ځان سره یې د آریا نوم یووړ او په هغه نوي ملك یې د "آریاورته" یاني د آریا د "استوګنځي" نوم کېښود. دا لفظ د آریاورته چې ورشو د ژوو د پولو یا ځړ ځای ته وایي نوم له خانه سره یووړ.

د آریانا دائره المعارف په لومړي ټوك ۱۷۵ مخ کې د آریا د کلمې پر برخه کې راغلي دي چې د "آریا" کلمه د پخواني افغانستان د ړومبي (ویدي) ټولنې سرودونه پورې اړه لري. همدارنګه په پورتني مخ کې په "وي- وي- دوسن- مارتن) حواله ورکوي او کښل شوي دي چې د ویدي قبایلو په مذهبي مسایلو کې خپل ځان یوازې په یوه کلمه سره ستایلی چې هغه د "آریا" لفظ دی.(۱۸)

د اجتماعي علومو دائره المعارف د آرین کلمه په دوو ماناوو څېړلې ده، یوه د نسب په برخه کې چې هندوستانیان او ایرانیان هم ځان ته آرین وایي. بله د ژبې په برخه کې چې د اندو اروپایي او یا اندوجرمن کورنۍ ځرګندوي وټاکي. د فلالوژۍ، ټولنې پېژندونې او ګرامر له درکه د اندو یوروپین او ارین په منځ کې ډېر ورته والی شته چې دغه څېړنه "ویلیم جونز" (William Jones) پر ۱۷۸۶ کړې ده.

وروسته بیا فریډرج سکلد "Friedrich Schled"، جیمزسي پریچرډ "James C. Prichard" او نورو د دغو ژبو "سانسکرت، یوناني، لاتین، سلیتکت، جرمني اوسلونیك" کورنۍ یوه بللې او ویلي یې دي چې د دغو ټولو ژبو کورنۍ په هرو مرو یوه وي اوسرچینه یې له یوه ځای څخه ده.

پــر ۱۸۴۰ کــال ا.الــف، ق، پــوټ (A.F.Pott) د اریایـانو وطـن د هندوکـش د غرونـو درې پـه ګوتـه کــړې. همدارنــګه پکــټټ (Pictet) پــر (۱۸۵۹-۱۸۶۳) کې ځرګند کړې چې پلازنـي او اصلـي وطـن يې باکتريـا ده.(۱۹) خـو فريـد رچ مکـس مولـر د خپـل وروسـتي او پاخـه لکچر پـه برخـه کې ځرګنـدوي چــې د هنديــانو ايرانيــانو يونانيــانو، روميــانو، يوګوسـلويانو او جرمنيـانو کـامونو پـه مرکـزي اسـيا کې يـو ځاى ژوند کـاوه او يـوه ژبـه يې درلـوده.(۲۰) فرا ســويانو (انــګوتيل دوپـــرون Anguetil Doperon) پــه ۱۷۶۱، (کوردوکــش (Coredoux) پـه ۱۷۶۷ او (سـترويليم جونـز (William Jones) پـه ۱۷۸۶ کې د ويـدا او اوپسـتا د سـرودونو تـاييد کړى او عمومي عقيـده يـې منـخ تـه کـړې ده، چې د اريايـانو لومړنـي ځمکـه د هندوکـش پـه شـمال کـې د اکســوس حـوزه يـا د بـاختر برخـې دي. (۲۱) د دغـې نظريې پلويـانو (مکس مولـر) او فرانسـوالنو ماټ) پـر ۱۷۶۹ پـه يـوه تـاريخي پـروګرام کـې دا موضوع منلـې ده. همدارنـګه د همدغـه تـاريخپوه پـه پورتنـي اثـر کـې ګـڼـل شـوي چې د ريګويد پـه سرودونو کـې د اريايـانو مهاجرت اريانـا تـه يـا ګاونـډيو ځايـو (نـدو او فـارس) تـه ښکـاره ځرګندېږي، ځکـه ښخوا ترډي چې اريايـان (سپيتـه سـندهو) يـا (۷) سيندونه (اوسني پنجـاب) تـه ســېږي اولنـي مرکـز يـې د هندوکـش شـمال و. (ج پـروژي لرسـتکي) وايـې چـې: بـهليکا Bahlika د بلـخ نـوم دى. هغـه سيمه چـې ايرانيـانو بلـخ بللـه، هنديـانو بـهليکا او يونانيـانو باکتريـا ورتـه ويـل. د بورنيس په حوالـه هغـه سيمې چې د بـاختر او کـابل پـه منځ کې واقـع وې، تولـې د بـاختر پـه نامـه بلـل کېـدې. بلـه دا چـې ايرانيــانو بــاختر تــه (ختيـځ) ويلــې او هندويــانو (لوېدبـځ).(۲۲) دغــه پورتنــي نومونــه د ايـران او هنـد موقعيتونـو پـر اسـاس ورکـړل شـوي. د همدغـه مطلـب د پـوره ځرګندونـې لپـاره د سـراج التواريـخ پـه لومـړي ټوك کـې راغلي چې دي چې د اسلام تر تصرف وروسته بـاختر پـه دوو برخـو وېشـل شـوي، ختيـځ يـې د "روه" پـه نامـه او لوېديـځ يـې د کـابل، کندهار، سيمې تر ايرانـه پـورې چې مشـهور ښار يې هرات و وېشـل شـوي وو (۲۳) پـه اوېسـتا کـې د بـاختر او بلـخ د کلمـو مترادف پښتـون دى او پـه ريګويـد کـې يـې د پښتـون د کلمـې مترادف پکـهت راوړى دى.(۲۴) د بـهليکا ځـځـه قبـايل پنجـاب تـه تللي دي. دلتـه يـا هم شـايتېږي چې د اريايـانو قبايل د هندوکش لـه شمال ځخـه خپـاره شـوي دي او ځـکه چې اريايـان د هندوکـش د شـمال ځخـه مختلفـو ځايونـو تـه تللـي دي، نـو دوى تـه د "بلخ اريايي پرګنې يـا کتلـې ويـل کېږي".(۲۵)

همدارنــګه پــه ريګويــد کــې راغلــي نومونــه لکــه اپســتاين (نورسـتانيان) اپـاريتي (اپريـدي)، برهسـايان (بـربڅ)، بـهالايان (د بـولان درې اوسېدونکي)، پکتـان (پښتانـه) پوروان (د ګنـدرا خلـك)، شـيوايـن (د شـيوکو اوسـېدونکي). د اريـا ويجـه تېـې بلـل شـوي دي چـې دا هـم د اريايـانو مـهاجرت اول اريانانـه يـا ګاونـډيو ځايـو تـه پـوره پـه ډاګه کـوي. د اريانـا کلمـه چـې د ځاى مانـا لـري وروسـته پـه همدغـه وزن اريايـانو نـورو ځايونـه هـم نومولـي دي لکـه ورنګيانـا. چې يونانيـانو سرنګيا يـا زرنجـا هـم بللـي او د باکتريانـا.(۲۵)

اخځـيـك:

W.N.Weech. The History of the world) Odhams press. P. 32 will dorant. Oriental Heritage (Semon and Schustr) New York. 1942) p.397-398

او د اريانـا دائـره المعـارف لومـړى ټوك ۱۷۳ مـخ، نور الله تالقـاني

Edward D. Myers. Education in the Perspecive of-۲ History. NewYork. Harper and Brathers Publishers. 1960.

۳-حبيبـي، پوهـاند عبدالحـى: د پښـتو ادبيـاتو تـاريخ. ۲۳مـخ. ۱۳۵۶ لومـړى ټوك. دريـيم چـاپ

۴-سعيديان، عبدالحسين: دائـره المعـارف نـو، ۱۲۲۳ مـخ، لومـړى ټوك

۵- قـاضي. عطـاء الله: د پښتـو تـاريخ. حربـي پوهنتـون. لومـړى ټوك، ۸ مـخ، ۱۳۵۶.

۶- کـهزاد، احمدعلي: تـاريخ افغانسـتان.لومـړى ټوك. ۲۸ مـخ، ۱۳۴۶

۷- تالقـاني، نورالله: افغانسـتان مـاقبل تـاريخ ۴۹مـخ، ۱۳۶۱.

۸- اريانـا دايـره المعـارف. لومـړى ټوك. ۱۷۳ مـخ، ۱۳۲۹

۹ - توروايانـا، نجيب الله اريانـا يـا افغانسـتان ۲۵-۲۶مخونـه. ۱۳۱۹

۱۰- حبيبـي، پوهـاند عبدالحـى تـاريخ مختصـر افغانسـتان. لومـړى ټوك. ۷مـخ، ۱۳۴۶.

Willson Ariana Antiqna, London, 1841, P.22 -۱۱

۱۲- پورتنـى اخـځ، ۸ مـخ

۱۳- جلالـي نائـيني، سيد محمد رضـا: ګزيـده سـرودهاى ريګويـدا. ۹، ۶۳، ۳۲۹، ۳۵۷، ۳۷۷مخونـه. تـهران، ۱۳۴۸.

Will Durant, Our Oriental Heritage, (Simon and -۱۴ Schuste) Newyork 1942. P397.

۱۵-۳ اخـځ، ۳۲ مـخ او لومـړى اخـځ لومـړى برخـه ۱۱۱ او ۱۱۲مخونـه

۱۶- لومـړى اخـځ، لومـړى برخـه، ۲ او ۳ مـخ

۱۷- ۵ اخـځ، ۹ مـخ

۱۸- اريانـا دايـره المعـارف، لومـړى ټوك. ۱۷۵ مـخ، ۱۳۲۹.

Lecture on the Sociloge of Language. 1861 and -۱۹ Manueld. History and nene de 1, Orient 1869.

Friedrech Man Muller, Science of Language 1861, -۲۰ p.62.

۲۱- کـهزاد، احمد علـي: تـاريخ افغانسـتان، ۲۹-۳۰مخونـه. ۱۳۲۹.

۲۲- ۱۱ اخـځ.

۲۳- سـراج التواريـخ د کـابل چـاپ، لومـړى ټوك. ۳ مـخ ۱۳۳۱

۲۴- ۶ اخـځ، ۳۴-۳۶مخونـه

۲۵- حبيبـي، پوهـاند عبدالحى پټـه خـزانـه مقالـه ۱۳۶۲ل، ۴۳۹مـخ

***

جعفر اڅکزی

عالمګیر ادب

ادب ساتندوی دی. د هغو ټولنو تجربو او احساساتو چې انسان په خپل ژوند کې ورسره مخامخ کېږي. یا داسې ویلای شو چې ادب د الفاظو په وسیله د ژوند اظهار دی او په دې سبب لکه څنګه چې د ادب تخلیق له ژوند څخه کېږي، همدغه راز د ژوند تخلیق تر ډېره حده په ادب پورې اړه لري.

ادب زموږ د ژوند هغه محرکه هنداره ده چې په هغه کې د انساني ژوند مقصد، د انسانانو شخصیت، د هغو رنځ، غم، خندا، خوشحالي او نورو ټولو احساساتو او خیالاتو عکسونه ښکاره کېدلای شي. څرنګه چې هینداره موږ ته دوکه نه راکوي چې زموږ د څېرې بدنمايي پټه کړي، دغه راز ادب هم زموږ د ژوند خوش نمايي او بدنمايي څرګندوي او دنیا ته یې ښکاره کوي. دا بیله خبره ده چې هینداره خرابه وي او زموږ عکسونه صاف پکې را نه شي. پر ادب هم که داسې پردې واچول شي. نو یقیناً زموږ د ژوند رښتیني ترجماني نه شي کولای.

کوم شی نه چې حقیقي ادب وایو د هغه فرض دا دی چې په هر دور کې چې زموږ د هیواد هر حال وي د هغه اصلي نقشه موږ ته وړاندې کړي او د راتلونکي ښېګڼې منزل خوا ته زموږ لارښوونه وکړي.

ادب باید د دنیا هغه زړه وي چې د دنیا د درد او غم هر راز واضح او ښکاره وي. نن هغه زمانه نه ده چې کتابونه په کې محض د ساتېري په خاطر لیکل کېږي یا لو تل کېږي، بلکې د دې څخه نن موږ د ژوند کولو او د انسانیت د تشکیل کار اخلو. ادب او لطیفه فنون بې مانا او نیم شعوري تصور نه دی. بلکې دا زموږ هغه حربه ده چې موږ پرې پوره باور کولای شو. ادیب او لیکوال که د ژوند له مشکلاتو څخه تښتېدونکي انسانان نه وي، د ماضي پرستاران نه وي، د محدودو معلوماتو خاوندان نه وي. د عصبیت په منګولو کې نه وي. نو تر ډېرو لویو لویو سیاسي ټولنو هم زیات غښتلي وي.

یوازې ادب او د ادب پرستاران هغه کار کولای شي چې د نورو ټولنو او تنظیمونو والا یې نه شي کولای. د سیاستدانانو انجمن پر ملکي ګټو او پر نور هغه ذاتي مسایلو غور کوي چې له یوه خانګړي ټولنې سره اړیکې ولري. یا په زیاته له یوه ملک سره. دغه حال د هغو انجمنو دی چې د یو خاص مسلک په باره کې د هغه د غوروالي خیال ټینګوي او د انسانیت او وحدت هغه خوب چې ټول عمر د دنیا لویو مدبرانو لیدلی دی هیڅ کله نه پوره کېږي

خو د دې پر عکس ادیبان او لیکوال یو داسې ټولنې دی چې په حقیقت کې د انسانانو د مادي او روحاني ضرورت احساس لري. دوی د محدودو او لوېدلو تصوراتو څخه ډېر لوړ وي او د ټولو انسانانو د عامو جذباتو ترجماني کوي او په عوامو کې د نویو نویو صلاحیتونو د پیدا کولو کوښښ کوي. د دوی سوچ او لیک یوازې تر امریکې او برتانیې پورې محدود نه وي.

ادیب د ټولې دنیا د خلکو د احساساتو هغه ګډ جذبات راټولوي چې پر هغو ټولو ټبرې لړزانده ده. په دې سبب د ادیبانو څخه چې موږ ته کم امید پیدا کېدلای شي، هغه د یوه سیاسي انجمن څخه شونی نه دی. ادب په روح یو زبردست اواز دی. چې پیش نظر ژوندون ته کتو سره پیدا کېږي. په دې سبب د ادب نه یوازې دا کار دی چې هغه د نویو شیانو په باره کې زموږ په احساس کې تحریک او خوځون پیدا کړي بلکې زموږ موجوده معلوماتو او اصلاحاتو ته ترقي او کومک ورکول هم د هغه کار دی. یانې د هغو شیانو سره چې موږ نا اشنا یو، ادب د هغه سره موږ اشنا کوي او د کومو شیانو سره چې في الحاله اشنا یو، له هغو سره زموږ د اشنایي احساس نور هم زیاتوي

۵۸ مخ

استاد محمد پرویش شاهین

ډاکتر تږی، "پښتانه او مهاجرتونه"

د ګران او پیاوړي هېواد افغانستان، تر او ساهو ولس په خپله خاوره داسې ورك مېن دی چې ځان ورکوي، خو دغه د نیکه سپېڅلي تاتوبی چا ته نه پرېږدي او تل یې ازاد، برېالی او د سیالو سیال ساتي. هم دغه شان دغه نجیب ولس د خپلې ژبې، خپل تاریخ او خپل کولتور په باب هم ډېر پوخ، تکړه او هوښیار دی، چې په هر قدرت خپله ژبه او خپل کولتور له ورکېدو نه په امان ساتي.

افغان پوهانو له دې دومره ستړنړو سره سره، د بېوزلۍ په ډېر بد حالت کې بیا هم د خپل هېواد او ولس په اړه له تاریخي څېړنو نه بې غوره او بې خبره پاتې نه شول.

همدا لامل دی چې هم د دوی په زیار، کړاو، هڅو، مینه او جذبه نن دا خاوره، دا خلك، دا ژبه، دا تاریخ او دا کولتور ژوندی دی. که چېرې دوی له دې سره دومره ژوره مینه او نه شلېدونکې مینه نه لرلی، بیا یې ورته په وخت پام نه کولی، نو د دنیا یرغلګرو به دا هر څه پخوا له بېخه وړي وو. نن که په نړۍ کې د افغان د شجاعت، ننګ، نړوالي او نه ایل کېدونکي ولس اوازه خپره ده او که د نړۍ په ګوټ ګوټ کې میوزیمونه او ادارې په افغان کولتور څېړنې کوي او که بل اړخ ته د نړۍ راډیوګانې، اخبارونه، رسالې او د میډیا نورې وسیلې د پښتو ژبې او ادب خپرونې کوي نو دا د دې نر، باسواد، با شعور ولس د تندي خوله، د جیب پیسه او د زړه وینه ده، چې له هر ځای نه چیغه پورته کېږي:

"ALL TIME GREAT AFGHAN"

په رنګ او کالیو کې به ساده باده او پاك نالوستي شان ښکاري، خو چې خوله پرانیزي، خبرې پیل کړي نو داسې معلومېږي، لکه د خپل وخت اپلاتون چې لیکچر ورکوي. د خپل تاریخ خپل کولتور، خپلې ژبې او خپل ادب سره سره د نړۍ د هرې بې سدې نه په خبر هر یو یې په خوله کې د ګبین شتمنې لري. په زړه ښتینې او بې الاچه مینه او ملګرتیا لري او د بل په احترام پوهېږي هم او کوي یې هم. او چې ګله خوك خدای وهلی، نو د ده په ژبه کولتور، تاریخ او خاوره یلوسه وکړي، او دی بیا د سرو مچیو خاله ده چې راپارېږي. همدا لامل دی چې په نړۍ کې ورته څوك په مقابل کې د ودرېدو او ښتون تېولو نه دې پاتې شوي.

د پښتنو د پوهې او هنر په ډګر کې او د تاریخ، تحقیق او ژنیو څېړنو په میدان کې داسې سترګور پوهان پیدا شوي چې سری یې پوهې، علم، زیرکتیا، لوړتیا او معلوماتو ته پسخېږي. ډېر لوی لوی تاریخپوهان پکې پیدا شوي دي چې په دې تېرو پېنځو کلونو کې یې د خپل ګران هېواد په هر اړخ داسې ګټور لیکونه کړي دي چې د سړي پېرې له زړه له خوشالېږي.

نن یې هم دا ښمسور باغ او چمن له ډېرو ښایسته ښایسته او ښکلیو ښکلیو، رنګدارو او کلورینو سوتو نه ډك دی. ښه پرېمانه او ښتمن دی. چې په دغو ګولونو کې یو ښایسته ګل ډاکتر حبیب الله تږی دی. ډاکتر صیب ډېر کار او د خپل فرهنګ ښتینی خدمت کړی دی. قلم یې روان او چلنده دی. لوسته یې ډېر پراخه. معلومات یې ډېر او ماغزه یې د کار لایق او د لیکلو په چل ډېر ښه پوهېږي.

ما یې ډېر څه په کتابو، رسالو او اخبارو کې لوستي دي چې ډېر ډېر خوږ، خواږه علمي معلومات او خبرې لري هر وخت یې په لوستو ډېر ښتمن او خوشال شوی یم.

څه مهال دمخه چې "ازاد افغانستان" لاډ اخبار په پېښه خپرېده، په هغه کې د تږي صیب په پښتو او پښتنو باندې ډېر ګټورې او غوره لیکنې خپرې شوې وې. یو لیکنه نیمه

يې يا دغه اخبار چې د رسالې بڼه يې درلوده، په هغې کې هم ولوسته. د ازاد افغانستان دغه مضامين مې په يوه دوسيه (فايل) کې د کار کولو لپاره خوندي کړل او "د نورو ليکونو په تمه وم، چې په دې کې مې د ښاغلي ليکوال زلمي هېوادمل په دفتر کې د ډاکټر صيب د کتاب يوه کمپيوټر شوې نسخه وليده، چې زه ورته يا لکه د روژتي د اوبو په تمه وم. له ښه مرغه چې څو ورځې وروسته مې په "دانش کتابتون" کې دغه کتاب چاپ وليده. کتاب مې راواخيسته، که څه هم ګرمي د پښتنو له پاريس (پېښور) نه د لنګر تنور جوړ کړی و. خو راغلم، پرېوتم او کتاب مې لوسته.

د ډاکټر تړي صيب دا کتاب بې شکه چې ښه کتاب دی، نوم يې ورله "پښتانه" ايښې دی، چې اته فصلونه لري، د پښتنو اصل او نسب، د پښتنو اصل او ريښه، پښتون افغان، پښتانه پخوا چېرې اوسېدل، پښتانه او مهاجرتونه، يوه تحليلي تبصره، بابر او پښتانه، افغانستان- چې هر يو فصل يې د پوره پوره اخځونو رڼا کې ليکلی او له موضوع سره يې پوره پوره خواري کړې ده. بل مخ ته پرې نامتو ليکوال زلمي هېوادمل تفصيلي رايه هم ليکلې ده.

زه دا مهال د محترم ډاکټر صيب په دې ټول کتاب تبصره نه شم کولی، کېدی شي په کراره کراره پرې وخت پر وخت څه بحثونه وکړای شم. دلته زه اوس د دغه کتاب پر يوې برخې "پښتانه او مهاجرتونه" باندې غږېږم. ځکه پرې غږېږم. چې يا خو ډاکټر صيب خپل لوی نظر ځينو خايونو ته نه دی رسولی او د يو کتاب او يا يو ليکوال د وينا له امله يې بل کتاب کنډلی دی. بل دا چې د ډاکټر صيب بيان د دې مهاجرتونو په بيان کې اصلي اخځ "تواريخ حافظ رحمت خاني" څه په داسې انداز کې په مخه اخيستی چې د سړي د يوسفزو په دې مهاجرت شک پيدا شي. چې دا يوه بېخي فرضي کيسه ده. بې شکه چې تواريخ حافظ رحمت خاني يو مات ګوډ کتاب دی. ډاکټر صيب د دې اصلي اخځونو اړخ ته پام نه دی ګرځولی. په دې اړه ښاغلي ډاکټر صيب د ښاغلي هېوادمل دواړو غټو، درنو او مستندو کتابونو ته رجوع کړې وای. يا يې د دې کړښو د ليکونکي هغه ليکنې له تېرو دوو کالونو راهيسې په دې تاريخ او په دې موضوع د کراچۍ په پلوشه او جرس او د پېښور په ليکوال او ښکلا رسالو کې چاپ شوي دي – ليدلې وای. او يا يې له ټولو نه غټ او لوی ثبوت د ميجر ريورټي په کتابونو او د هغوی په لومړنيو ليکونو چې د دې کتاب د اصلي اخځونو په اړه "ايشاټک سوسايټي" رسالو کې چاپ کړي دي. پام رسولی وي- غوره به وای، ډاکټر صيب په داسې ځای کې اوسېږي چې هلته خو دا نمونه ريکارډ ټول شته دي. په ډېر اسانه يې ګوتو ته هم ورتلای شول. موږ خو د سوال په اوبو ژړنده ګرځوو او د ځای ځای نه مو فوټوسټيټونه را غونډتي دي.

کله چې د ډاکټر صيب مضمون د "ازاد افغانستان په اخبار کې چاپ شو او څه د نورو عزتمندو او پوهو ليکوالو ليکونه مې مخې ته وو، ما پر دغه وخت يوه مقاله "ګندهارا" ته وليکه چې له اداري نه د کمپيوټري ستونزو له امله وځنډېده. هغې کې ما اشاره کړې وه چې د ډاکټر تړي صيب بيان مې له نظره تېر شوی دی.

اوس چې د ښاغلي ډاکټر تړي کتاب زما په لاس کې دی او زه د هغوی د پښتنو مهاجرتونو په لړ کې يوازې د يوسفزيو د مهاجرتونو نه چاج اخيستل غواړم او هغه هم له دې امله چې د دې موضوع د يوه مينه وال په توګه ځانګړی کتاب ليکل غواړم. نو هسې نه چې تېر وځم. تيندک وخورم او د قام او ولس تاريخ ګډوډ کړم، نوځېله خبره په دې اميد رامنيخ ته کوم چې پښتانه پوهان او بيا په ځانګړي توګه ډاکټر تړی پرې راته څه نور ليک وکړي، ليت (خراخ) راته ولګوي، چې لاره مې رڼا او بې پېچومې شي او د قام تاريخ تاريخ پاتې شي. شک، مبالغه او افسانه تړې لرې شي.

دلته تر ټولو نه لومړی د ډاکټر تړي صيب هغه ټول اقتباسات وړاندې کوم چې هغوی يې په دې اړه مستند، غوره او مدلل نه ګڼي، که څه هم دا اقتباسات به اوږده او ډېر وي، خو دخبرې د پخلي لپاره به داسې کول اړو مړو وي.

د يوسفزو دمهاجرت په اړه په سوونو او شلګونو ليکلي او ناليکلي روايات موجود دي، چې د ډېرو يې ذکر ډاکټر تړي صيب په خپله هم کړی دی او ځينې نور داسې هم شته چې يا خو اوس بېخي ورک دي او يا يې موږ ډلتون هڅه نه ده کړې. ځکه چې نومونه يې شته. د ليکوالو نومونه يې شته، توتې او برخې تړې اخيستل شوي او ورکې شوي دي. د يوسفزو د مهاجرت په اړه اوس مهال ته څه نږدې رانږدې غټ زاړه، پاخه او بنيادي اخځونه درې دي. چې يو د اخون درويزه کتاب تذکرة الابرار و الاشرار دی. دويم د بابر باچا توزک دی او دريم او اصلي تواريخ حافظ رحمت خاني دی. که څه هم دا يو ډېر وروسته او بيا بيا ليکل شوی کتاب دی او دا چې چا چا ليکلی له څه نه يې ليکلی او بنيادي اخځ يې کوم يو دی، څرګنده نه ده. نو که دا تواريخ حافظ رحمت خاني هر څو نوی چاپ او نوی مو نډل شوی کتاب دی، خو اخځونه يې زاړه دي، خو مو ندونکي او ترتيبوونکي له خوا ورسره داسې ناقصه لوبه په اراده يا په ناپوهۍ شوې ده چې څېره يې ور له ورانه کړې ده. او پښتانه يې له يو لوی تاريخي نعمت نه محرومه کړي دي ځکه چې دا د پښتنو د تاريخ وړومبی کتاب دی، چې پښتو ژبه ليکل شوی دی. ورسره دا هم په خيال کې ساتل په کار دي چې ايا د دې اصلي اخځ چې په کوم وخت کې ليکل شوی و، په دغه وخت کې په ګرد چاپېره نړۍ کې د تاريخ ليکنې دود او مقام څه و. دغه وجه ده چې که هر څو زموږ د بې غوري له امله دغه

اصلي اخځ زموږ له ګوتو ووتو، خو بيا هم دا خبره ډېره سمه جوته ده، چې پښتانه په دغه اوان او زمان کې له ليکلي تاريخ ليکنې څخه بې غوره هم نه وو او بې سواده هم نه وو.

خبره رالنډوو، دلته اوس د ډاکټر صيب اقتباسات په پوره ډول راوړو، بيا به په دې اړه د نورو اخځونو يادونه وکړو او ورپسې به پر کره کتنه را وګرځو. محترم ډاکټر صيب په دې عامو مهاجرتونو او بيا خاص د يوسفزو د مهاجرتو وخت نېټې اوښتو په اړه خپل شکونه په دې ډول وړاندې کړي دي:

۱- څرنګه چې تواريخ حافظ رحمت خاني د پښتني قبايلو د پېښو د بيان په باره کې تر ټولو نه پخوانى لاس ته راغلى مفصل سند دى، نو له دې امله خارجي مولفينو، لکه الفنستن ان د نولسمې پېړۍ له اوايلو نه او وطني ليکوالو د دې اثر له پيداکېدو او چاپېدو نه وروسته ډېره زياته توجه ورته کړې ده. پښتانه، ۱۴۲ مخ.

۲- تواريخ حافظ رحمت خاني د انشاء په لحاظ د پښتو نثر يو ډېر برازنده اثر دى او کېدى شي چې په معلومو ليکل شويو آثارو کې د پښتو د نوي نثر لومړنى نمونه وبلل شي، خو په تاريخي لحاظ يو شمېر نيمګړتياوې او داسې خواوې هم لري چې ښايي له تاريخي واقعيتونو سره اړخ و نه لګوي. پښتانه ۱۴۲مخ.

۳- او يا دا چې له تاريخي ماهيت نه يې روايتي او افسانوي بڼه ډېره قوي وي. پښتانه، ۱۴۳ مخ.

۴- کله چې سړى تواريخ حافظ رحمت خاني د بابرنامې له هغو برخو سره مقايسه کوي، چې د عين وخت پېښې پکې بيان شوي دي، نو دې نتيجې ته رسېږي، چې د تواريخ يو شمېر ټکي د جدي تامل وړ دي. يو له دې ټکو نه له کابل نه د پېښور په لور د دغه مهاجرت وخت دى. پښتانه، ۱۴۳ مخ.

۵- کله چې سړى د تواريخ دې عبارت ته د پښتني ټولنې له اجتماعي ذهنيت سره يو ځاى ځير شي، نو په پوره اطمينان ويلى شي چې تواريخ د يوسفزو د مشرانو قتل عام، د الغ بېګ مرګ او په کابل کې د بابر قدرت ته رسېدل يو بل ته ډېرې سره نژدې پېښې ګڼي او د الغ بېګ د مرګ او د يوسفزو د مهاجرت د پيل تر منځ فاصله بايد حد اکثر له دوو درېو کلونو نه زياته نه وي. پښتانه، ۱۴۵ مخ.

۶- د يوسفزو د مشرانو د قتل عام پېښه او له کابل نه د پېښور په لور د يوسفزو عام مهاجرت بايد د کال ۱۳۸۵ او يا ۱۴۹۵ په حدود کې شوي وي. پښتانه، ۱۴۴مخ.

۷- تواريخ د الغ بېګ د مرګ په باره کې ليکلي: په هغه وخت کې الغ بېګ د يوسفزو په خلکو ظلم او جبر زيات کړ او جلا وطن (يې) کړل. الله تعالى په دې هم عذاب کېښود په دوارو ورونو يې يوه وختله، په ډېرو سختو ومړ، وروسته له يو څو مودې نه محمد بابر... بادشاه شو. ۱۴۵ مخ.

۸- او دا ټکى چې يوسفزي د هغوى د مشرانو له قتل عام نه وروسته... بالکل خوارو زار او حيران و پرېشان خانه دار له خپلو ګډو سره... په بنکته پېښاور ته روان شوو او شمېر يې هم دومره کم و چې تواريخ وايي چې خيبر کې ټول د يوې ونې سيورې لاندې ځاى شو. ۱۳۶مخ.

۹- داسې ښکاري چې يوسفزي بايد په کابل کې د بابر د پاچايۍ په وخت کې د کوزې پښتونخوا يو برخې نوى، کوچنى او کمزورى مهاجر قوم و، خو کوم مطالب چې په دې ارتباط په بابرنامه کې راغلي هغه داسې ښيي چې يوسفزايان د بابر د سلطنت په ابتدا کې په کوزه پښتونخوا کې يو ګڼ، غښتلى او بېخي آباد قوم دى. پښتانه، ۱۴۶ مخ.

۱۰- ۱۵۱۹ کې خو يوسفزي د کوزې پښتونخوا دومره د قوت او حيثيت خاوندان دي، چې بابر يې د ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره خپنې ورسره کوي. ۱۴۷مخ.

۱۱- چې يوسفزي په کال کې د بابر د پاچايۍ په وخت کې د کوزې پښتونخوا يو کوچنى بېوزلى او ناتوانه قوم نه، بلکې يو ګڼ، غښتلى او اباد ولس دى، چې د کوزې پښتونخوا په سيمه سوات اوځينو نورو سيمو کې بېخي مسلط دى. خو که يوسفزي لکه څنګه چې تواريخ وايي په کابل کې د بابر له قدرت ته رسېدو نه لږ دمخه بالکل خوار و زار او پرېشان پېښور ته تللي وي او شمېر يې هم بېخي کم وي، نو بابر به دومره اعتنا نه وى ورته کړې. پښتانه، ۱۴۸

۱۲- سړى په پوره اطمينان ويلى شي چې د يوسفزو د مهاجرت زمانه او نېټه د اعتبار وړ نه ښکاري. ۱۴۹مخ

۱۳- لنډه دا چې نه يوازې د يوسفزو د مهاجرت د وخت او تاريخ په باره کې د تواريخ حافظ رحمت خاني د روايت منل ګران ښکاري. بلکې د دغه اثر يو شمېر نور مطالب هم د تامل وړ دي. ۱۵۳.

ډاکټر صيب د خپلو دې بيانونو د محکمتيا او سپيناوي په اړه د تواريخ حافظ رحمت خاني او د اخون درويزه د تذکره الابرار و الاشرار مقايسه کوي او ليکې د يوسفزو د مهاجرت او مربوطو مسايلو په باره کې يو بل ټکى هم د توجه وړ دى.

د تاريخ حافظ رحمت خاني اصل يعنې د "تواريخ افاغنه" او د اخون درويزه تذکره الابرار و الاشرار تقريباً په يو وخت کې ليکل شوي دي، خو کوم مطالب چې د يوسفزو د مهاجرت او مربوطو مسايلو په ارتباط يا تذکره او تواريخ دوايرو کې راغلي په يو شمېر اساسي مشترکو ټکو کې توپير سره لري او کله چې دواړه په عين پېښه غږېږي، نو ډېرې خبرې له يو بل سره اړخ نه لګوي. دا دي دلته موږ په دې لړ کې يو څو ټکي يادوو:

۱- په تذکره کې د هغه وخت د کابل د واکدار نوم ميرزا قلي بېګ ليکل شوى، خو په تواريخ کې "ميرزا الغ بېګ" راغلى دى. ۱۵۴ مخ.

۲- درویزه په هغه وخت کې په کابل کې د یوسفزو تر تولو نه لوی مشر سلطان شاه بولي او والي چې ملك احمد د سلطان شاه وراره و، مگر تواریخ حافظ رحمت خاني وایي چې هغه وخت کې په کابل کې د یوسفزو تر تولو نه لوی مشر ملك سلیمانشاه و او ملك احمد د سلیمانشاه وراره او د سلطانشاه زوی و. ۱۵۴مخ.

۳- درویزه وایي چې د کابل یوسفزي د خپلو مشرانو له قتل عام نه وروسته لغمان ته ولېږدل او هلته له گگیانو سره ډېره شول، خو تواریخ وایي چې یوسفزي د خپلو مشرانو د قتل عام له غم لړلي پېښې نه وروسته دخیبر له لارې پېښور ته کډه شول، هلته دلزاکو دوابه ورکړه او پکې مېشت شول. ۱۵۴مخ.

۴- درویزه وایي چې په کابل کې د یوسفزو نه سوه مشران ووژل شول، خو تواریخ بیا د دغو مشرانو شمېر اووه سوه ته بولي. ۱۵۴مخ.

په وروستي سر کې محترم ډاکټر صیب خپله خبره داسې پای ته رسوي:

له دې تولو یادونو نه داسې ښکاري چې ښتانه په مختلفو وختونو کې له مختلفو ځایونو نه بېلو بېلو ځایونو ته لېږدلي دي، خو معمولاً ډېرو غیر افغاني لیکوال او د هغوی په تقلید زما په شمول ډېرو افغاني لیکوال دا خبره کړې ده، چې گوندي ښتانه د پښتونخوا له یوې مشخصې او محدودې غرنۍ سیمې نه، له ځوارلسمې او پنځلسمې پېړۍ نه را دې خوا ته د دغې خاورې نورو سیمو ته لېږدېدلي دي. خو دا خبره له هغه یادونو سره اړخ نه لگوي، چې پخوا مو لوستل. ۱۵۴مخ.

د محترم ډاکټر تېرې هغه بیانونه موږ بشپړ رانقل کړل، چې اوس پرې بحث کول غواړو.(۱)

د ښاغلي ډاکټر صیب د خبرو له کره کولو نه دمخه زه یو څو نور داسې مسایل څېړم، چې تعلق یې هم د یوسفزو د همدغه مهاجرت او د دې مهاجرت د وروستي اخځ حافظ رحمت خاني په اړه دی. ځینو خلکو د تواریخ په لیکنه شك کړی، ځینو یې په بیان شك کړی. ځینو ځینې واقعات د مبالغې وړ گڼلي دي. ځینو یې د اصلي نسبت په باب له خپله انده نظریه څرگنده کړې ده. دا هغه خبرې دي چې د ډاکټر له لیکنو نه مخکې پرې ډېر بحثونه شوي دي.

د پښتنو په اړه له کمي او زیاتي سره سره په اول لف کېرو تاریخ یو داسې تاریخ دی، چې د پښتنو په باب یې د سند درجه موندلې ده. د هغوی بیان په هغه کتاب کې چې پښتنو اکیډیمۍ د "پټان" په نامه په اردو ژباړلی دی داسې دي:

"مسلمانوں کلے ہوئے وقائع جن کی بنیاد بدیہی طور پر ہم عصر پشتو تحریریں ہیں. تاریخ کے اس دورے متعلق ہیں. بد قسمتی سے ان وقائع میں اس سے پہلے کی تاریخ مفقود ہے. ایسی کئی کتابیں موجود ہیں، جنہیں یوسف زئیوں اور ان کے قرابت داروں کی تاریخ قرار دیاجاتا ہے. ان میں سے سب سے زیادہ مشہور کتاب تاریخ حافظ رحمت خان ہے. جس کا حوالہ ماونٹ اسٹورات الفنسٹن اور ان کے ہم عصر روسی پروفیسر برہنارڈ ڈارن نے بھی دیا ہے. یہ کتاب ۱۱۸۴ ہجری (۱۷۷۰ء) میں فارسی زبان میں لکھی گی ہے. اور دیورٹی کے دعوے کے مطابق اس کی بنیاد یوسفزئی سرداران شیخ ملی او خان کجو کی وہ پرانی پشتو نثر کی تحریریں ہیں. جو اب نایاب ہیں، شیخ ملی اور خان کجوسولویں صدی کے نصف او اوائل میں گذرے ہیں اور آگے کر مناسب مقام پر ان کا تذکرہ کیاجائے گا. یہ بات یقین سے نہیں کہی جاسکتی کہ شیخ ملی او خان کجو نے جو بابر اور ہمایون کے ہم عصر تھے، یہ کتابیں لکھی بھی نہیں یا نہیں. پٹھان / کیرو محبوب علی." ۲۳۵مخ.

مخکې یو بل ځای دا مورخ لیکي: "بالفرض اگر ان بزرگوں نے کچھ لکھا بھی تھا، تب یہ بات دلچسپی سے خالی نہیں کہ جب تک بابر منظر عام پر نہیں آیا اور اس نے قبائل کی تاریخ نویسی کی ابتداء نہیں کی، پشاوری قبائل کے متعلق خود ان قبائل میں سے کسی کی لکھی ہوئی کوئی تحریر دستیاب نہیں تھی. ایسا معلوم ہوتا ہے کہ مغل اعظم کی آمد سے قبایل کے وقائع نگاروں میں خودی کا احساس پیدا ہوا. ۲۳۴

او بیا مخکې دا رنگې لیکي: "یہ بات یاد رکھنا کی ہے کہ یہ تمام قبایلی وقائع غیر علمی اور یہ وثوق سے نہیں کہا جاسکتا کہ اتنے بڑی پیمانوں پر کسی زمانہ میں ترک وطن کا واقعہ پیش بھی آیا یا نہیں. پټهان. ۲۴۸مخ. کېرو، سید محبوب علي، پښتو اکیډیمي، ۱۹۶۷

سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل هم د دې کتاب (تواریخ حافظ رحمت خاني) ځینو بیانونو ته د شك په نظر کتلي او د مبالغې وړ افساني په توگه یې گڼلي دي، دی لیکي: "میرزا الغ بیگ د بابر تره و او د یوسفزو سره هم د بابر تعلقات و، لکه چې د ملك شاه منصور (چې د ملك سلیمان زوی و) او بي بي مبارکه بابر ته واده شوې وه. بابر یو ډېر صاف گو او سپین زړی انسان و. هغه خپله تول واقعات په ډېره صفایي لیکلي دي. تو که چېرې د

۱- د پېښور او کراچۍ په بېلا بېلو خپرونو (ښکلا، جرس، پلوشه....) کې د یوسفزیو د لېږد او "تواریخ حافظ رحمت خاني" په اړه زما کې شمېر لیکنې خپرې شوې دي، کاش ډاکټر لړې صیب هغه هم د "ښتانه" له لیکلو نه دمخه کتلې او کره کړې وای. په دې توگه به موږ باوري سندونه تر لاسه کړي وای.

میرزا الغ بېګ د لاسه د یوسفزو د تښه سوه مشرانو د قتل افسانه او د دې قبایلو د مهاجرت واقعه په حقیقت کې شوې وي. نو یقیناً به بابر د هغې ذکر کړی و، ولې بابر د دې واقعاتو په باب کې قطعي خاموش دی. د دې نه دا اقتباس کېدی شي چې دا واقعات به د مبالغې نه خالي نه وي." ظفر، ۱۳۱۵

خو دی د خپل دې بیان نه لږ مخکې دا هم لیکي: د خاني خېلو، غوریه خېلو دخپلې اصلي مېنې (کندهار غزني علاقې) نه د وادي پېښور، سوات، بونېر، و غیره و غیره علاقو په لور مهاجرت د دې قبایلو او دلزاکو تر منځه خوفناک جنګ او د هغې په نتیجه کې د غوریه خېلو تباهي د یوسفزو له خوا ګګیانو، تره د دوو اوه او مهمنزو تره د هشت نغر علاقه نه ورکول او داسې نور واقعات چې د روایاتو په بنا پورته ذکر شول. داسې خبرې دي چې په هغې یقین کول ګران دي او داسې معلومېږي چې پښتنو مورخینو د دې قبائلو د دې روایتي مهاجرت او اباد کارۍ په هکله د مبالغې نه کار اخیستی دی او واقعات یې بې ترتیبه او بې تاریخه د خوفناکو جنګونو په شکل کې پیش کړي دي. ۱۳۵۸ بهادر شاه ظفر، پښتانه د تاریخ په رڼا کې، د چاپ کال نه لري.

کله چې پښتو اکیډیمۍ دا کتاب تواریخ حافظ رحمت خاني د لوی پښتون خان روشن خان په مالي مرسته چاپ کړ، نو ډېرو خلکو پرې خوشحالي ښکاره کړه، چې د پښتنو په اړه په پښتو ژبه لیک، څه نه څه تاریخ خو مخې ته راغی. خو پوهانو هم د دې جاج واخیست او دغه پوهانو کې یو اروانباد عقاب خټک صیب هم و، چې په دې کتاب په ډېره سخته او تنده ژبه کې یو ښه مضمون ولیکه، چې نورې ډېرې خبرې پکې وې، خو یوه عمده خبره پکې دا وه چې "دا تواریخ حافظ په اصولو نه ده لیکل شوی، او په دا کې افسانې او غیر مصدقه روایاتو عنصر زیات او د تواریخ برای نام دی. (او دا یې ورسره هم مخې ته راوړه چې) اګر که هغه نه د معظم او نه د رحمت خان تصنیف یا تالیف دی. دا کتاب د پهادرخان داودزي د کتب خانې نه بر آمد شوی دی او یو خلیل لیکلی و. تواریخ حافظ رحمت خاني، پښتو رساله، ۱۹ مخ مارچ ۱۹۷۷.

دغه شان یو بل نومورې محقق ډاکټر سید چراغ حسین شاه د دې کتاب د اصل لیکوال په اړه خپله پوهه وړاندې کړه. چې دا کتاب په اصل کې د چا لیک دی، چې دغه مقاله وروسته بیا دهغو په کتاب "دود چراغ" کې بشپړه چاپ شوه.

د تواریخ حافظ رحمت خاني چې په پښتو ژبه د پښتنو ړومبی او د یو پښتون تاریخپوه کتاب دی، په اړه چې ښاغلي ډاکټر تړي او نورو پوهانو فاضلانو څه څه لیکلي دي او په دې کتابو د دې په ځینو ځینو بیانونو، وخت، نېټه، پېښو او منصف، مولف و غیره باندې یې چې ځینې نیوکې کړې دي او د دې کتاب تاریخ حیثیت شتوالی یې چې څه ډول کتلی دی. له ښېلا ښېلو ځانګړتیاو سره سره یې حتی چې د دې کتاب له شتوالي څخه انکار کړی دی. دغه هر څه تر یوه حده په پوره ډول راوړل شول. اوس به دا روښانه کړو، چې کوم کوم ځای، موږ د کوم کومت "شك"، "مبالغې" او "افسانې" په اړه ګوته ایښودې شو. چې کره کتنه یې وکړو او څه سپینه او بې شکه خبره منځ ته راوړو. که ما را نه وړی شوه، نو پښتنو پوهانو ته خواست دی او بیا خاص پښتو اکیډیمۍ ته چې د دې کتاب په اړه ځینې کوټلې او پاخه معلومات رامنځ ته کړي. ځکه چې دا تر دې دمخه د پښتنو په پښتو ژبه او د پښتون تاریخپوه له قلمه راوتلی ړومبی کتاب دی. د دغې موضوع په څېړنه به دا را څرګنده شي چې د تاریخ اصلي اخځ کوم دی؟ او د څو یا څو تاریخپوهانو لیکوالو دعوې پرې وکړای شوې او پرې کېدای شي.

که چېرې د دې تاریخ اصلي او بنیادي اخځ معلوم کړای شي او هغې پسې لټه وکړی شي، نو کېدی شي چې هغه اصلي اخځ هم وموندل شي. د تاریخ نه پوازې دا چې د پښتنو وړومبی تاریخ دی. کېدی شي چې کوم ته چې د ده وړومبی اخځ وبلی شي، هغه کې هم د څه نورو تاریخونو او کتابونو حوالې وموندل شي. او په داسې کولو به دا یوه خبره د فخر او وياړ ډکه ثابته شي چې پښتون ولس د خپل تاریخ په اړه بېخي ناغرضه او ناپوهه نه دی پاتې شوی. ځکه چې د دې اصلي اخځ بابرنامه، څه چې د دغه وخت سوېلې او منځنۍ اسیا د سیمه پېزو تاریخونو، نه هم مخکې خي او دا فخر او افتخار د پښتون کاله ته راځي چې نور چا هیڅ نه لرل. نو دې پښتون کاله لرل.

زما خو خپل دا خیال دی چې که لټون وکړی شي او خورې ورې کړې یو ځای شي نو دا به معلومه شي چې پښتانه د خپل تاریخ، ژبې او کلتور په اړه تر نولسمې پېړۍ پورې ډېر ښه و او بېخي په تیارو کې نه دي پاتې شوي. او لوی شوی. دا اولف کیرو دا خبره موږ ته پوره ده کنه. "مغل اعظم کی آمد سے قبائل کے وقائع نگاروں میں خودی کا احساس پیدا ہوا". ●

د هېواد د ژغورنې لپاره عملي کار ته اړتیا ده

ښاغلیو او ګرانو لوستونکیو!
د هېواد له ستر خدمتګار ښاغلي ډاکتر عبدالوکیل سره مو په زړه پورې مرکه کړې، تاسې به په دې مرکه کې د ډاکتر صاحب سره د ژوند له لومړیو ملګري شئ او د ده د ژوند په اړه، به په زړه پورې خبرې واورئ. تاسې به ولولئ چې افغانستان د اوسني کشالې نه څنګلې وتلای شي؟ ځوانان او نوی نسل څه وکړئ؟ او داسې نور په زړه پورې معلومات، نور نو مو د مرکې لوستو ته رابولو.

ښاغلی ډاکتر صاحب، تر هر څه لومړی که د ژوند له لومړیو کالو راته وغږېږئ، لومړی او منځنی زده کړې مو چېرته کړې دي؟

د لوی خدای په نامه.

پر ۱۳۰۲ ل کال د ورې په میاشت کې په کابل کې زېږېدلی یم، لومړی زده کړې مې د کابل ښار په استقلال غازي ښوونځي کې کړې دي، هغه وخت یې تر لومړي ټولګي مخکې یو بل ټولګی درلود چې د ابجد په نامه یادېده او چې په دغه ټولګي کې به بریالی شو، نو بیا به په لومړي ټولګي کې شاملېده.

څلور پېنځه کاله مې په همدغه "استقلال غازي" ښوونځي کې زده کړې وکړې، بیا وروسته "استقلال غازي" ښوونځی دوه ښوونځي شول، یو د "غازي" په نامه او بل د "استقلال" دوې لیسې شوې او زه په غازي کې پاتې شوم. تر دولسمه مې په همدغه ښوونځي کې لیک لوست وکړ او پر ۱۳۲۱ل کال له دولسمه فارغ شوم.

او ډاکتر صاحب لوړې زده کړې؟

کله چې له دولسمه فارغ شوم، نو پر دغه مهال دوسمه نړیواله جګړه روانه وه، نو زموږ لپاره بل ځای ته د زده کړې لپاره تلل ناشوني وو، نو د هغه مهال د ښوونې او روزنې وزارت موږ درې کسه (یو ډاکتر الکوزی چې اوس هم ژوندی دی او بل یسن مایل چې وفات شوی او خدای یې دې وبښي) هندوستان ته ولېږلو. هلته د فیصل اباد (مهال وخت یې نوم لایل پور و)، په پوهنتون کې شامل شوم. څلور کاله مې په دغه پوهنتون کې زده کړه وکړه او لیسانس مې واخیست او بیا تر فراغت وروسته کابل ته لاړم او هلته په دار المعلمین کې د ښوونکي په توګه دنده راوسپارل شوه او دوه کاله مې دلته د ښوونکي دنده تر سره کړه او پر ۱۹۴۸م کال (۱۳۲۷ل کال) لندن ته لاړم او هلته مې په مېوه کې ډاکتري (Ph.D) وکړه او پر ۱۹۵۲م کال (۱۳۳۱ل کال) بېرته افغانستان ته راغلم او د هلمند په وادي

ښاغلی ډاکتر عبدالوکیل له غبنتلي سره د مرکې پر مهال

(وادي هلمند) کې د زراعت رئيس وټاکل شوم او دولس نيم (۱۲،۵) کال مې همدلته دا دنده تر سره کړه.

بيا يې والي وټاکلم او بيا اتکلن يو کال وزګار وم او بيا خپل شخصي زراعت بوخت وم او تر يو کال وزګارتيا وروسته د مشرانو جرګې انتصابي غړی وټاکل شوم، پينځه کاله مې همدغه دنده تر سره کړه او د يو څه مهال لپاره بيا وزګار شوم او له دغې وزګارتيا وروسته د کرنې د وزير مشاور او د کرنې وزير وټاکل شوم او دوه نيم کاله مې همدا دنده تر سره کړه. د دغو مختلفو دندو تر څنګ مې شخصي او د خلکو زراعت هم تر نظر لاندې و او کله به چې وزګار شوم نو ټول وخت به په نرخ (وردګ) کې پر زراعت بوخت وم او ټول وګړي به مې معاصرې باغدارۍ ته هڅول چې نوي باغونه جوړ کړي، د خدای په فضل اوس ټوله دره، سيمه او ټول افغانستان نويو عصري باغونو نيولې دی.

تاسې چې د هېواد د کرنې او اوبو لګولو په برخه کې ښايسته ډېره تجربه لرئ او له دې لارې مو بې ساري خدمتونه کړي دي، نو په افغانستان کې د زراعت راتلونکې څنګه ګڼئ.

د اوبو، هوا، موقعيت، د سمندر له سطحې لوړوالي، د مارکېټونو او بس په لنډه توګه له هر اړخه زموږ په ګران هېواد کې د زراعت راتلونکې ډېر ښه ګڼم او په ځانګړې ډول د مېوو لپاره، که موږ په روغو لارو کر وکړو نو دومره غله دانه توليدولای شو چې له بهره يې را وارد نه کړو، ښايي ووايم چې د افغانستان مېوې د خوند، رنګ او جنسيت له نظره په ټوله نړۍ کې ممتازې دي، نو ځکه يې راتلونکې ډېر روښانه بولم.

خو له بده مرغه دوه شيان زموږ د پرمختيا د لارې خنډان دي: يو غربت دی او دويم يې بې سوادي ده، چې متاسفانه يو خو زموږ په هېواد کې بې سوادي ډېره زياته ده او بل د وسايلو قلت يانې ميډيا او ورځپاڼې نه شته چې بزګرانو ته غوره او له وخت سره سمې لارښوونې وکړي، مثلاً که نن زه يو څه ووايم نو يو بزګر ته د دغې خبرې رسېدل به اټکل پينځه اونۍ تر لسو کالو مهال واخلي، چې دا خبره به بيا زړه شوې وي او وخت به يې تېر وي. که څوك ووايي چې موږ ميډيا لرو، خو دا ډېره ضعيفه ده او په نشت شمېر ده، او چې دا ميډيا هم په نشت شمېر شي، نو خلك مو هم دومره بې سواده دي، چې ان پر ساده خبره سم نه پوهېږي، لا پاتې خو د کر او تخنيك خبرې شوې.

غربت هم زموږ په بزګرانو ډېر ستر منفي اغېز لري، مثل دی چې غربت يو ډانګ او سوټی دی چې لومړی وار پر سر کوي، چې ګنګس شي او ماغزه يې له کاره ولوېږي، بل وار په ملا کوي چې ملا يې بيا کار ته نه تېتېږي او کار ته يې هېڅ مينه نه پيدا کېږي، درېيم او وروستی کلك ګوزار پر پښو کوي چې بيا پېښې له ځايه نه شي خوځولای. بس دا غربت دی او دا يې ګوزارونه دي چې زموږ پر بزګرانو يې کوي.

هغه سړی چې غريب وي، د هغه عقل او فکر کار نه کوي، هغه سنجش نه شي کولای، هغه هېڅ جرئت نه لري چې يوه کار ته لاس اوږد کړي، ځکه لومړی خو څه سرمايه او پيسې ورسره نه وي چې پر يو څه يې مصرف کړي او بيا که څه روپکې ورسره وي نو دومره فکر ورسره نه وي چې په څه يې ولګوي او ښه ګټه ترې واخلي او ډېر دارېږي چې که دا کار وکړم، نو پکې تاوانې به شم.

نو که موږ اوس خپل هېواد ته نظر وکړو، د غلې دانې له قلت سره مخ دی، خو که دغه ځمکې چې همدا اوس کرل کېږي، که په سمه او په روغه توګه وکرل شي، سيې کود او سره ورکړل شي، نو زموږ د ټول هېواد غله دانه پوره کېږي او مونږ ته نه اړ کېږو چې له بهره يې راوارد کړو او دومره به وي چې زموږ له مصرفه زيات وي او بهرنيو هېوادونو ته يې صادر کړو.

خو د دې ټولو ستونزو او کړاوونو لامل دا دی چې لومړی زموږ بزګران اسباب او وسايل نه لري چې ځمکه پرې جوړه کړي، دوی يې هسې له سره تېره کړي او په همغه زوړ او پخوانې دود تخم پکې وشيندي او نور يې نو پرېږدي. په کار خو دا وي چې تخم په سيې ډول وشيندل شي، سم پوره کود او سره پر وخت ورکړل شي، خو زموږ بزګران که ځمکې ته د لس لکو افغانيو کود او سره پکار وي، نو بزګر د غربت له امله په جيب کې درې لکه روپۍ لري بس نو لاړ شي د همدغو درېو لکو روپيو سره واخلي او د لسو لکو د کود پر ځای د درېو لکو روپيو کود ورکړي. نو بيا ځمکه هم د لسو لکو روپيو حاصل نه ورکوي بلکې د درېو لکو روپيو حاصل ورکوي. زموږ د ځمکو حاصلات چې ښايي سل په سلو کې وي د هغو پنځوس په سلو او ان ډېرش او پينځه ويشت په سلو ته راټيټ شي.

په لنډ ډول ويلای شم چې زموږ د زراعت راتلونکې ډېر ښه دی، ځکه طبيعي شرايط او چاپېريال ډېر ښه دي، کر او کښت پر مخ روان دی او زموږ هېواد په سيمه ان په ټوله اسيا کې ځانګړی ممتاز هېواد دی چې په راتلونکې کې به ډېر ښه حاصلات ولري، چې د صادرولو وړ وي، ډېر ښه مارکېټونه به ولري، خو له بده مرغه دا دوه شيان (بې سوادي او د ميډيا نشتوالی) دي چې د دغو ټولو بريالېتوبونو مخه يې ډب کړې او نيولې ده او په زړه پورې حاصل نه شو ترې تر لاسه کولای، ځکه هغه څه چې ښايي په ځمکه کې مصرف شي هغه پوره نه مصرفېږي، هغه پوهه او عقل چې ښايي د کر او کښت لپاره سيې او سالمې لارې چارې وسنجوي، هغه

نه شته، لکه په پېټي او صندوق کې مېوه کېږدي، لاندې هغه بېکاره او زخمي مېوه نباسي او نه پرې پوهېږي چې څنګه يې سمبال کړي او بايله داوې چې هغه نهايي او وروستی استعداد لاس ته نه شي راوړلی.

د حاصلاتو د خرڅلاو د ښکوالي او څومره والي (کميت او کيفيت) د ښه کېدو لپاره کروندګرو ته څه مشوري ورکوئ؟

دا مشوره ورکوم چې لومړی پوره پوهه او علم تر لاسه کړي او هر څېزې يې لاړ شي او دريم دا چې په کيفيت او کړ کې ډېر مصرف وکړي او پوره زحمت دې پکې وباسي. په صداقت دې کار کوي او دا غلطي دې نه کوي چې په صندق کې خرابه مېوه نباسي او د خپل لاس کړې حواري په اوسه لاهو کړي او خپله مېوه بيا په نيمه بيه خرڅه کړي. څکه دغه ډول چارې تر سره کول د ټول هېواد د مېوې جنسيت ته زيان رسوي او اوس د افغانستان مېوه له پاکستانه پرته پله بل ځای کې نه خرڅېږي. څکه زموږ خلك پېکېښګ (Packing) [صندوق کول] او چېن کول سم نه کوي. دوی کوښښ کوي چې بېکاره مېوه د لاندې پټه کړي، خو هغه نه پټېږي، ځکه کله چې مېوه په مارکېټ کې خرڅېږي او يا دکاندار يوه يوه دانه او کيلو کيلو خرڅوي، نو دلته خو معلومېږي چې په صندوق کې څومره مېوه ده او څومره روپۍ پرې نغدېږي. که نيمه ښه مېوه و... د نيمې روپۍ ورکوي او که ټوله ښه وي نو د ټول صندوق روپۍ ورکوي، ليکن هغه د باغ خاوند داسې فکر کوي چې ما پر نيم خوسا او نيم جوړ صندق پوره روپۍ واخيستې، خو دا فکر نه کوي چې دوی د يوه صندوق روغې او سمې مېوې پر ځای درې صندقه ناکاره مېوه لېږي، د يوه صندوق د کرايې پر ځای د دريو صندقونو کرايه ورکوي، د يوه صندوق پر ځای يې درې صندقه چېن او پېکېښګ Packing کوي، او د دريو صندوقونو د پېکېنګ وخت پرې لګوي، د يوه صندوق پر ځای يې درې صندقه مصرف کړي دي. چې د دغو ټولو تش له بزګر او د باغ له خاوندو وخې نه له دکاندار څخه، ان دا تش باغ لرونکي او بزګر ته لا دمخه رسېدلي وي، هغه مهال چې سوداګر مېوه ترې اخيستې وي او باغ يې په نيمه بيه ترې پېرلی وي. نو د دغو شيانو په پام کې نيول کميت او کيفيت دواړه ته پوره ګټه رسوي.

په افغانستان کې په عمومي او په ورډګو کې په ځانګړي ډول خلکو د غنمو او شولو د کر پر ځای د باغونو جوړولو ته مخه کړې ده، تاسې د زياتو حاصلاتو او ښې ګټې لپاره دغه ډول باغونه څنګه بولئ؟

په منځني ډول ما د مېوو ارزونې داسې کړې دي: اوس مهال داسې مېوې شته چې راتلونکې يې ډېر ښه دی. لکه ګيلاس، زه اوس خلك دې ته هڅوم چې ګيلاس کېږدي، زه اوس په خپو شيانو کې برخت يم چې يو يې په هغو کې ګيلاس دی. چې دا يو نوی قلم مېوه ده، پخوا به يو څه وني په پغمان کې وې، چې هغه به وازې په پغمان او کابل کې مصرفېدل، خو موږ غواړو چې ګيلاس تجارتي شي، ټول هېواد ته (په هغو ځايونو کې چې ګيلاس کېږي) مېوه يې ولېږل شي، ان غواړو چې بهرنيو هېوادونو ته هم سوداګري پرې وشي، موږ د ګيلاسونو ښه ډولونه راوارد کړي، چې ان شاء الله ډېره ښه نتيجه به ورکړي. اتکل له منو لس واره زيات حاصل ورکوي او له غلې دانې خو پنځوس خله زيات حاصل ورکوي.

نو د غلو دانو پاتې غنمو، شولو او جوارو پر ځای چې څوك باغ کېنوي، حاصل يې ډېر ښه دی او ډېره زياته ګټه لري، ځينې خلك تشويش او انديښنه لري چې په ډېر باغ جوړولو به غله دانه ورکه شي او چې غنم او شولې ورکې شي نو بيا به څه خورو. خو دا دومره د انديښنې وړ خبره نه ده، د هر ډول مېوې باغ چې هر ځای برياليی وي هلته بايد د همغه ډول مېوې باغ جوړ شي، مثلاً په ننګرهار کې ځينې مېوې لکه مڼې، زردالو، انګور او ګيلاس ډېر ښه نه کېږي، نو بايې هلته دا ډول باغ جوړ نه شي او يا همدا بادې شوي مېوې په مزار، کندز او د لوګر په ځينو ځايونو کې هم نه کېږي. چې هلته هم بايې بل ډول مېوې او يا غله دانه ورکرل شي، نو هر څومره باغونه چې خلك جوړولای شي، زموږ هېواد يې ګنجايش لري، چې د هېڅ انديښنې او تشويش ځای نه پاتې کېږي.

په لنډ ډول ويلای شم، لومړی طبيعي شرايط داسې نه دي چې ټول افغانستان دې مېوې شي، چې هغه دې بيا برياليي وي چې غنمو او نورو غلو دانو ته دې څه ځای پاتې نه شي. پاتې هغه ځايونه چې د مېوو لپاره مساعد دي، که ټول مېوې شي، نو د نورو غلو دانو د کر لپاره دومره ځمکه پاتې کېږي چې زموږ لپاره بسنه وکړي، بلکې دا دومره حاصلات ترې تر لاسه کولای شو، چې غله دانه بهرنيو هېوادونو ته ولېږو.

بنايې پر اوسنيو حالاتو او شرايطو خبره وکړو چې په هېواد کې حالات بحراني او ترينګلي دي، موږ بايد بنسټيز ګامونه پورته کړو، چې خپل منزل ته په اسانۍ او لږ وخت ورسېږو او په دې اړه جدي کار وکړو چې دهېوادوالو پښې نور تر ځمکې ورسېږي، زه د اوس لپاره د غلو دانو پر ځای باغونه ځکه ښه ګڼم، چې زموږ زياتې ځمکې شاړې پاتې دي او نه کرل کېږي او دا چې باغونه تر غلو او دانو لس او سل خله زيات حاصل ورکوي، نو د يو جريب هغه ځمکې ګټه

چې باغ په کې جوړ شوی وي او د شلو جريبو هغو جريبو ځمکې له ګټې سره برابره ده چې غلې دانې په کې کرل شوې وي. نو دا چې اوس زموږ له نيمو ډېره برخه ځمکې شاړې پرتې دي، ښه به دا وي چې باغونه جوړ کړو او د مېوو پر روپيو يې غله دانه وپېرو.

ډاکټر صاحب، تاسې د معاصرې باغدارۍ لومړۍ تجربه چېرې او څه مهال تر سره کړه؟

کله چې پر ۱۳۳۹ل کال په هلمند کې وم، نو لومړی باغ مې د وردګو په نرخ کې پر خپله ځمکه جوړ کړ. هغه داسې چې موږ درې ورونه وو او ورونو مې غوښتل چې سره بېل شي. نو تصادف زموږ ځمکه درې ځايه وه، لړ په کودامن کې، لړ په سرای خواجه کې او لړ د وردګو په نرخ کې. نو د بېلتانه پر مهال ما ته د نرخ ځمکه را په برخه شوه، چې ټوله درې جريبه کېده. نو دا درې جريبه دومره شی نه وه چې ما دې بزګر ورته نيولی وای او بيا دې هغه غوايي او خر ورته اخيستی وای چې کاله يې کړي. نو ما چې فکر وکړ دا سيمه منو ته ډېره مساعده وه. نو هغه مې د منو باغ کړ. خلکو به دغه خبرې کولې چې دی خو په وادي هلمند کې دی. تنخواه لري او احتياج نه دی چې غنم واخلي. په ځمکې پسې نه ګرځي، هسې بې هلته خو ځوکې بيخ کړل دا به څه وخت ونې کېږي او څه وخت به مڼې کېږي.

تاسې باور وکړئ چې هغه مهال مې په ټول افغانستان کې دوه پيوندي نيال پيدا نه کړل چې زه يې هلته کېنوم. له ناچارۍ مې خسك نيال له جرليزه راوړل هغه مې کېنول. بيا زموږ يو کليوال و، اوس وفات شوی دی خدای دې يې وبښي. د هغه پيوند زده و. نو را مې ووست. نيال مې ورته وښودل چې پيوند يې کړي. نو پيوند هم په دې لنډو ځايونو کې نه و. بس له کليوال سره د کابل بادام باغ ته لاړم. هلته پيوندي نيالګي و، چې FAO راوړي وو. نو پيوند مو له دغه ځايه راوړ او خپل نيالګي مې پرې پيوند کړل.

ښايي خبره را لنډه کړم او کله مې چې زردالو کې نيال کول، نو هغه مهال مې هم په ټول افغانستان کې دوه دانې د زردالو پيوندي نيال پيدا نه کړل. بيا مې له ناچارۍ په لوګر کې خسك نيالګي واخيستل او د نيالګيو خاوند داسې لوز راسره وکړ، چې نيالګي به همدلته وي، زه به يو سړی را ولېږم دا به پيوند کړي او هر وخت يې چې پيوند لوی شو، بيا به يې وړم، او همداسې مو وکړل چې څلور پينځه کاله مې دغو نيالګيو ته په انتظار کې لړ خکه خاره پاتې وه.

نو زما لومړی باغ همدا و او بيا مې وروسته نور خلك د باغ جوړولو ته وهڅول او په دې اړه مې ډېر کار وکړ.

زما د باغدارۍ او د دغه لوري ته د خلکو د هڅولو کيسه په دې ډول ده:

د مشرانو په جرګه کې سناتور شوم. نو ما دا ډنده ډېره جدي وبلله. داسې ګمان مې کاوه چې د ملت برخليك د همدغو خلکو تر غاړې دی. نو ما هم په دې اړه ډېر او جدي کار کاوه. پر دغه مهال د حکومت بودجې د څېړنې لپاره يو کمسيون وټاکل شو، چې دا څرګنده کړي چې په تېر مهال کې څه چارې تر سره شوې دي او په راتلونکې څه وشي او څه تصميم ونيول شي. نو د دغه کميسيون د زراعت څانګه يې ماته راکړه او زه د دغه کميسيون مشر او رئيس وټاکل شوم. څلور پينځه غړي يې درلودل. چې ټول وکيلان وو.

موږ د زراعت د بودجې په اړه مطالعه او څېړنه پيل کړه، چې په تېر مهال کې څه مصرف شوې او په راتلونکې کې څه شي مصرف شوې او په دې اړه مو ډېر جدي کار او غور کاوه.

د زراعت په وزارت کې مې ښکاره او پټې څېړنې پيل کړې چې دا څانګه د شي ده؟ څومره کار يې کړی او دا بله او هغه بله. بس په دې کې شپه او ورځ بوخت وم، چې د خپل کمسيون کار مې د مشرانو جرګې ته وړاندې کړ، نو تاييد شو او ټولو ډېره خوشحالي څرګنده کړه. خو کله چې په ناې کې رای ګيري کېده او خبره عمومي مجلس ته راغله، په مجلس کې يو سړي ناڅاپه غږ کړ د زراعت وزير هم راوغواړئ چې هغه څه وايي! بس سبا ته يې د زراعت وزير راوغوښت او چې راغی نو خپلې غوړې خبرې يې وکړې او دليلونه يې وويل او چې کله له مجلسه ووت نو بيا يې وويل رای ګيري وکړئ چې د زراعت د وزارت او وزير منې که د ډاکټر عبدالوکيل. بس ټولو لاس پورته کړ چې د زراعت د وزير منو. بس ويې ومنله او خبره خلاصه شوه. خو کله چې کور ته لاړم، زما يو ملګری چې د کرنې په وزارت کې يې کار کاوه، نو هغه مې کور ته راغی، په تمسخر او پېغور يې راته وويل: ودې ليدل چې څه مو درباندې وکړل!؟!

ما په تعجب پوښتنه ترې وکړه: څه دې وکړل؟

راته ويې ويل: موږ خو خبرېدو چې تا څېړنه او مطالعه پيل کړه او هره خبره دې موږ ته ټکي په ټکي را رسېده، د شورا او کمسيون په مجلس کې به دې چې د خپل کار، څېړنې او مطالعې په اړه څه ويل، ټول موږ ته رسېدل. نو موږ خپله چاره په اوبه کې وليده، له وزير سره مو مشوره وکړه او دا پرېکړه مو وکړه چې د هر ولايت وکيل ته ورشو او په دې خبره يې تطميع کړو چې تاسې هر يو ته به تراکتور، کيمياوي سرې او د نورې مرستې وعدې ورکړو، چې د رای ګيرې پر وخت موږ ته رايې راکړي. بس همداسې مو وکړل، او نتيجه يې دا شوه چې ستا هر څه په اوبو لاهو شول، خبرې دې رد شوې او موږ ومنل شو او کار مو وستايل شو.

ما چې دا وليدل، نو له ځانه سره مې دا پرېکړه وکړه چې په دې شورا مورا کې کار نه کېږي، خوشې وخت ضايع

کېږي. نو ښا کرار مې هغه کار دومره جدي و نه ګڼه، ځکه نتیجه یې نه ورکوله. بس مجلس ته به لاړم. هغه د غرمې ډوډۍ به مې مکلفه وخوړه او بېرته به تر ماښامه او نرخ ته به لاړم. خپل باغ به مې کاله کاوه. بیا نه به مې نیال ورکول او خلک نه مې هڅول او ښوونه به مې ورته کوله چې باغونه کېږدي او پالنه یې وکړي. ورو ورو چې د مشرانو جرګې دغه خلور پنځه کاله پوره کېدل نو دا زما د باغدارۍ کار هم ښه پراخ شو.

بس په مشرانو جرګه کې مې دومره وکړل، چې مکلفه ډوډۍ مې وخوړه، تنخواه مې واخیسته، نو تاسې یې حرامه بولئ او که حلاله. بس نور مې چندان کار نه کاوه، ولې پوهېدم چې څه نتیجه نه ورکوي او دا خلک په کرړه لاړ روان دي. خو په نرخ کې مې دا کار وکړ، چې خلک مې معاصرې باغدارۍ ته وهڅول.

ښه غوارم، ډاکټر صاحب، پر دغه مهال د زراعت وزیر څوک و؟

انجنیر رضا.

خیر خبره د مشرانو په جرګه او د زراعت په کمېسیون څرخېدله. که رښتیا هم هلته کار جدي وای نو زه به هلته ډېر بوخت پاتې شوی وای او د معاصرې باغدارۍ او د خلکو هڅولو ته به دومره نه وم وزګار شوی. خو کله چې پوه شوم، هلته د ملت د برخلیک په اړه لوبې کېږي، او په روغې لاړ د تګ لپاره څه کار نه کېږي. نو معاصرې باغدارۍ ته مې د خلکو هڅول پیل کړل، چې زما د کار پیل له همدغه ځایه سرچینه اخلي.

محترم وزیر صاحب، زموږ کروندګرو او څمکه والو یو ډول باغونو ته مخه کړې، یانې په یوه سیمه کې ټولو خلکو مڼې او یا ټولو زردالو نیال کړي. د دغو باغونو د تنوع لپاره څه وړاندیز لرئ؟

ښایي ووایم چې دا خبره په سمه نه وي، چې خلکو یو ډول باغونو ته مخه کړې، ځکه داسې نه ده چې یو ځای دې ټوله مڼې وي او بل ځای دې ټول زردالو.

مڼې خو هغه وې چې ما یې باغ کېښاوه، خلک مې وهڅول، هغوی هم باغونه کېښول او هغه مهال نورې مېوې لکه زردالو، او ګېلاس نه و. د مېو د نیالولو لپاره به هغه وخت خلکو ان د انګورو تاکونه ایستل او پر ځای به یې مڼې ایښودلې، ځکه د مڼو ګټه تر نورو مېوو او غلو دانو ښه وه. زه هم په دغه وخت ډېر متأثر وم او دا مې ویل هسې نه چې یو ځل ناڅاپه ورک شي او له یوې مخې مڼې شي، خو بیا ښه شو، کشمشپاکیانې او کارخانې یې راپیدا شوې. دا ماشینونو چې هېواد ته هر چا راوړل او دود یې کړل. خدای دې خیر او اجرونه ورکړي. دغو کشمشپاکیانو زموږ خلکو ته ډېره ګټه ورسوله، ځکه پخوا به کشمش کاوندیو هېوادونو ته په ارزانه بیه لېږل کېدل هغوی به پاکول او بیا به یې په لوړه بیه خرڅول، خو کله چې کشمشپاکیانې زموږ هېواد ته راوړل شوې، نو زموږ کشمش هم له هېواد نورو غربي او اسیايي هېوادونو لکه انګلستان، جرمنۍ، جاپان او نورو ته د صادرولو لاره پیدا کړه او بیه یې لوړه شوه. نو همغه وو چې خلکو یې د تاکونو له ایستلو لاس واخیست.

ښایي یادونه وکړم، مڼې داسې ونه ده چې په هغو لوړو او یخو ځایونو کې هم کېږي چې هلته زردالو، ګېلاس او د انګورو که پټ نه شي یخ یې وهي او حاصل نه ورکوي. په لوړو او یخو ځایونو کې اکثر ونې یو کال مېوه نیسي او بل کال یې نه نیسي. خو د مڼې ونه هر کال مېوه نیسي، ځکه مڼه وروسته ګل کوي او له یخه بچ کېږي، نو له مجبورۍ په دغسې ځایونو کې د مڼو باغ جوړېږي، خو په د نورو مېوو د نیال په وړ ځایونو کې خلک زردالو، ګېلاس، انګور او نور باغونه جوړوي.

د زردالو د باغ په اړه یادونه کوم چې تر اوسه خلکو د تازه زردالو باغونه ایښي، یانې هغه زردالو یې ایښي چې کېښتي نه ترې جوړېږي او که څوک یې کېښته هم کړي، نو کېښتې به یې چندان خوندورې نه وي، موږ اوس دا هڅه کوو چې په هغو لېرو ځایونو کې چې له سړکه لېرې وي او ترانسپورتي ستونزې وي لکه هزاره جات او د افغانستان نورې مرکزي سیمې، نو هلته د داسې زردالو د نیالولو سپارښتنه کوو چې کېښتې ترې جوړېږي او تر یوه بریده دا کار عملي شوی هم دی. په دې اړه مو څو غوره جنسونه انتخاب کړي دي، موږ په دغه کار کې دا ګټه وکړه چې د وچو زردالو د (کېښتو) بازار ډېر زیات او ښه دی، زه هیله لرم چې زموږ وچه مېوه غربي او نورو هېوادونو ته هم صادره شي او افغانان یې په خپله صادره کړي‌ښه د نورو هېوادونو سوداګر.

تر اوسه زردالو (یانې هغه چې تازه خوړل کېږي) زه د کېښته کېدو وړ زردالو راتلونکې ډېر ښه ګڼم، ځکه مارکېټ یې ښه او د خوړلو او نه خرابېدو د مهال واټن یې اوږد دی.

د برګز د بریالیتوب راز په څه کې نغښتی، یانې څه لارې چارې خپلې کړې چې ښې پایلې تر لاسه کړې؟

په عمومي ډول دا ویلای شم چې اوس د بریالیتوب پړاو زموږ د بزګرانو له وسه وتلې خبره ده، ځکه ما مخکې هم یادونه وکړه چې زموږ ولس نالوستی او بې سواده دی او بله دا چې میډیا نه شته چې بزګرانو ته د متخصصینو لارښوونې

ورسوي. د رېښم دا وسايل نه شته چې بزګر کار پرې وکړي او بر ټولو ستره دا غربت دی چې بزګر سيي کار ته نه پرېږدي. د ساري په توګه که زه يو بزګر ته د يوې نوې مېوې د نيالولو ووايم، چې دا به بيه حاصلات ورکړي او ډېره ګټه به تري تر لاسه کړي. خو هغه له بده مرغه دې ته اړ نه شي بيه کولای چې د يوه داسې څه باغ جوړ کړي چې هغه هيڅ باور ته پرې لري او بيخي تري خبر نه وي نو ځکه هيڅکله د دغې نوې مېوې باغ نه جوړوي.

بېچاره ګان ملامت هم نه وي، ځکه زه که له هر چا پوښتنه وکړم، چې عيالدارۍ دي څومره ده؟ دی راته وايي چې مال د خدای دی دولس تر پنځه دوه درې جريبه ځمکه د دوی کار هيڅ نه جوړېږي. د ګوتو په شمېر داسې ځايونه دي چې په ارزګان، کندهار، کندز او څه نورې سيمې، خو له بده مرغه دوی بيا له تجربو او علمه لرې دي، په خبره نه پوهېږي او په خبره پوهول يې ډېر ستونزمن کار دی، پاتې له يوه سري سره به په يوه دوه خبرو دوه درې کاله اړوي را اړوي تر څو په خبره پوه شي، چې يو نوی شی وکړي او يو نوی کار ته لاس واچوي. بس دا ټول مشکلات او ستونزې دي چې له منځه وړل يې ډېر کراو غواړي.

زه په دې اړه يوه بله بېلګه هم وړاندې کوم. ما دا اوس د تاك د سپېرغوږۍ ناروغی په اړه ليکنه کوله چې دا ناروغي په څه شي له منځه ځي؟

د دغې ناروغۍ درملنه پر تاك د وچو سلفرو شيندل دي خو ما وليکل چې د دواپاشۍ يو بنه او غوره ماشين واخلئ، چې هغه سلفر د ګرد په څېر وشيندي. داسې نه شي چې چېرته لږ او چېرته ډېر وشي او ځينې ځايونه يې سلفرو پاتې نه شي، خو داسې ماشين لږ ګران او قيمتي دی او زموږ بزګران چې غربت ځپلي دي، يو داسې ماشين اخلي چې هغه دوا بنه نه شي شيندلای.

ما چې هر چا ته ويلي چې بنه ماشين واخلئ، بنه دوا واخلئ، بنه او پوره سره ورکړه، بنه زحمت پکې وګاڼه چې د حاصل پر وخت د دغو ټولو بدله او انعام تر لاسه کړي، خو يو هم عمل نه پرې کوي، بس نتيجه يې هغه وي چې باغ بسم حاصل هم نه ورکوي.

محترم ډاکټر صاحب، تاسې تر دغه مهاله ډېر عملي کار کړی، د زراعت په اړه مو څه ليکلي او که ورته وزګار شوي نه ياست؟

رښتيا خو دا ده چې ليکلو ته وزګار شوی نه يم، درې څلور کاله مخکې مې څه ليکنې پيل کړي وې چې ټولې په منځ او نيمايي کې راته پاتې دي، ان شاء الله چې وزګار شم، هغه ټول به بشپړ کړم.

يوه وړوکې او لنډه ليکنه مې اوس د باغدارۍ په اړه تر لاسه لاندې ده، هغو ته چې باغونه يې ايښي لاربښوونې او مشورې پکې دي، چې څنګه او څه مهال يې اوبه کړي؟! څنګه او څه مهال سره ورکړي؟! څنګه او څه مهال يې ناخوته پرې کړي؟!!! او ان شاء الله زما دا ليکنه به په دوه درېيو مياشتو کې بشپړه شي.

پوهاند ډاکټر عبدالوکيل د بوټيو د کټلو پر مهال

محترم وزير صاحب، زموږ دغه پوښتنه سياسي غونډي ده، د افغانستان د اوسنۍ غميزې نه د وتلو لپاره څه لارې چارې مناسبې دي؟

څنګه چې زه يو سياسي شخص نه يم او په سياست چندان نه پوهېږم، نو داسې څه به و نه شم ويلای، چې ګودر ته پرې لاره وباسي او که مې داسې لارې چارې زده وای، نو لا د وخته به مې خپله کړې وې او يا به مې غږ کړی و چې داسې وکړئ خو بيا هم دومره ويلای شم چې که افغانان له خپل افغان عقل و فکر او قضاوت نه کار واخلي، بدبيني له منځه يوسي بيا هم به دې کار مند صاتهدای شي او سولې او ارامۍ منزل ته د رسېدو لپاره له کړاوونه ژغوري، خو له بده مرغه زموږ سياسي مشران د نورو خبرو ته غوږ نيسي او په يوه او بله خبره تطميع شوي او په خپلو منځو کې سلا مشورې نه کوي.

پاتې په ۴۰ مخ کې

ډاکټر فضل هادي وردګ

هيپاټايټس بي

د کوربت ډاکټر

(Hepatitis B)

هيپاټايټس بي وايرس (HBV) د ايچ آی وي (HIV) يعني ايډز په څېر يو خطرناک وايرس دی، چې ينه ژوبلوي او بالاخره يې په سروسز او سرطان اړوي. دغه وايرس د انسان په وينه او نورو مايعاتو کې تر ډېره پاتې کېدای شي او اوږد مهاله لېږدوونکي يې د نورو خلکو د ککړولو سبب جوړېږي. د يوې سروې له مخې په پاکستان کې هر لسم کس په دغه وايرس ککړ دی او په جنوب لوېديزه اسيا کې دغه شمېره تر دې هم لوړه ده، چې په سلو کې پنځه لسو ته رسېږي. خو په سکنډينوي هېوادونو انګلستان او متحده ايالتونو کې پر دغه وايرس د ککړو شمېر په سلو کې تر يوه هم کم دی. نو په دې حساب ويلای شو. چې د يني بي وايرس زموږ د سيمې د هېوادونو د خلکو د روغتيا لپاره يو لوی ګواښ دی، ځکه خو په کار ده چې په خلکو کې د دغه وايرس په اړوند پوهه پيدا کړای شي.

څرنګه چې پر دغه وايرس د ککړ انسان په لاړو اوښکو، وينه، بولو او نورو مايعاتو کې وايرس موجود وي، نو له دغو ټولو مايعاتو سره د اړيکو پر وخت ډېر احتياط په کار دی.

نوي زېږېدلي ماشومان په ځانګړي ډول له دغه وايرس نه ساتل په کار دي، ځکه په سلو کې لس لوی خلک او په سلو کې نوي (۹۰) نوي زېږېدلي ماشومان چې په دغه وايرس ککړ شي نو په شپږو مياشتو کې يې له وينې څخه نه وزي او کېدای شي دوی د دغه وايرس اوږد مهاله لېږدوونکي شي.

دغه وايرس له لاندينيو لارو له يوه نه بل ته تللای شي:

- د ناپاکو او استعمال شويو پيچکاريو په ذريعه
- د ککړې وينې په څېړولو سره په ځانګړي ډول که وينه په بېنه اخيستل شوي وي، ځکه اکثره په هيروينو روږدي کسان وينه په پيسو خرڅوي.
- د جنسي اړيکو له لارې
- له مور نه ماشوم ته په ځانګړي ډول د زېږېدو پر وخت.
- د ډېرو مجهولو (ښکولو) له لارې
- د غاښونو د برش او وېښتو خرېيلو د چاړې له لارې
- د غاښونو د علاج د سامانونو په واسطه.
- په ناپاک سامان د غوږونو او پوزې سوري کولو او خالونو وهلو له لارې
- دوينې څښونکيو حشراتو لکه کېک ملو او ماشو نه لارې

د دغه خطرناک وايرس نه د ځان ساتلو لپاره په کار ده چې:

⇐ هېڅکله استعمال شوې پيچکارۍ بيا استعمال نه شي.

⇐ تر ممکنه حده د وينې د څېړولو نه ډډه وشي او که څېړول يې ضروري وي، نو بايد د دغه او نورو وايرسونو لپاره وينه وکتل شي.

⇐ د جنسي اړيکو پر وخت د دغه وايرس د لېږدېدو خطر په پام کې ونيول شي او د جنسي بې لارېو نه ډډه وشي.

⇐ د لاړو، اوښکو او وينو سره د تماس نه ډډه وشي

⇐ د بل چا د غاښونو د برش د استعمال او په استعمال شوې چاړه وېښتو خرېيلو نه ډډه وشي

⇐ د غوږونو او پوزې سوري کولو او يا د خالونو وهلو پر وخت دا خبره يقيني کړای شي چې سامان يې پاک او بل چا نه دی استعمال کړی.

⇐ ترممکنه حده بايد له کېک ملو او ماشو نه ځان وساتل شي

له نېکه مرغه د دغه وايرس پر خلاف واکسين جوړ شوی دی او په متحده ايالتونو کې ټول نوي زېږېدلي ماشومان د دغه وايرس پر ضد واکسين کېږي. دلته هم که څوک وس لري بايده دي چې واکسين وکړي، خو څېنې هغه کسان چې د دغه وايرس له کلک ګواښ سره مخامخ دي، بايد هرو مرو واکسين شي. لکه

⇐ پر دغه وايرس د ککړو ناروغانو د جنسي اړيکو ملګري (ښځه يا خاوند) او د کور نور نژدې غړي چې په يوه لوښي کې خوري او يوه کوټه کې اوسي

⇐ پر دغه وايرس د ککړې مور ماشوم.

⇐ پر دغه وايرس د ککړې وينې سره اتفاقي تماس

⇐ طبي پرسونل لکه ډاکټران، نرسان، د غاښونو ډاکټران، د لېبارټريو او وينې بانکونو کار کوونکي او د طب محصلين

⇐ هغو سيمو ته سفر کوونکي چې دغه وايرس پکې ډېر زيات دی ●

د کمکیانو کوربت

ګرانو کوچنیانو دا ستاسې پاڼې دي. دا به لولئ. زده کوئ به یې او د خپلې خوښې لیکل به رالیږئ.

زموږ بابا

ګرانو کمکیانو!

د رحمان بابا نوم خو به مو خامخا اوریدلی وي، دیوان یې د پښتنو په اکثرو کورنو، هوجرو او جوماتونو کې پروت وي.

رحمان بابا له اوس نه ۳۶۰ کاله پخوا له پېښور سره نږدې په یوه کلي کې پیدا شو. په هغه زمانه کې پر هندوستان د مغولو حکومت و. رحمان بابا صوفي سړی و او پر ۷۶ کلنۍ وفات شوی دی.

اوس د رحمان بابا مزار د پېښور ښار لمرخاته ته په نوي ډول جوړ شوی دی. راځئ چې د رحمان بابا یو شعر ووایو:

خدایه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلک
په ظاهر په باطن سپین سپېځلي خلک
هېڅ خندا مې له دې خلکه سره نه شي
ژړوي مې هغه تللي تللي خلک
خبر نه یم چې و کومه خوا ته لاړ شه
لیده نه شي هغه ما لیدلي خلک
لکه نمر چې د اورو په څوکه درومي
هسې درومي په دنیا راغلي خلک
دریغه یو خله خو بیا په جهان راغی
له جهانه په ارمان وتلي خلک
هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي
په چووه او په چندن لړلي خلک
رحمان هسې ګوښه خوند له خلکه بیا موند

خوږو ماشومانو!

تاسې خبر یئ چې:

• ونې او بوټي د لمر په رڼا کې له اوبو او کاربن ډای اکسایډ نه خواړه (نشایسته) جوړوي.

• څونګښو ته د دوه ژوند لرونکي (ذوالمعشتین) وایي، ځکه دوی هم په اوبو کې ژوند کولای شي او هم پر وچه.

خوږو ماشومانو!

تاسې خو به اوس په لمانځه دریدلي وئ او په دې خو به پوهېږئ چې لمونځ د اسلام یو ستر رکن دی. تر لمانځه مخکې اودس ضروري دی، په دې ګڼه کې به زده کړو چې د اوداسه فرض کوم دي.

فرض هغه دي چې خدای ﷻ یې د پر ځای کولو امر کړی او په څرګند ډول یې په قرآن کریم کې یادونه شوې ده.

نو د اوداسه فرض دا دي:

۱- د ټول مخ مینځل
۲- تر څنګلو پورې د لاسونو مینځل
۳- د سر د څلورمې برخې مسح کول یعنې لامده لاسونه پر سر تېرول
۴- تر ښنګریو پورې د پښو مینځل

که په اوداسه کې له دغو څلورو نه یو هم پاتې شي نو اودس نه کېږي.

قاضي او بهلول

ګرانو کمکیانو!

یوه ورځ بهلول د هغه وخت د قاضي په دفتر کې ناست و، چې له قاضي نه قلم پرېوت، بهلول ناري کړې، قاضي صیب کلنګ دې پورته کړه. قاضي وویل ته خو په رښتیا لیونی یې چې قلم او کلنګ نه پېژنې.

بهلول وویل: خدای ﷻ خبر ته به په دغه قلم د څومره خلکو کورونه ورانوې، نو اوس ته وایه چې دا کلنګ دی او که قلم.

ملي سندره

ګرانو ماشومانو دا زموږ ملي سندره ده، نو تاسې هم خپله ملي سندره په یاد زده کړئ.

دا افغانستان دی

دا زمـــوږ زیبا وطـــن   دا زمـــوږ لیـلا وطـن
دا وطن مو خان دی
دا افغانســـتان دی

دا د مینې کـــور زموږ   دا د پلـــرو ګور زمـــوږ
نه دی دبل چـــا وطن   دا دی د شیرشـاه وطـــن
کور د میروس خان دی
دا افغانســـــتان دی

دا وطـن دی ځان زمـوږ   دا وطـن ایمـان زمـــوږ
وایـــي په خـاپورو کې   داسې مـــاشومان زمـوږ
دا مـــو د بابـا وطـن   دا مـــو د دادا وطـن
په موږ باندې ډېر ګران دی
دا افغانســـتان دی

خار یې له سیندونو شم   ځار یې لـه ډاګونـو شـم
خار یې له خوږونو شم   خاریې لـه دې غرونـو شـم
دا زمـــوږ اشنا وطن   درد لـه مـو شـــفا وطـــن
زړګی مو پرې روښان دی
دا افغانســـتان دی

دا وطـن زیارت زموږ   دا وطـن نعمـت زمـــوږ
دا وطن په دنیا دی   دی لکـه جنـت زمـــوږ
دا وطـن صفا وطن   زړه د اســـیا وطـــن
ژوند د ملګ جان دی
دا افـغانســتان دی

ګرانو ماشومانو!

د حضرت نوح (ع) شغل نجاري و.
د حضرت صالح (ع) شغل سوداګري (تجارت) و.
د حضرت ادریس (ع) شغل درزیتوب (خیاطي) و.
د حضرت داود (ع) شغل اهنګري و.

ګرانو کمکیانو،

ستاسې لپاره ګران محمد ادریس غیرت دا لاندې معلومات راټول کړي دي، نو په غوره یې ولولئ او یاد یې کړئ:

- خوشحال خان خټک ۲۵ کتابونه لیکلي وو.
- زرغونه کاکړه د پښتو لومړنۍ شاعره وه.
- ښېښ ټیکه په دریو نومونو مشهور وو ښېښ، ښیتن، ښتني.
- د پښتو لومړني شاعر امیر کروړ پر ۳۹ هـ (۷۳۲م) زېږېدلی دی.
- تر امیر کروړ وروسته ابو محمد هاشم سرواني، ملک یار غرشین او شیخ اسماعیل مشهور شاعران وو.
- میرزا خالق انصاري لومړي شخص دی چې دیوان لري.
- د دولت الله لواڼي د کلام نسخه د برتانې په برټش یوزیم (لرغونتون) کې خوندي ده.
- خوشال خان خټک د پښتو د دریمې پېړۍ شاعر و.
- اشرف خان هجري د خوشال خان خټک مشر زوی او یو تکړه شاعر و.
- د خوشال خان لور بي بي حلیمه هم یوه تکړه شاعره وه.
- احمد شاه ابدالي (رح) د پاني پت د دریم جنګ فاتح او یو ښه شاعر و.
- کاظم خان شیدا د خوشال خان خټک لمسی او د افضل خان زوی و.
- د حافظ الپوري سیې نوم معظم خان دی.
- د پرېشان خټک اصلي نوم غمي جان دی.

ګرانو ماشومانو!

پوهېږئ چې:

- د نړۍ تر ټولو ستر ژوبڼ په نیویارک (امریکا) کې دی.
- د نړۍ ستره جریزه ګرین لینډ نومېږي.
- د نړۍ ډېر لرګین (له لرګیو نه جوړ) کورونه په جاپان کې دي.
- د نړۍ تر ټولو ستر جرس (زنګ) په ماسکو (روسیه) کې دی.
- د نړۍ تر ټولو لوړ ځلی ایفل نومېږي.
- د نړۍ تر ټولو ستره ښکاري سیمه (ښکارځی) په کینیا کې ده.
- د نړۍ تر ټولو ستر پل په شیکاګو کې دی.
- د نړۍ ستر هوټل په ماسکو کې دی.
- د نړۍ ډېر سپین زر له مکسیکو نه تر لاسه کېږي.
- د نړۍ ډېر جوماتونه په ترکیه کې دي.
- په نړۍ کې زیات کچالو خوړونکي بلجیمیان دي.
- د نړۍ زیات وربښمین له چین څخه تر لاسه کېږي.
- د نړۍ تر ټولو شتمن سړی ببل ګیټس نومېږي، چې د کمپیوټر د مایکرسافټ کمپنۍ مالک دی.

پیر محمد کاروان

ښاپیرۍ زما همزولې

زما ګران شاعر دوست مصطفی سالک زما د شاعرۍ په هکله رانه پوښتنه کړې وه. د پوښتنې خواب یې را له اورد شو او لاندې کرښې مې پرې تورې کړې.

نه پوهېږم چې څومره شاعر یم او څومره ناشاعر. زه چې اوس د خپل تېر ژوند په خاص ډول د ماشومتوب شپېږې رایادوم، نو خپل ځان له اوس نه زیات په ماشومتوب کې راته په شاعر وبرېښي. همدا اوس هم د اوسنیو شپېو تراژیدیو، خوښیو او ښکلاوو په د ښې انځورنې لپاره د خپل تېر ژوند په تېره تېره د ماشومتوب رنګینې شپې په پور را اخلم او د خپل شعر د کوږګي سندریز دیوالونه ترې جوړوم. په ماشومتوب کې چې د تورو او کلماتو ښاپېرۍ مې په حکم کې نه وې، نو ماشوم شاعرانه کیفیت خو مې په حکم کې و. د ربښتیا پېریانو کیسې مې دومره ربښتیا ګڼلې چې د شپې به مې په خوبونو لیدې. په خپل ماشوم ذهن او خیال کې به مې یوه ښاپېرۍ جوړوله او ما به وې چې د اوسپې څپلۍ به وریسې زړوم. په ځنګل کې یو ناست ملنګ به اسم اعظم راښیي، دعا به راته کوي او بیا به د ښاپېریو د وزرو جامې په لاس راځي.

په ماشومتوب کې له تصنع او تعقل نه پاکه له فطرت او تخیل سره مینه کېږي او همدا مینه د سړي راتلونکی هم جوړوي.

کورنی چاپېریال هم د ماشوم په راتلونکي اغېز لري. که څه هم نه مې پلار شاعر و او نه مې مور شاعره وه، خو بیا هم مور او پلار مې ماته ډېر شاعرانه کیفیتونه ښښلي دي.

زما د مور د ماشومتوب او ځوانۍ ټول ژوند په غمونو او تراژیدیو کې تېر شوی دی. تراژیدي مې له مور نه په میراث وړې ده او تر ننه له تراژیدي هنر سره زیاته مینه لرم. تراژیدي موسیقي مې خوښېږي، تراژیدي فلمونه، افسانې ناولونه او شعرونه مې خوښېږي. زما د مور څلور ورونه یو پر بل پسې مړه شوي وو. کله چې زه وزېږېدم، بیا ورو ورو سم څه غټکی شوم، نو مور به مې د نورو افسانو تر څنګه د خپلو ورونو د مرګونو کیسې راته کولې. له کیسې وروسته به مې مور ژړل، ما به مې مور ښکلوله او زارۍ به مې ورته کولې چې بس دی، مورې مه ژاړه. کله کله به مې مور د خپلو ورونو په یاد یوه نیمه لنډۍ په غلي اواز ویله. د مور اواز به پر ما خوږ لګېده او ما ته به یې ژړا راوسته. ما مخکې وویل چې زه په ماشومتوب کې پر تورو او کلماتو لاسبری نه وم، کنه ډېر کیفیتونه به مې د تورو او کلماتو په زور شاعرانه کړي وای. یوه خاطره درته لیکم چې شعر ته ډېره ورته ده:

- مور مې د دویم پوړ په کوټه کې تال راته جوړ کړی و، زه به په تال کې زنګېدم. د دویم پوړ د کوټې له کړکۍ به مې مخامخ غرونو ته کتل. مخامخ غرونه به هم زنګېدل. زه نه پوهېدم چې دا غرونه څنګه زانګي؟ کله به چې زه له تال نه راکوز شوم، دوی به هم ځای پر ځای ودرېدل. یوه ورځ تری تری باران ورېدلی و. زه په تال کې زنګېدم، ناڅاپه مې مخامخ غرونو ته پام شو. د غرونو پر لمن د بودۍ تال [سره زرغونه] غوړېدلی وه. غرونه زنګېدل، ما له ځانه سره وویل چې دا به د غرونه تال وي او غرونه به په دې تال کې زانګي. پر غرونو راخوره سره زرغونه مې د غرونو تال باله.

په همدې ډول له عجیبو شاعرانه کیفیتونو سره رالوېدلم. پلار مې ډېر دیندار او امانت داره سړی دی. ډېر وخت به په نیمه شپه کې د تهجد لمانځه ته پاڅېده. کله کله به یې زه هم له ځان سره پاڅولم. د نیمې شپې چوپتیا، د ستورو خلا به راباندې ډېره ښه لګېده. کله کله به یې په اسمان کې هغه سره نژدې شوي دوه ستوري راوښودل. یو ستوری به غټ تک سپین و. پلار به مې ویل چې دا لیلا ده او بل ستوری به له سپین غټ ستوري نه لږ وړوکی و او سوربخون رنګ یې و. پلار به مې ویل چې دا مجنون دی.

دوی دواړه یو پر بل مین وو او دواړه د خدای په قدرتونو اسمان ته ختلي دي. دوی په کال کې یو ځل غبرګي سره ورکوي او که چا غبې په غبې یو ځای سره ولیدل، چې هر سوال یې له خدای پاك نه وکړ، سوال یې قبلوي. ما به په زړه کې ویل کاشکې زه یې غبې په غبې سره وویښم. بیا به مې په زړه کې ویل چې بنه که غبې په غبې یې ووینم، نوکوم سوال به له خدایه کوم؟ سوال به مې نه خوښېده. په دې سوچونوکې به خوب وړی وم.

پلار مې د شاتو له مچیو سره ډېره زیاته مینه لرله. کله به چې ژمی تېر شو، زموږ کډې به د غرونو پاندو ته تلې. زموږ غرونه د ځېږیو په ګڼو ځنګلونو کې پټ دي. ځینې د نښترو ځنګلونه هم لري. پلار به مې د ځنګل په لمن کې د اوبه خوړ پر غاړه د شاتو مچۍ ځارلې. د اوبه خوړ غاړې ته به یوه یوه مچۍ راتله اوبه به یې په خوله کې اخیستې او د ځېږیو په ځنګل به ورننوته. پلار به مې هغه ځای معلوم کړ. بیا به د ځېږیو په ځنګل کې وریسې ګرځېدو.

> **په ماشومتوب کې له تصنع او تعقل نه پاکه له فطرت او تخیل سره مینه کېږي او همدامینه د سرې راتلونکې هم جوړوي.**

کله ناکله به مو د ځېږیو په لویه ونه کې د شاتو د مچیو کور پیدا کړ. مچۍ به د لمر د وړانګو په غبې کې لکه ګرځندي سپرغۍ. د لویې ونې سوري ته ننوتې او ځینې به تري راوتې. دا انځور اوس هم زما په ذهن کې ژوندی دی او اوس هم دا ښکلا په لفظونو کې نه شم نغښتی. پلار به مې د ځېړۍ لویه ونه د شاتو په مچیو پسې سورۍ کړه. تختې تختې شات به پکې وو. د شاتو د مچیو په توپکي کې به یې ګوتې وهلې. یوې نیمې به په ګوتو او لاسونو وچیچه، خو د پلار به مې هیڅ چرت هم نه خرابېده. کله به یې چې پر مخ او یا د سترګو سره نږدې وچیچه، نو ما ته به یې ویل چې دا لښې رانه وباسه. ما به لښې تري را وایستې. کله به چې زه د شاتو مچیو وچیچلم، نو ما به ژړل، پلار به مې راته ویل چې ستنه یې درته ولګوله، دا د هر مرض دارو دي.

پلار به مې د شاتو د مچیو په منځ کې یوه اوږده زرینه مچۍ پیدا کړه. ما ته به یې راکړه ویل به یې چې ورو ورو یې په ګوتو کې ونیسه. دا ملکه ده او چیچل نه کوي. ما به ملکه ورو په ګوتو کې ونیوه، ځومره پسته وه. زړه به مې یو ډول پرې خوږ شو. پلار به مې د واسکټ له جیبه کوچنۍ بیاتې را واخیسته او د ملکې وزر به یې پرې کړل. بیا به یې د شاتو کندو ته واچوله. د شاتو د کندو سر به یې خلاص پرېښود. مچیو به د شاتو د کندو پر سر ګرځنې کاوه او ډلې ډلې به د کندو ګېډې ته ورننوتې. په یوه شیبه کې به ټولې مچۍ د شاتو کندو ته ننوتې. د شاتو د کندو سر به یې وتاړه. د مچۍ له کور نه به یې د شاتو تختې راپرې کړې. ما ته به یې یوه ټوټه شات راکړل. چې دوه درې شخونده به مې وخوړل، خوږ به یې کړم، یوه شیبه وروسته به شاتو تږی کړم، د ځنګل په لمنه کې به پر یخه چینه څملاستم او یخې اوبه به مې وڅښلې. پلار به مې له شاتو نه دیګې ډك کړې او له ځنګله به روان شوو.

پر لاز به خوشحاله خوشحاله راتلو. زما مخ به د شاتو د مچیو له لښو نه پړسېدلی و، سترګې به مې تنګې شوې وې. پلار به مې مخ ته هنداره راته ونیوه. ما به په خپل ځان پورې خندل. د هر ځه په باب به مې له پلاره پوښتنې کولې. له پلاره مې پوښتنه وکړه چې د شاتو مچۍ شات څنګه جوړوي؟

پلار مې راته وویل: مچۍ ګلان په ځانګو کې راوړي. دننه په صندوق یا کندو کې یې پیانې پیانې کېږدي. د ګلونو د پانو له پاسه ملکه ورو ورو ګرځي. له کومو ګلپانو نه چې ملکه تېرېږي، هغه ګلپانې په شاتو بدلېږي.

زموږ د کور په هره کوټه دوه یا درې د شاتو صندوقونه چې موږ یې تمبکې بولو وې. زموږ کور ته به له سهاره تر مازیګره مچیو په وزرونو کې رنګ رنګ ګلان راوړل، ګلپانې په ځانګونو کې مچۍ ډېرې ښکلې ښکارېدې. زه د دوېم پوړ په کوټه کې ویده کېدم، او زما کټ د شاتو د مچیو له تمبکې سره جوخت ایښی و. د شپې به مې له کړکۍ نه د ستورو ډك اسمان کوت. د لیلا او مجنون ستوری به مې کتل چې ځومره سره نږدې شوي دي؟ بیا به مې د شاتو د مچیو زمزمو ته غوږ کېښود.

کله کله به مې د تمبکې تخته ورو په ځېږه ووهله. د شاتو د مچیو زوږ او زمزمې به لا پسې ډېرې شوې. ما به په زړه کې ویل چې اوس به د ډېرو ګلپانو له پاسه ملکه تېره شوې وي او اوس به ډېرې ګلپانې په شاتو اوښتې وي. په زړه کې به راوګرځېدل: کاشکې زه د شاتو ملکه وای چې ګلپانې مې په شاتو بدلولې.

پلار مې د شاتو د مچیو په باره کې دا هم راته ویلي وو چې دوی ډېرې اصیلې دي. په کوم کور کې چې بې دینې او بې اتفاقي راشي او یا ظالم پاچا پر وطن واکمن شي، نو دوی له هغه کوره ځنګل ته ځي، دوی د ښکلي پیغمبر د ژړا تاب نه درلود. د شاتو مچۍ د پیغمبر اوښکې وزېبېدلې او لوی خدای د شاتو جوړول پرې ولورول. پلار مې ویلي وو چې د شاتو د مچیو د ساتلو لپاره باید په زړونو کې پاکې او تقدس وساتو. دا خبرې مې له پلاره اورېدې، او زما په یاد کې پانې کېدې. زما د ژوند شپې لکه ګلپانې په غبې کې مچۍ تېرېدې. اوس نو زه ځلموټی شوی وم او ورو ورو د بلوغ درشل ته ورنږدې کېدم. اواز مې لږ ډډ شوی و، خو لاتر اوسه مې هم هغه ډول خوبونه نه وو لیدلې چې د بلوغ په باب مې په منیت المصلی کې لوستې وو. یوه ورځ مې پلار د مچیو د

تمبکي [کندو] تخته خلاصه کړه. د شاتو د سپينو تختو له پاسه تورې مچۍ ګرځېدې. په يوه لويه سپينه تخته کې دوې غوټې وې. پلار مې ويل په دې هره غوټه کې يوه نوې ملکه اوسېږي. که چېرې دا غوټې داسې پاتې شي په دې کور کې به دوې نورې ملکې هم پيدا شي او بيا به د دې کندو نظام خراب کړي. نوې راپيدا شوې ملکې به يو يو تولی مچۍ له خانه سره وباسي او دا کندو به کمزوری شي. پلار مې چاړه راواخيسته. په داسې احتياط يې غوټې غوڅې کړې چې په غوټه کې د ملکې چنجنی زخمي نه شي. پلار مې د کندو له تختې نه راتويه شوې خاوره لمده کړه. لمده خاورې خوږ بوی وکړ، پر ما د شاتو بوی او د لمدې خاورو بوی ډېر خوږ لګېده. پلار مې په کندو پسې تخته بنده کړه. د تختې پر درزونو يې لمده خاوره ومونبله.

يوه اوونۍ وروسته د همدې تمبکي له سوري ګڼې ګڼې مچۍ راووځې او په هوا کې ګرځنی کوې. له تمبکي نه يو لوی تولی مچۍ راووتې. مچۍ په هوا کې تاوېدې. غوښتل يې چې د هغه لرې ځنګله په لوري لاړې شي، خو پلار مې د هغوی مخه ونيوه. د ورو شګو ګوزارونه يې پرې وکړل.

مچۍ يې زموږ د کور سره نږدې د توت ونې ته راوګرځولې. مچيو د توت په يوه هسکه څانګه پورې ټوپکۍ جوړ کړ. يوه مچۍ په بله مچۍ پورې نښتې وه. د لمر شغلې پرې لګېدلې او دوی وزرې رپولې. ډېرې ښکلې ښرېښېدې. کله به باد ټوپکۍ وښوراوه ما وې چې اوس به د ماشومانو د شګو د کوټنۍ غونډې د مچيو دا کور هم راړنګ شي، خو نه پوهېږم چې ولې نه ړنګېده. پلار مې له وچ او تش کدو نه جوړ شوی د مچيو د را ايسارولو لوښی له ځان سره توت ته وخيژاوه. زه هم توت ته پاس ور وختم. پلار مې د ډېرو مچيو په منځ کې ملکه لټوله. له لرې شېبې لټون وروسته يې د شاتو ملکه پيدا کړه. ورو ورو يې په ګوتو کې ونيوه. ماته يې وويل چې له جيبه مې بياتي دروباسه. ما يې له جيبه بياتي را وايسته او د ملکې وزرونه مې پرې کړل. پلار مې ملکه له کدو نه جوړ شوي تش لوښي ته واچوله. بيا يې ورو ورو په لپو لپو مچۍ تش لوښي ته پسې ور واچولې. د مچيو ډک لوښی يې له ځان سره راکوز کړ. د نوې ملکې دا لوی تولی مچۍ يې په يوه بله خالي تمبکه کې سمبال کړ. څو تختې شات يې هم ورته کېښودل. چې څو دوی خپل شات جوړوي، په دې تيارو شاتو به څو شپې ور تېرې کړي. ما مې له پلاره پوښتنه وکړه چې تا خو څو ورځې وړاندې په هغه تمبکه کې د ملکې دوې غوټې غوڅې کړې.. نو دا درېيمه ملکه له کومه را پيدا شوه؟ پلار مې په خندا کې راته وويل: دا ملکه ما پرايستې وه. ځکه چې هغه تمبکه ډېره زوروره وه. ما وې چې يوه بله تمبکه هم ترې جوړېدای شي. په دې لا دوې ورځې پوره نه وې تېرې، چې همساغې اولنۍ تمبکي بيا شورش وکړ، يو کوچنی تولی مچۍ ترې رابهلې شوې او په نږدې دېوال پورې پنډې شوې. پلار مې ملکه پکې ونيوه. دا ځل يې وزر پرې لنډنه کړل. ما ته يې راکړه او راته ويې ويل چې په ورغوی کې يې ورو، ونيسه چې درنه مړه نه شي. ځکه چې د ملکې مرګ د يوې پاچاهۍ د پاچا مرګ دی. ما ملکه په ورغوی کې ورو ونيوه. زما په ورغوي کې يې ورو ورو وزرونه رپول، د وزرو له رپولو سره يې ان زما زړه تخناوه. پلار مې راته وويل چې دا ملکه يوسه او د غنمو په شنه کرونده کې يې خوشې کړه. زما په زړه کې يو سوال غځونې کولې. پلار مې نور څه هم راته ويل، خو ما نورو ويلو ته پرې نه ښود او ترې ومې پوښتل.

پلاره تا هغه بل ځل ويل چې هغه بله ملکه ما پرايستې وه چې نوی کور جوړ کړي، نو دا ملکه ولې نوي کور جوړولو ته نه پرېږدې؟ پلار مې موسکی شو، ويې ويل چې ته څومره ډېرې پوښتنې کوې، بيا يې په خواب کې راته وويل: ځکه چې يو خو دې ملکې ډېر کم شمېر مچۍ له ځان سره ملګرې کړې دي. يعني يو پاچا بايد ډېر رعيت ولري، نو د دې ملکې رعيت ډېر کم دی. بله دا چې هغه پخوانۍ تمبکه کمزورې کېږي. د دې ملکې غوټه ما نه وه ليدلې. کله کله د ملکې غوټه په پټ ځای کې وي، له سرې نه پاتې شي. زما د سوال ځواب وشو اوس نو زه په خوشحالۍ له کوره راووتم. ما ته ځان ډېر غټ برېښېده. ځکه له ما سره د مچيو پاچا ملګری شوی و. زه د غنمو تکې شنې کروندې ته ورسېدم. په بيلو پښو په تکه شنه کرونده ورګډ شوم. شنه او تنکي غنم زما په چاودو او بيلو پښو زخمي شول او خوږ بوی يې په هوا کې خور شو. دا بوی هم د شاتو او لمدو خاورو د بوی په شان پر ما خوږ ولګېد. ورو ورو مې خپل ورغوی پرانيست اوږده زرينه او وربښمينه ملکه مې پر ورغوري ګرځېده. وزر يې هم جوړ وو، خو خدازده چې ولې نه الوته. زما ډېر زړه پرې وخوږېده. ورغوي ته مې ورو پوکی ورکړ او په پوکي سره مې د شنو غنمو غېږې ته والوزوله. کور ته په خوشحالۍ راستون شوم. بيا مې له پلاره پوښتنه وکړه چې ولې دې ملکه له کوره لرې شنې کروندې ته رابانديې يووړه؟ پلار مې بيا په موسکا کې راته وويل: ځکه چې له کور او نورو تمبکو لرې وي. که دلته نږدې مو ازاده کړې واې، بيا به کومې تمبکي ته ننوتلې واې او يوه جوړه پاچهي به يې خرابه کړې واې. بله دا چې د ملکې مرګ لويه ګناه ده. بس د پاچا مرګ دی. ما وې چې ملکه ډېره تنکۍ وي په شنو او تنکيو غنمو کې له بل سپېره ځای نه خوشحاله وي او تر ټولو لويه ارزو مې دا وه چې ګونډې د مچيو يو داسې لښکر پرې راشي چې ملکه يې مړه وي او يا يې ملکه نه وي نو دا به يې ملکه شي او ورانه پاچهي به پرې جوړه شي.

ګرانو لوستونکيو اوس هم داسې انګېرم، چې زما د شعرونو او سندرو لفظونه هغه مچۍ دي چې د ښايست او شعر په شنه کرونه کې يې زرينه ملکه ورکه کړې ده. زه تل د دې زرينې ملکې په لټون کې لالهانده ګرځم. دعا راته کوئ چې په لاس راشي ګونډې د سندرو يوه کوچنوټې پاچهي راته جوړه کړي. •

سیند په کوزه کې

ګوربت د "سیند په کوزه کې" تر سرلیک لاندې خوانانو او نوي کول ته د پښتو لنډیو او پښتو متلونو د ور زده کولو او يادولو لړۍ پيل کړې ده، هيله ده په دې لړ کې د ادب مينه وال له موږ سره لاس يو کړي او له خپلو ادبي خولیو پر موږ ادبي لوروني وکړي

اداره

پښتو متلونه مو ياد دي؟

ګرانو لوستونکيو!

د ګوربت وزرې لويې دي، غواړي د خپلو وزرو په دغه ځانګړې برخه کې د پښتو متلونو د کاڼي کرښې را ونغاړي. په دغه کار سره به يوه غښې دوه نښې وولي او د ملنګ په څېر دوه ګټې وکړي، يو به مو ديدن کړی وي او بل به مو خيرات ټول کړی وي نو له خپلو لوستونکيو څخه غواړو، چې همدغسې دوه ګټې را ولوري.

ګوربت د خپلې راتلونکې ګڼې د وزرو څو بڼکې د هغو پښتو متلونو لپاره ځانګړې کړې دي، چې پوهه (علم)، ښوونکی او زده کوونکی په کې ياد شوي وي، يا دوی ته په کې نغوته شوې وي لکه:

عالم کېدل اسان دي، خو انسان کېدل ګران دي

لومړی زده کړه بيا کوزده کړه.

نو هر چا ته چې په دې اړه څه متلونه ياد وي، هيله ده چې را څخه يې و نه سپموي.

ګرانو لوستونکيو!

د ګوربت* دا بڼکې پښتو لنډيو ته ځانګړې شوې، د ګوربت اداره غواړي چې په خپلو بڼکو کې داسې څه راونغاړي چې هم ثواب وي، هم خرما. موږ په دغو پاڼو کې يوه داسې لړۍ پيلوو چې ستاسې په مټو به خواکمنېږي. نو هيله ده چې د ګوربت د لوړ الوت لپاره متې راونغاړئ

د دغې لړۍ د راتلونکې ګڼې څو مخونه د پښتو هغو لنډيو ته ځانګړې شوي، خط (ليک) پکې ياد شوی وي. لکه:

طالبه خدای که به ملا شې

په کتاب پروت يې يادوې شينکي خالونه

خال به د يار په وينو کېږدم

چې په شينکي باغ کې ګل ګلاب د شرمونه

سر په کړه ځنګله کېږده

منځ مې راستون کړه ښکلوه شينکي خالونه

نو هر هغه چا ته چې په دې اړه يې څه لنډۍ يادې وي، هيله ده چې د ګوربت** په لمنو يې ولوني، چې لمن يې رنګينه شي او موږ يې تنداري ته ورشو

---

* باز، شاهين ** د ګوربت غر چې د وردګ ولايت په منځ کې پروت دی.

شکور ګلونه

لوی خدای جل جلاله ته

پرې ګلشانی ستا د مینې او بایست د ګلستان شم
ستا د شان ناپای کتاب ته، یو وړوکی شان عنوان شم
یا خو ژبه اورنی را، یا قلم هسې پیاوړی
چې جوګه دې د ستاینې، زور و خواك شوکت و شان شم
یا مې تور لکه رانجه کړه، یا مې سور لکه نکریزې
مقصد دا و یا هغه خو، چې منظور د خپل جانان شم
یا په شان د پسرلي یې، کښېږدم ګل په تور وربل کې
یا په پښو کې یې د ناز، لکه ګلپاڼې د خزان شم
ما ته دومره برې راکړه، چې مې ژوند له څه نه څه شي
یا خو سیوری شم پر ځمکه، یا خو ستوری پر اسمان شم
څو به ورك یم له خپل خانه، ناخبره له جهانه
دومره لور و پېرزو وکړه، چې د خان یا د جهان شم
نه خو "درې نه د اوجرې شوم" هسې پاتې په دا مینځ کې
که د نورو د ښې نه شوم، نو خپل درد ته خو درمان شم
په تقدیر کې دې ښکېللی، څه تدبیر هم راته بویه!
نه چې پاتې په دې یو کې، تل تر تله بندیوان شم
دا نړۍ منم کافرو، ته جنت ماته دوزخ دی
خو څه کفر به و نه شي، دلته هم مل د کاروان شم
که څه زیات ادلون بدلون مې، په برخلیك کې نه خاېږي
خواروه مې دومره هم مه، چې د تېرو په ارمان شم
که راتېر له انتخاب شي، څه به ستا له دربار کم شي
پرېږده پاتې چې تر پایه، هم افغان هم مسلمان شم
چې پر ځمکه ګرځولی، همدا تا خپل خلیفه دی
په دې ویاړم چې مقبول، درته په نوم د یو انسان شم
یا را اېل سمندرونه، د مهال په اوبتلو کړه
یا د نوح په شان ماڼو را، چې خوندي خو له توپان شم
یا خو پوهه مدني را، چې زه هم فضا تسخیر کړم
یا خو ګروهه لدني، چې سپور پر تخت د سلیمان شم
وژغوره مې د دې ځمکې له وړو وړو خدایانو
چې کرور پاتې تش یوازې ستا په نهی او فرمان شم
درته څو په سوالو سر به، یم: ما دا کړه یا هغه کړه
بس همستا چې پرې رضا وي، پر هماغه لاز روان شم!

پوهاند زیار، اکسفورد

امان الله نصرت

مات کچکول

زما زړه دې د اوربل په دام نیولی
بیا د زلفو تور لښکر دې لام نیولی
پسې واړه صف ولاړ په اقتدا دي
د تندي خال دې ښو امام نیولی
د اسمان سپوږمۍ د سوال کچکول پر غاړه
ستا د سپین مخ پلوشو ته جام نیولی
د وختونو په بتیو کې سوزېږم
رقیبانو راته در او بام نیولی
بیا د زلفو امېلونه تار په تار شول
صیادانو مو د چم زمام نیولی
ما ویل زه به د سحر اننګې ښکل کړم
خو منزل راته تیاره ماښام نیولی
اشنا ستا د ښو غشي پرې وربېږي
"نصرت" ځکه ورته زړه ارام نیولی

ځاپې

د ګوربتو ځاله

د ګوربتو یمه ځاله پر ما نه شي بلوسېدای څوك
زه دخپل بچي زانګویم ماکې نه شي زنګېدای څوك
د شېرشاه سوري انند یم د میرویس نیکه ټاټوبی
د بابا احمدشاه تخت یم ما ته نه شي نیغ کتای څوك
داسې وایم زه جونګړه د غازي امان الله یم
اتلواله د ولس مې کله چېرته شي کوای څوك
ما روزلي اتلان دي ښه غښتلي مېړنیان دي
زه لرمه زمریان د ېر ماته نه شي رسېدای څوك
هره پاڼه د تاریخ مې له ښه برم او ننګه ډکه
نښانې لرمه د برې پر ما نه شي خندېدای څوك
زه وطن د هر افغان یم، زما نوم افغانستان دی
دا د ما نوم نه انکار هم ګویا نه شي کوای څوك

لومړی کال، لومړی ګڼه

غزل

رقیبه ولـــې ورانوې دا شین کور زموږه
زخمي زخمي دی پـر مرمیـو هـر ټټر زموږه

چې سوداګر یې پر پیسو باندې بنګلې جوړوې
تن پـه پردو باندې خرڅېږي لال ګوهر زموږه

چې د وطن په نوم قربان شول دوطن په غېږ کې
نـوم و نـښان شـول بربـاد د هـر پـدر زموږه

د خان خاني پـه اور کې سوځو لا پوهېږو هم نه
د تمدن تـاوو کـې ناسته ده پـه سـر زموږه

دزهرو جام چې راکـــوې راته د مرستو په نام
سوري سوري شویه هرغوړپ سره ځیګر زموږه

کـــابل حو نه دی کربلا ده د شـــلمې پېړۍ
چې توپـاني شو یو ځل بیا دا سمندر زموږه

تیاره تـــیاره ده ذوالجلاله هره خوا د وطن
شپه کړې سباچې شي روښانه سمه غر زموږه

"نوري" فریاد کــــول ګناه ده د ظالم له لاسه
چې په میخوباندې سوري شوتن او سر زموږه

سبحان الله نوري، د عربي ادبیاتو او اصول الدین پوهنځي
د څلورم ټولګي محصل

وخـــــته تصویــر کې مې دا ژوند ونغاړه
په حقیقت کې مې احساس ستړی شو
خـــدایه! دعـــــا ته مې امین پیدا کړه
هـــم مازیګر او هم مې لاس ستړی شو

زینب مصباح

محمد بشر خان هېوادیال

پاتې ستړګې

تن دې اشنا په چا خوږې شوې ستړګې
له خمارو دې ټکې سرې شوې ستړګې
دمخـــــه د ناز کارړه کـــــاته دې ګوره
زما خو دا ستا په لور کږې شوې ستړګې
دا دې حـــــیا ده کــــه نازونه کوې
چې په کتو دې هم درنې شوې ستړګې
تن د ســـــــاقـي پر لاس پیالې ماتېږي
چې دې ښکاره سرې پیمانې شوې ستړګې
څنګه یـــاغي یاغي ښکارونه کـــوې
لکه د باز وزر خورې شوې ســـتړګې
دغه کـــــاته دې هوســــی ښکارېږي
څکه په عشق کې دې رندې شوې ستړګې
"بشــــــره" تـــن په تخیل و خیال کې
له اوښکو ډکې دې لمدې شوې ستړګې

۹۹-۵-۲۹ لندن

ګوهر رحمن ګوهر

نه وو ستورې، نه وه څمکه
نه تیاره وه نه رڼا وه
نه مکان و نه زمان و
یوه هستي وه، هغه ستا وه
***
انځورګر غونډې دې ګوتې
ستر انځور ته تخنبدلې
د تخلیق قلم دې واخیست
او انځور ته کښوتلې
***
څاڅکي څاڅکي څاوه دې
رنګ په رنګ ورګډاوه دې
او په زړه کې غوټه کړې
خپل انځور زرغوناوه دې
***
د قلم څڅولي څاڅکي
دې شو ستورې څه لمرونه
او څه خړې پړې څمکې
غرونه دښتې او سیندونه
***
پوهېدې چې دا انځور دې
قدردان د هنر غواړې
څوك بېواكه بې ژبانه
یو خپلواك ژبه ور غواړې
***
نو چې زه دې راوستلم
زه په خپله انځورګر وم
ستا هنر چې مې ستایلو
نو په چرت د خپل هنر وم
***
ما هم واخیسته قلم خپل
خپل انځور ته کښوتمه
ستاد ستر انځور په څېرې
لاتر اوسه جوړومه.

ژباړن: وردک

خوب پوهنه

وايي چې خوب پوهنه (د خوب تعبير پېژندنه) يوه درنه او ستره پوهه ده. دغه پوهه خداى ﷻ لومړى حضرت يوسف ﷺ ته ور په برخه کړه. د عباس زوى (ابن عباس) وايي چې د نبوت لومړى نښه چې خداى ﷻ حضرت محمد ﷺ ته وښوده، هغه دا وه چې حضرت محمد ﷺ ته به يې نږدې (مقربې) پرښتې په خوب کې ورتلې.

پر تا دې زېرى وي، چې لوى خداى ﷻ د نبيانو له ټولني غوره کړې او د انبياوو خاتم يې وګرځولې.

کله چې حضرت محمد ﷺ له خوبه را ويښ شو، نو دا خوب يې حضرت خديجې(رض) ته ووايه او هغې ورته وويل: خوشاله اوسه چې د دغه خوب مانا ستا خير او بريالیتوب دى.

وايي چې دغه پوهه د حضرت يوسف ﷺ معجزه وه نو هغه پوهه چې د پيغمبرانو معجزه وي، په باور سره سړى ويلاى شي چې شريفه او ستره پوهه ده.

هشام د عروه زوى له خپل پلاره دا وينا را نقلوي چې خوب د خداى ﷻ له لوري خپلو نېکو بنده ګانو ته زېرى دى.

د ذر د پلار (ابو ذر) وينا ده چې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي، د نېکو او ښو خلکو خوب د پيغمبرۍ له ۴۶ څانګو نه يوه څانګه ده. همدا ډول عبد الله عباس او سليمان وايي چې خوب پر مومن بنده د خداى ﷻ له لوري وحې ده، چې مخکې له مخکې يې له هغه خير او شر څخه چې کېداى شي ده ته ورسېږي خبروي.

د ذر پلار (ابوذر) وايي: د صحابه وو يو ټولى غمجن و، محمد ﷺ ته راغى او ورته يې ويل: اې د خداى استازيه، تا ته له اسمانه وحې راځي او موږ له چارو خبروې. خو [خداى ﷻ پناه ته ورړوا] چې که چېرې ستا اجل راشي، څوک به موږ له چارو خبروي. او بې خبره به د دين پر چارو څه پوه شو. پيغمبر ﷺ وفرمايل: زما تر وفات وروسته به وحې بندېږي. ولې مبشرات نه بندېږي. صحابه وو وويل، مبشرات څه ته وايي. پيغمبر ﷺ وويل، منليو خوبو ته وايي چې نېک بنده يې په خوب ويني او يا يې نېک انسان د يوه بل لپاره ويني.

او له سليمان ﷺ روايت دى چې وايي: د خداى ﷻ له رسول ﷺ څخه مې واورېدل چې خپلو صحابه وو ته يې ويل: که ستاسې څخه څوك بد خوبونه ويني، نو ښايي چې د خداى شکر پر ځاى کړي او دا بد خوب خپلوانو ته ووايي او که چېرې يې بد خوب و نه ليد (بد خوب يې وليد) نو ښايي چې څو ځله (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) ووايي او د شيطان له شر او زيان څخه لوى خداى ﷻ ته پناه يوسي او دا خوب دې هيچا ته نه وايي چې زيان او ضرر ورته و نه رسېږي.

له امير المومنين نه روايت دى چې وايي که مومن خوب ويني نو ښايي د هغه په تعبير پوه شي. چې له بد خوبه ګټه تر لاسه کړي او د بد خوب له شره په دعا، عبادت او صدقې سره ځان وساتي.

د خوب حال او مهال (حالت او وخت)

څنګه چې خواړه پر دماغ اثر کوي او خوب د دماغ او مغزو له چارو څخه يوه چاره ده، نو د غذا خوراك پر مغزو اغېز کوي. څومره چې خواړه ژر هضمېدونکي وي، نو د بدن غړي، دماغ او اروا يې د خوب پر مهال ارام وي، نو په دغسې حال کې خوب ليدل ته يو طبيعي خوب وايي. خو که چېرې خواړه ډېر او سخت وي، نو د بدن غړي او مغز ناراحه او په داسې حال کې خوب ليدلو ته غير طبيعي خوب وايي.

وايي چې خوب دوه ډوله دى. يو ډول يې له رښتياوو او حال څخه خبروي او بل د کارو د پايلو په اړه خبر ورکوي او دا په څلور ډوله دى: ۱- امر کوونکى خوب، ۲- منع کوونکى خوب، ۳- پند ورکوونکى خوب، ۴- زېرى ورکوونکى خوب.

د خداى ﷻ استازى محمد ﷺ فرمايي: خوب پر درې ډوله دى، يو د خداى له لوري مومنانو ته زېرى دى. دويم د شيطان وسوسه ده چې انسان اندېښمنوي او درېيم ډول يې بېلا بېل خوبونه دي.

وايي چې د ښو خوبونو د ليدلو لپاره په پاکۍ سره پر ښي اړخ ويده شي او د ويدېدا پر مهال خداى ﷻ ياد کړي. ښايي تر ويدېدو مخکې ډېر خواړه و نه خوري او داسې هم نه چې وږي وي.

خبرې به را غونډې کړي، نو که له تاسې څخه څوك اوبه په خوب کې ويني څه به پېښ شي

پاتې په ۵۹ مخ کې

روښنا وردګ

برکتي ډوډۍ

دا څوومه هفته ده چې زموږ د کلي تر نیمايي زیاتې مېرمنې نفلونه کوي. بوره، چای، ټوکران بېدرېغه مصرفوي او د شپې تر ناوخته یې څراغونه لګولي وي. هغه څخه یې چې د خپلو ماشومانو، سرېو او ناروغانو له خولو نه سپمولي - تن سبا یې په ډېر خلاص مټ او "بنه" نیت مصرفوي.

ګل اندامه چې زموږ ګاونډۍ ده، خپل کور ته یې نژدې ګاونډ کورونو مېرمنې رابللې وې، ټولو مېرمنو یې اوداسه دعاګانې ویلې، په ډېر احتیاط وړاندې کوټې ته ننوتلې، ګل اندامې خپل کوچنی زوی د باندې ویوست او د لور په اوږه یې ورکړ او په ډېر ټینګار یې ورته وویل: پام چې هغه وړاندې کوټې ته یې را نه ولې، ګنې بیا به خدای مه کړه څه راپېښ شي.

ګل اندامه په ډېر تعظیم د صندق کولپ ته ور نژدې شوه او نورې مېرمنې هم په بسم الله د هغه صندق شاوخوا کېناستلې، ټولو توبې توبې کولې او دې هغه تور ټینګ چای، تک سپین نوی ټوکر او یو ګیلاس بوره چې لامخکې یې تیار د صندق له څنګه ایښي وو، یو ځل په خیر تر نظر تېر کړل.

د ګل اندامه دوی ایلبه بیلبه لاس تر خولې رسېده، داسې تېر او زیات یې نه لرل، چې ګاونډیانې کور ته ور وبولي. دا دوه کلونه کېږي چې خاوند یې پسرلي په انجه پسې ځي، مشر زوی یې چې اوس د اتلسو کلونو په شاوخوا عمر لري، له یوه او بل سره کالني مزدوري کوي، دا خو لا څه کوې چې پلار یې په انجه پسې تللو، نو یې زوی انور ته واده هم وکړ. وایي موږ ک په غار نه شو ننوتلی چج یې له اخره وریسې وتاړه. خو پرده به یې دا وه چې خپله لور یې ورته بدل کړې وه، نورې یې هم څلور لورانې او دوه زامن وو، ډېر غریب و، همېشه به یې له ګوړې، بورې او پتاسو پرته تریخ چای څښه، ډوډۍ به یې هم ډېر وخت له شړومبو سره تېروله، هغه هم د جوارو سوکړک وو چې د اولادونو به یې په غلیمنه ډوډۍ پسې سترګې راوتلې.

ګل اندامه په ونه برابره او نري ښځه ده، په سر کې یې سپین وېښتان له لرې معلومېږي، هغه هم داسې ښکاري لکه بې وخته چې سپین شوي وي، ګنې د داسې ډېر عمر هم نه ده، غریب خلک دي، هم دغه غربت دی چې بدرنګې راولي، خو یوه خبره ده چې که زموږ کلیوال هر څومره غریب او بې وزله دي، خو خدای شته چې بیا په مېلمه پالنه کې ډېر وتلي او تکړه خلک دي، له خپل خان نه یې سپمولي په خپلو ماشومانو یې کسر کړلي خو په مېلمه او مسافر یې خوړلي دي، په کور کې یې که هر څو د موږک لکۍ نه سېږېږي، خو جومات او اجرې ته یې له ساله کمه نه لېږي.

زه هم وایم چې مېلمه یې دي وخوري، مسافر یې دې وخوري خیر او خیرات ښه وي، خپل ګرېدلي ماشومان خو لا پربږده، ثو نه چې سپمولي سپو خوړلي، چې ویې سپموي او اخر یې هم سپي وخوري.

زموږ خورا لوی کلی چې ډېره کورنۍ یې کې غریبې او ډېرې مېرمنې یې لکه د نورو کلیو نالوستې دي، خو داسې هم نه ده چې ټولې نالوستې دي، یو دوې ډاکترانې، څلور پینځه ښوونکې او لوستې هم شته، خو له بده مرغه ښوونځي نه شته، چې ښوونکې ژده کوونکې وروزي، نارینه یې هم اکثر بې تعلیمه دي. یو خو غربت ډېر دی او بل دغه خلک

داسې يو به يل پسې زر زر اولادونه راوړي چې په روزانه خوراك پسې يې نه شي رسېدای او که د يو چا پکې لږ څنډ راشي نو بيا ټوټکو او ناوړو ته مخه کړي. بس دا دود ګرځېدلی، که څوك خپل اولاد ساتلی هم نه شي. ګېډه يې سهوه له ښوونځي پاتې ناروغ خو د دوی يې پرې څه پروا نه چې ډېر وي.

زموږ د کلي تر ټولو غريب. بې خپکي او خوارځوکي د امير ګل مېرمن هم دوخوټو وځوټو د مېلمه او مسافر لپاره سپېرلي بوره چای او تېل اخېستي او په صندق کې يې يوه ايښې دېګ ته اچوي.

د پسرلي ګل دوی کره ډېره ګڼه ګوڼه وه، ګل اندامه مېنځلې جامې په تن- په اوداسه په هغه وړاندې خونه کې چې تر ټولو تياره ده، د لوی لرګين صندوق لوري ته په دعاګانو خې او راځي.

سوازې ګل اندامه ته د زموږ په دغه لوی کلي او نورو نژدې او لرې کليو کې داسې ډېر ښځې دي چې همدا لوبې يې شروع کړې دي.

ګل اندامه چې تل به يې څراغ سوازې د ډوډۍ خوړلو پر وخت لګاوه، خو اوس يې تر سهاره په هغه وړاندې تياره کوټه کې لګوي. د ګل اندامې ماشومان په تياره کې ايله بېنې ګرځي. هغه منځوی زوی خو يې تېر ماسخوتن په تلمه لړم چيچلی و او کوږنجار يې تر موږ را ورسېده.

په دومره لوی کلي کې سوازې زموږ کور و چې دا لوبه پکې نه وه او يو هم د هغو دوو ډاکټرانو او ښوونکيو کورونه وو. خو سوازې کيسې به يې زموږ کره په خوند کېدې. هغه مېرمنې به چې زموږ کره تلې راتلې هغوی ټولو به دا کيسې کولې او راتلونکې به يې خوشحاله ځرګنداوه. کله کله به له ټوکو او مسخرو نه موږ هم دغه کيسې کولې، خو تر هغه خوك و چې د پلار به مخ کې مې داسې خبرې کړې وای، پلار به مې چې هسې لږ څه تر غوږ شول، نو ډېر به په غوسه شو، او ويل به يې چې به چنې خبرو خان مه ستړي کوئ او مه تيمي وخت خوشې تېروئ.

ګل اندامه چې کله دعاګانې او نفلونه پای ته ورسول او ښځو هم ورسره د دعاګانو لاسونه پورته کړل، نو د صندوق کولپ يې خلاص کې. په صندوق کې يې د ديګ سر لوخ کې او ګل اندامه هغه تور چای او بوره يې په ديګ کې ور واچول.

په دېګ کې بوره او چای هغې برکتي ډوډۍ. وخېل چې دغه بوره او چای هرې دوې ورځې وروسته څښي. نو بيا کوچنې کوچنې بچي په ديګ کې تر چای او بورې اچولو وروسته را ښکاره شول نو هغه يې ترې را واېستل او دغو ناستو ښځو ته يو يو ورکړ او يو بل ته يې په ډېر ټينګار ويل. خدای مو وئ چې هلکان او نارينه يې د رنه نه ويني.

چې تپ توپ به ړانده شي.

ناستو ښځو هم هغه يو يو خپلو کورونو او بکسونه ته د دې لپاره يوړل چې سپېرلي بوره او چايونه پرې وځېږي، هر چا ته به يې چې بچي وايستل نو هغوی به نورو ښځو ته ورکول چې نه به يې ډرلودل، او د دغې برکتي ډوډۍ مور به يې خپل خان ته بې ښودله. خو که کومې مېرمنې به يې بچي و نه ايستل، نو ويل به يې چې د هغې مېرمن به په ايمان کې خلل دی او ګناهکاره به بلل کېده، اخر د دغې برکتي ډوډۍ نسل دومره زيات شو، چې چا نور بوره او چايونه نه سوای پسې رسولای او ډنډورې خو يې د هر چا په خوله وې، چې په پلانې ځای کې يې يوه کوټه اوړه ايستلي او په پلانې ځای کې يې امريکايي ډالر.

مېرمنو چې نور دومره چای او بوره نه شوای پسې رسولای، نو يې له نيم نيم متر ټوکرانو سره په سېندونو لاهو کول پيل کړل او يوه يوه خو به يې په دې اميد چې ګوتندې ډالر به راوباسي، پرې ښودله.

که زموږ د کليو هغه ښوونکيو او ډاکټرانو به هر څومره ورته وويل چې دا دروغ دي. نو ته چا نه وايسې. دوی ماغزه پرې اوبه کړل خو څخه يې ترې سود بود نه کړل او کله چې يو ځل يو ناوړه شی دود شي، بيا نو لکه ناسور خپلې ريښې ټينګې کړي او بيا يې څوك په دومره اسانه مخه هم نه شي نيولای.

په دغه لوی مجلس کې سوازې په همدغه خبرې کېدلې. د مور مې حوصله ورته ختمه شوه او په قهرجنه لهجه يې وويل د خدای لپاره توبه وباسئ، ګناهکارې شوئ. خو د سرکو مور چې اوس پخه ښځه وه. مخ پرې راواړوه او وې ويل، خورې توبه ته وباسه. دا خوشې خبرې نه دي، دا بس بي بي فاطمې د غريبو ښځو لپاره رالېږلي. خدای دې وه، وئ؛ خورې ته نه يې خبره هغه په کابل کې يوه سړې خپله مېرمن وژلې وه. بيا يې په تياره کې سوزولې او پخه کړې يې وه او بيا يې هغه ايرې په سيند کې اچولې وې. له هغو ايرو نه يې په سيند کې ډوډۍ جوړه شوه. يوه ورځ چې يوه غريبه ښځه په هغه لار تېرېده. ورې ماشومان يې ورسره و. نو دغې ډوډۍ ورته ويلي وو چې ما در وکاږه او داسې مې په دېګ کې کېږده. بوره او چای راکوه. نو بيا به تا ته ډېره دنياه در کړم او نورو ښځو ته مې هم ورکړه. خو پام چې نارينه مې د نه ګوري. ګنې ټول نارينه به درته ړانده شي. نه دا خو دروغ نه دي، دا د بي بي فاطمې لوربېنه ده.

مور مې وليدل چې مېرمنې نه قانع کېږي، نو يې ورته څه و نه ويل او له بلې ښځې سره په نورو خبرو شوه، دلته نو زموږ د ګاونډۍ ډاکټرې حوصله هم ختمه شوه او وې ويل. هې خدايه دا څومره وروسته پاتې خلك دي، نرۍ چېرته ورسېده او دوی چېرته دي.

پاتې په ۵۷مخ کې

عبدالقیوم مشوانی

د خوشال خان په دستارنامه کې د آیتونو او حدیثونو څرګندونې

دستارنامه د خوشال خان خټک یو غوره نبوغنیز او رونیز اثر دی. چې بنایي په ټریوال کچ به یې ساری د ګوتو په شمېر وي. دا غوره اثر د افغان ولس د نبوغي او روزني په ۱۷۰۶ ساوخوا کې لیکل شوی. خوشال خان خټک د کتاب د متن په ډېرو ځایونو کې د خپلې خبرې د پخلي او کوټلیا لپاره ایتونه، حدیثونه، عربي مقولې (متلونه) او پښتو، پارسي بیتونه کارولي دي.

موږ دلته یوازې د ځینو عربي عباراتو په اړوند په لنډو ټکیو کې څه ناڅه څرګندونې کوو.

تزوجوا فانی تکاثربکم الامم ولاتکونوا کرهبانیه النصاری.

انکحوا فانی تکاثربکم انکحوا امهات الاولاد فانی اباهی بهم یوم القیامه. دستارنامه ۵۵ مخ

پورتني دواړه عبارتونه خوشال خان خټک احادیث ګڼلي، خو ملا علي قاري په خپل کتاب "موضوعات کبیر" ۳۲ مخ کې د تناسلوا اباهی بکم یوم القیامه [ډېر اولادونه وزېږوئ څکه چې د قیامت پر ورځ به زه ستاسې په اولادو ویاړم.] عبارت لاندې لیکلی دی:

په دې ډول الفاظ د اصحابو کرامو له لوري دلې ځخه ثابت دي. ابو داود، نسایي، بیهقي او نورو له معقل بن یسیار څخه مرفوع حدیث داسې نقل کړی دی.

تاسې د ډېرو اولاد زېږوونکیو ښځو سره نکاح وکړئ، څکه زه د قیامت پر ورځ ستاسې په ډېروالي ویاړم.

احمد اوبیهقي په همدې الفاظو روایت کړی دی او ابن حبان او حاکم ورته صحیح حدیث ویلی دی.

حب الدنیا راس کل خطیه (۱۰۹ مخ)

خوشال خان ددې عبارت په اړونده څه نه دي ویلي، خو د خپلې وینا دپخلي لپاره یې راوړی دی. ملاعلي قاري د موضوعات کبیر په ۳۴ مخ کې ددې "حب الدنیاراس کل خطیه" (ددنیا مینه دهرې ګناه ریښه ده.) سره داسې لیکلي دي

ځینو ویلي دي چې دا په دروا غو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته منسوب شوی دی.

ابن تیمیه ویلي دي چې دوموړي خبره دجندب بجلي ده. بیهقي دا حدیث په شعب الایمان کې په ښه اسناد سره حسن ته رسولي او هغه یې په مرسل سند مرفوع ګرځولی دی.

"عن حذیفه... حب الدنیا راس کل خطیه" منه فی شعب الایمان عن الحسن مرسلا(۱)

شیخ الاسلام ابن حجر وایي چې مدیني د حسن بصري مراسل (احادیث)ستایلي دي او دې ته یې اسنادبه ګڼلي دي. امام سیوطي دا حدیث په موضوعاتو کې شمېري.

الدنیا مزرعه الاخره: نړۍ د آخرت کروندہ ده. (۸۱مخ)

خوشال خان خټک د دې عبارت په اړونده هم څه نه دي ویلي خو د خپلې موخې د ښې څرګندونې لپاره یې راوړی دی. د موضوعات کبیر په ۳۸ مخ کې یې له پورتني عبارت سره داسې کښلي دي:

امام سخاوي وایي چې امام غزالي دا حدیث په احیاء العلوم نومې کتاب کې راوړی دی، خو ما ته یې د اصل پته نه شته، چې له کومه ځایه یې راوړی دی.

زه (ملا علي قاري) وایم چې مانا یې سمه ده، چې له دې ایت شریف څخه اخیستل شوی. من کان یرید حرث الاخره نزد له فی حرثه.

څوك چې د اخرت کرونده غواړي، موږ به یې ور ډېره کړو.

العلم علمان علم الادیان و علم الابدان. علم دوه ډوله دی، د دینونو او بدنونو (۶۷مخ)

دغه پورتنی عبارت محمد اعزاز علي په (نفحه العرب) کې د هارون الرشید د دربار د یو نصراني طبیب وینا ګڼلې.(۲)

د موضوعات په ۴۸ مخ کې یې لیکلي دي:

لکه څنګه چې په خلاصه کې هم یادونه شوې ده، دا موضعي حدیث دی او په ذیل کې پرله پسې له حسن او هغه له حذیفه څه روایت کړی دی. دی وایي چې ما له رسول الله(ص) څخه واورېدل چې باطني علم څه شی دی؟

۵۸ مخ

توریالی وردګ

د واده انتخاب

له پلاره مې لږ ډېر دیني کتابونه ولوستل. خو خدای ﷻ د کور جنجالونه را پر غاړه کړل، پلار مې کمزوری شو، عمر یې تېر شو او په تېره له سترګو خو د ړندو په حساب و، مور مې هم کمزورې شوه، د کور چارې یې له وسه پوره نه وې، د کور لوی واره ،کارونه زما پر غاړه شول، مور مې یوازې ډوډۍ پخوله او هغه به یې هم د سترګو د کمزورۍ له امله یوه پر بله وهلې وه.

پلار مې غوښتل چې له دغو جنجالونو خان خلاص کړي او ماته یې د واده کولو اراده وکړه. د کلي او نږدې شاوخوا نجونې یې نه وې خوښې، ځکه چې د هغوی ستر مات شوی و او د باندې ګرځېدلې وې. لنډه یې دا چې د ده په شرطونو نه وې پوره، لږ وخت تېر شو، خو د ده په شرایطو برابره نجلۍ پیدا نه شوه، اخر یې د خپل پخواني دوست او اشنا حبیب مولینا صاحب سره خبره شریکه کړه.

څو ورځې وروسته مولینا صاحب د "دېوالك" د علاقدار له لور نه زما پلار ته ووېل. د "دېوالك" علاقه دار خو علاقه دار نه و. هغه يې خلکو په علاقه دار مشهور کړی و، علاقه دار مولینا صاحب ته ویلي وو، چې زما لور به څه ناڅه د ملا صاحب په شرایطو پوره وي، ځکه چې زما د لور ستر نه دی مات شوی، تر اننګړ دباندې نه ده وتلې او نامحرم خو لا څه چې محرم به یې هم نه وي لیدلې.

پلار خو مې ډېر ګرځېدلی و، خو څه په لاس نه وو ورغلي، وایې ما په اسمان غوښتې خدای پر ځمکه راکړې، نو د مولینا سره یو ځای په ځړو ځړو سپاره او د یوالك په لوري وخوځېدل.

د ماښام اذانونه نه وو شوي چې ملا او مولینا د جنګ د فاتحینو په څېر کلي ته راورسېدل او بې له ډې چې له ما او یا مې له مور سره یې مسلات کړې وي، د واده نېټه پر سر تومبلې، کاله ته ننوتل.

د ماښام له لمانځه وروسته مبارکي شوې. خوشحالي او اتڼونه. ټول زما له واده خبره شول. سبا ماښام د کلي په لویه سویه ځوانانو لرګي راغونډ کړل اور یې ورته ورته کړ او چې اور ښه مست شو، نو د ډولونو او چکچکو اوازونه تر نورو لنډ کلیو ورسېدل، زه په لږه تیاره غونډۍ ځای کې د بام پر سر د سیل لپاره ناست وم. اتڼ ښه ګرم او ډلونه په خوښۍ غړمبېدل.

سر به مو څه خوږم، خوب درنه شي په ما ګرانو.

څه موده وروسته چې زما پلار، زما مور او زمونږ څه خپلوان د واده د خبرې د غوټه کولو لپاره "دېوالك" ته لاړل، نو ځرګنده شوه چې د ملا او مولینا سودا غلطه وه او علاقه دار دوې دواړه او نه پوهېږم. که یوازې زما پلار غولولی وو او داسې ښځه یې ورکړې وه چې په پښتو شله او په سترګو هم ړنده وه، یوازې ډېر لوی ښی به یې له نږدې لیدل، نور یې هېڅ هم نه لیدل او نه اورېدل، که زما پلار هر څو هلې ځلې وکړې، چې تا خو له ما سره لویه دوکه وکړه، خو علاقه دار ووېل چې په ما کې هېڅ ګناه نه شته او ښځه ستا په شرایطو پوره ده.

ډېرې مرکې او غونډې وشوې، خو عقد ، ایجاب او قبول ټول خلاص وو، رضایت د دواړو اړخونو شوی و، نور هېڅ نه کېدل بې له دې چې ښځه واده وکړ.

ښه پلاره! وکړه داسې جینۍ چې نامحرم یې نه وي لیدلې.

بس نو څو ورځې وروسته واده وشو، بې له ډول او اتڼ بې له دود او دستور خلاص شو.

ښه دا خو وو چې تېر شول، د طب له قانون سره سم د ښځې دواړو حواسو نشتوالی ژبه داسې چالاکه کړې وه لکه د سنډور ژرنده.

په خبرو کې له هر څه پوره وه. د خدای ﷻ کړه وو، په دغو ورځو کې په قره باغ کې ملنګ پیدا شو او په څو ورځو کې داسې مشهور شو چې د ناروغیو ټوله درمله خلکو په ده ګوله او له ټول هېواده ده ته ناروغان بېول کېدل.

پاتې په ۵۷ مخ کې

ژباړن: محمد ادریس غیرت

د لاس کرښې

د پامستري په اړه د وګړيو دا خيال دی چې د دغې پوهې په مرسته د لاس د کرښو په کتلو سره د بخت حال ويل کېږي. لکه د يوه سړي واده به څه وخت کېږي؟ سړی به څو زامن لري؛ ايا مور (شتمن) به شي؟ ايا بهرنيو هېوادو ته به لاړ شي؟ مشهور به شي؟ عمر به يې څومره وي او نور راتلونکی به يې څنګه وي؟ دا هغه سوالونه دي چې د ګڼ شمېر وګړيو په ذهنونو کې چورلېږي. يوه پوهه (علم) چې پامستري بلل کېږي، د لاس د کرښو په وسيله دغو پوښتنو سوالونوته ځواب وايي.

پامستري يوه ډېر لرغونې پوهه ده، دومره لرغونې چې څرګنده نه ده، څه مهال پيل شوې. په لرغونې زمانه کې د دغې پوهې په وسيله به پادشاهانو خپل راتلونکی معلومول. دوی به دا معلومول چې ايا موږ به په جګړه کې بري مومو که نه؟

د پامستري رښتينې ګټه دا ده چې د دغې پوهې په مرسته سړی ساده لږ تر لږه خپل منزل ته يوه کرښه کښلی شي. په خپلو کمزوريو لاسبری کېږي او په خپلو صلاحيتونو کې زياتوالی راوستلای شي.

د پامستري په مرسته د پټښو پېشګويي او د خپلو صلاحيتونو په اړه تر درستو معلوماتو لاس ته راوړلو وروسته دخپل ژوند اړخ بدلولی شي. که يو سړی د راتلونکيو پېښو ته خبر شي، نو هغه به په رښتيا خپل ځان د حالاتو مقابلې ته تيار وي. رښتيا خو دا ده چې کله موږ خپل ځان بدل کړو، نو راتلونکی به هم ورسره بدلېږي.

د پامستري يوه ګټه دا ده چې د دې پوهې په مرسته سړی د يوه ناپېژندوی او ناشنا سړي په اړه هم ډېر څه پوهېدلی شي. ګڼوره لا دا که څوک د لاس د کتلو ماهر وي، ډېر وګړي به لاس ورته ښيي، نو په دې توګه ګڼ ملګري هم پيدا کولای شي. د لاس يو څه مهمې کرښې:

۱- د ژوند کرښه: ماته کرښه د حادثې، وړه او ژوره د اوږده ژوند او که د (٣) نښه وي نو د يو غښتلي کار نښه ده.

۲- که د قسمت کرښه ماته وي، نو د سخت کوښښ نښه ده او که په لاس کې د قسمت کرښه نه وي تو هغه سړی تر ټولو بختيار (طالعمن) دی.

۳- د ذهن کرښه که ډېره اوږده وي، نو د دې دا مطلب دی، چې دا سړی ډېر خوبونه ويني او خيال پلو وهي.

۴- په ژوند کې به مرستيال پيدا کېږي.

۵- دشهرت کرښه چې د ډېرو په لاس کې نه وي.

۶- د زړه کرښه، که د منځوې او شهادت ګوتې په منځ کې ختم وي، نو د باوفايي نښه ده. داسې کرښې اکثر د ښځو په لاسو کې وي او که کرښه منځنۍ ګوتې ته لاندې ختمه وي، نو دا سړی به کم ذوقه او که د شهادت ګوتې ته لاندې ختمه وي نو د دې سړي ذوق به اوچت وي.

۷- په لاس کې چې څومره (×) نښې وي نو هغه سړی به ډېر پېژندوی (مشهور) شي او ملګري به يې زيات وي.

۹- اوږده کرښه د واده، وړه کرښه د کوژدې او نوري وړې کرښې د مينې کرښې دي د واده کرښه چې څومره د وړې ګوتې سره نږدې وي، نو د هغه واده به هم دومره ناوخته کېږي او څومره چې د زړه د کرښې سره نږدې وي نو هومره به ژر واده کوي.

۱۰ - وړې وړې کرښې د محبت علامې دي او که لږ وړه او ژوره کرښه د زړه د کرښې سره وځنګېږي نو دا د مينې نښه ده او که په دواړو لاسونو کې دا ډول کرښې وي نو دا د دوه اړخيزې مينې نښه ده او که په يوه لاس کې وي نو دا د يو اړخه مينې نښه ده.

۱۱- دا کرښې د سفر مانا لري او ښتې کرښې ظاهروي چې دا سړی به د ملک نه بهر سفر کوي. ◆

ننگیار ناآشنا

کور، کالي، ډوډۍ

پخوا چې کراري وه او په هېواد کې منظم حکومت و، نو په کراري سربېره ارزاني هم وه او هغه د چا خبره چې "گز" او "من" خوار و. لهٔ هېڅچا سره د اوړو او ډوډۍ غم نه و. د هر چا کندوان به له اوړو او کندوچیان له وریجو ډك وو. خلکو به وریجې څو کاله ساتلې چې زړې شي او چې لسرې وریجې به زړې شوې نو کیفیت به یې څو څله زیات شو.

نباتي غوړي خو بیخي چا نه پېژندل او ټولو خلکو به د غواوو او مېږو ژېړ غوړي خوړل. ښه مې یادېږي چې اوړی، ژمی به بقالان، قوالان، چنگړیان، جتان، کلالان او نداپان کلي پر کلي گرځېدل او خپلې سوداگانې به یې په اوړو پلورلې. بقالانو به گندنه په خره بار کړې وه او په اوړو به یې دوه تولمه خرڅوله. یاني دوه تولمه به یې اوړه اخیستل او یو تول به یې گندنه ورکوله. ښځو به داسې په خوشحاله اوړه ور ایستل چې تا به ویل خاورې دي.

همداسې د رختونو، کټو او منگیو، انگورو او مېو، چغلونو اوغلبېلونو او نورو شیانو په اوړو او غنمو د رانیولو رواج درلود. په رښتیا اوړه همدومره ارزانه او پرېمانه وو، خو شل کاله مخکې چې کله په هېواد کې د "کور، کالي، ډوډۍ" ارمانجو کودتاوکړه او خلکو ته یې د دغو شیانو د پرېمانه کولو وعدې ورکړې، نو ورسره سم هغه ټول شیان "کور، کالي، ډوډۍ" داسې گران او کم شول لکه چې ټول سیلاو وړي وي.

نور هر څه ډېر شول، دومره ډېر چې تر هر چا ورسېدل، ان داسې شیان چې تر اوسه لا چا لیدلي هم نه وو، خو اوړه، کالیو او کورونو زرونه وکړل او چېرته لسرې والوتل او لاړل، بیا چې څومره جگړه اوږدېده، همدومره ورسره د "کور، کالي، ډوډۍ" وزرونه هم لوېېدل او پرواز یې لوړېده.

د کالیو خو پاکستان یو غم وکړ او داسې رختونه یې راوویستل او رالېږل چې یوه جوړه یې په درې کالونو کې هم نه زړېږي او د کورونو پر ځای د رخت خیمې را پیدا شوې او په خلکو ووېشل شوې. خو د اوړو او ډوډۍ غم ورځ له ورځې زیات شو. څکه داسې اوړه راووتل چې نه بر لري او نه برکت. هر څومره چې خوري همدومره دې نور وږی کوي.

پخوا به خلکو هر څه په اوړو اخیستل، خو اوس خلك هر څه خرڅوي او اوړه پرې اخلي. اوس د کلیو خلك گندنه، پیاز، کچالو او نور شیان کري او بیا یې پلوري او په پیسو یې اوړه اخلي او که خبره د تول شي نو اوس په سل تولمه گندنه هم یو تول اوړه نه ورکوي. د خدای کارونه دي هر څه سرچپه شول او شاید د "انقلاب" اصلي مانا هم وي.

زموږ یو کلیوال بیا وایي چې که بېرته هماغه بقالان، قوالان، جتان، کلالان اونداپان یو ځل بېرته را پیدا شي او خپلې سوداگانې د څه وخت لپاره په اوړو دوه تولمه وپلوري نو شاید اوړه بېرته ډېر او ارزانه شي. هغه وایي چې د دغه کار لپاره د خلکو قرباني ته ضرورت دی، خو...! هغه زیاتوي، که چېرې داسې ونشي، ډېره دا ده چې بیا هغه د "کور، کالي، ډوډۍ" ارمانجن انقلاب و نه کړي.

هغه وایي چې د "کور، کالي، ډوډۍ" ارمانجنو خو کودتا وکړه او د دولت گودامونه یې له غنمو او اوړو نه تش کړل، د خلکو قیمتي کورونه یې د ځان لپاره ضبط کړل، خو تجربه یې ناکامه شوه، نه په اوړو ماړه شول او نه هغه کورونه ور پاتې شول، لا چې تخت او تاج یې هم له لاسه ووتل خو دا ځل یې کار له بنسټه پیل کړ.

ما چې ورته وویل، دا څنگه؟ هغه موسکی شو او وې ویل ته نه گورې چې هغو ټولو د دولت لوړې، لوړې څوکۍ پرېښې او ټول د اوړو په منډیانو کې کراچۍ وانۍ او پنډیتوب کوي! او څه نور یې د کورونو جوړولو په کارونو کې مزدوران دي، دا یې لاڅه کوي چې یو شمېر یې نورو هېوادونو ته لېږلي او د رخت جوړولو په کارخانو کې کار کوي. دا ځل هغوی په سیې توگه د "کور، کالي، ډوډۍ" څېړنه کوي او خپلې غلطۍ سموي، څکه هغوی کور، کالي او ډوډۍ په سیې توگه نه وو پېژندلې، نو څکه داسې ژر ټرې خرابه شوه.

هغه زیاتوي، چې پخوا به خلقیانو، پرچمیانو ناري وهلې چې کور- کالي- ډوډۍ خو اوس یې چې په منډیانو کورونو جوړولو او د رخت کارخانو کې ځانونه ننویستلي، غږ هم نه کوي او لا چې بل څوك ووایي: کور- کالي- ډوډۍ

پاتې ۵۷ په مخ کې

د مذهب او تهذيب...

اهرامونه جوړولای شول. خو په مقابل کې يې د موسی (ع)، د مبارزې او جهاد د لويو خاطرو څخه داسې سپېڅلي نوراني خلي جوړ شوي دي چې عظمت يې د زمان او مکان په حدودو کې نه شي حصار کېدلای. دا لويې خاطرې د داسې يو عالي تهذيب له آثارو څخه دي چې اوس هم د مظلومو او مستضعفو ملتونو لپاره سرمشق ګرځي.

کومه کلي نتيجه چې له دې بحث څخه اخيستل کېدای شي، دا ده چې د مصر د اهرامونو په څېر د تمدن آثار د جامدو بتانو غوندې دي چې حرکت او تحرک نه لري. خو د هغه تهذيب آثار چې جليل القدر پيغمبرانو او د دوی په کرېنه روانو مصلحينو ايجاد کړي او پاللي دي، اوس هم موږ ته د لازې مشالونه ګرځېدلي دي.

په هر حال موږ هم د نړۍ د نورو ولسونو په څېر دا هيله کوو چې نوې پېړۍ او هم نوې زريزه د سولې او اجتماعي عدالت او د بشر د هوسايۍ او عقلمندۍ يوه پراخه زمانه وي، په خاصه توګه زموږ ارزو دا ده چې د يو لړ مذهبي پېښ ګوييو او هم د يو شمېر مفکرينو د خوشبينيو له مخه په راتلونکي ميلينيم کې د لوړو مصلحينو د ودې او پيدايښت شرايط برابر شي، څو د بشريت له غاړې څخه د ناصالحې تکنالوژۍ زنځيرونه مات کړي او صالحه تکنالوژي په پوره مفهوم د انسان د ارادې تابع وګرځي■

د هېواد د ژغورنې لپاره...

هغه افغانانو ته چې له هېواد بهر مهاجر پراته دي او يوازې خبرې کوي، هغوی ته مې مشوره دا ده، چې اوس افغانستان په سخت بحران کې راګير دی. د افغانستان کشاله په تشو خبرو نه حل کېږي، چې يو دې له هنده را غوړېږي او بل له چين، بلکې د افغانستان د کشالې حل عمل او په عمل کې رښتينولي ته اړتيا لري. افغانستان اوس هغې سترې قربانۍ ته اړتيا لري، که ور يې نه کړو، خدای* مه کړه نو يوه لويې کندې ته به ولوېږو. نو ښه به دا وي چې دوی په هر ډول چې وي هېواد ته راشي او عملي هېوادوالو ته وښايي چې نور زموږ د زغم کاسه ډکه ده.

هېواد ته د مهاجرو افغانانو بېرته راتګ څنګه ارزوئ؟

ښايي ووايم چې افغانان به اوس هم خپل هېواد ته راستانه شي، زه چې اوس هم په ټول هېواد کې ګرځم، نو رښتيا هم څه د نويو راتلونکو افغانانو لپاره يو لړ ستونزې شته. لکه د ښوونځي او ښوونې روزنې نيمګړتيا او نشتوالی. نو که مهاجر شوي هېوادوال چې په نورو هېوادونو کې نو هلته د تعليم او تربيې ښې اسانتياوې او پرمختللي وسايل شته نو که راستانه شي دلته به خامخا له يو لړ ستونزو سره مخ شي.

بله نيمګړتيا يې دروغجنې اسانتياوو نشتوالی دی، په تېره د عمر خوړلو او مهرمنو لپاره چې د غه نيمګړتياهم ځينې افغانان مجبور کړي چې په نورو هېوادونو کې پاتې شي.

دريم د کار نشتوالی دی، په دولتي کچه هېڅ کار نه شته، بيا که وي هم نو دومره پيسې نه ورکوي چې په مياشتني تنخوا دې يوازې لس منه اوړه واخلي، مهاجر شوي خلک فکر کوي، که هېواد ته لاړ شيځ نو څه به خورګو، چې دا حقيقت هم دی.

خو زه وايم که دوی هېواد ته را نه شي، نو دا ستونزې به څوک له منځه وړي، په خپله خو له منځه نه ځي، تر څو چې موږ لاس يو نه کړو او يوه خوله و نه اوسو، هېواد ته په صداقت کار و نه کړو، دا ستونزې به همداسې روانې وي او ورځ تر ورځ به ډېرېږي.

ډاکټر صيب که د ژوند ډېره ښه خاطره زموږ لوستونکيو ته ووایاست!

خاطرې خو به ډېرې وي، خو لومړی به هغه ډېره بده خاطره درته ووايم: نو زما بده خاطره دا ده چې کله د غويي د ۷ کودتا وشوه او بيا مو ګران هېواد ته روسان راغلل. نو دا زما د ژوند تر ټولو بده خاطره ده.

ښې خاطرې خو به چې زه يې دومره ښې نه ګڼم، خو راتلونکې ښه خاطره به مې دا وي چې واورم په افغانستان کې کراري شوه، جنګ پای ته ورسېد، يو بشپړ مترقي او ديموکراسي غوښتونکي دولت جوړ شو او ټول افغانان خپل هېواد ته راستانه شول.

د هېواد د يوه صادق خدمتګار او تجربه لرونکي مشر په توګه زموږ په جنګ کې را لوی شوي ځوان کول (نسل) ته څه پيغام لرئ؟

*پيغام مې دا دی چې پوهه او علم تر لاسه کړئ، هر چېرته چې وي که له ورووه وي، که د جومات له ملا نه وي او که له ګاونډي نه، بس پوهه او علم تر لاسه کړئ. په هره کچه چې يې يې توان او وس لرئ، که څوک يوازې سواد زده کولای شي هغه دې تر لاسه کړي که څوک ښوونځی ويلای شي هغه دې ووايي، که څوک پوهنتون او لوړې زده کړې کولای شي هغه دې تر لاسه کړي. په لنډه توګه ويلای شم هر افغان چې په هره کچه کولای شي تر هغه بريده دې علم حاصل کړي.●

> هغه ښهر جمهوري لره زندان وي
> چې يکسان وي پکښې لال و مردار سنګ
> اسمان څنګه دواړه ژامې د نهنګ دي
> څه به زېست کا څوک په خوله کې د نهنګ
>
> رحمان بابا

زموږ ملي يووالی ته...

تفرقې ملت ډېره بده خاطره لري. ځکه دوی ګوري چې پوځي، سياسي او مذهبي کړی ټول دغې مرګونې ناروغۍ په مخه اخيستي چې لېکوالو ته يې سرايت په رښتيا هم د اندېښنې وړ بلل کېږي، چې هسې نه دغه دوه پلا هم په خپلو کې سره ورک شي.

په هر صورت خبره د دغسې تفرقو په اړه وه، چې په بېلا بېلو بڼو ورته لمن وهل کېږي او زموږ ملي وحدت پر درنه او پخه سته وخت پر وخت ګوزارونه کوي، تر دې چې د افغان او افغانيت د نفي خبره هم خپل ويار او کمال ګڼي چې افغانان نه بلکې افغانستانيان دي چې دغسې تفکر يو وخت په اتفاق سره ملي خيانت او جرم ګڼل کېده.

د پرچميانو د ورونو مليتونو شعار د ملي تفرقې بهير ته مخه پرانيسته او د کشتمند او شمال ائتلاف تګلارې هغه ګرندی کړ. په دې اړه خينې معلوم الحاله کړی په قصدي توګه داسې ګامونه پورته کوي چې هغه په ځرګنده د افغانستان او افغانانو د ملي يووالي پر ضد د بهرنيو توطيو او سازشونو د پلي کولو نماينده ګي کوي، خو خينې نور بنايي د مادي ګټو او انې مصلحتونو له مخې دې ته ورته ګام پورته کړي وي چې بنايي خبرې پرې وشي. په دې اړه چې کومه خبره زما مخې ته راغلې هغه د افغاني عربو په اړه د خپرونو، غونډو او حرکتونو خبره ده، څو کاله دمخه په ننګرهار کې د اجتماع اعراب افغانستان په نوم يو حرکت رامنځ ته شو. غونډې او خپرونې يې وکړې او د هغه وخت چارواکو د خپلو ګټو له مخې دهغې ملاتړ او هر کلی وکړ. وروسته په دې اړه خانګړې هڅې، ليکنې او څېړنې رامنځ ته شوې چې د افغانستان د عربو د جلا تشکيل او تشکل بڼه تر ځرګند پړي.

د حيرانتيا خبره ده چې د يو نيم زر کلونو په تېرېدو په دغه جغرافيايي محدوده کې هغوی افغانان نه شول، په ۵۲ کلونو کې د پاکستان مېشت قومونه پاکستانيان شول، خو زموږ لا د زرګونو کلونو په تېرېدو خانونه افغانان نه شي ګڼلای. اخر هغه کومه ارتيا او ضرورت و، چې يو نيم زر کاله وروسته د افغانستان د عربو د پېژندنې او تشکل په اړه رامنځ ته شو؟

په افغانستان کې چې څوك اوسېږي هغه بل هېڅوك نه دی افغان دی او همدغه روح د دغه ملت د پاينېت او عزت د راز او رمز تکی دی.

دا ځنګه شونې ده چې د زرګونو کلونو په تېرېدو د ټولو کلتوري توکيود خپلولو او مېشتېدنې تر ځنګ خانونه له هغه ملت نه بېل وګڼي چې دژوند ، روح اوهستی بنيادي ګڼلی شي.

که ترکمن له ترکيې سره خپله شجره وباسي، لکه پر ۱۳۶۱ل کال چې ترکيې پنځه سوه کورنۍ په همدې بنياد ترکيې ته وغوښتې. دغسې که له تاجکستان، ازبکستان او نورو سره د هېواد مېشت قومونه ګوتې خوږې کړي، افغان ملت خپله د قومي تفرقې واټ ته ګام اخيستی چې پر خپل خای د ملي يووالي په مخ کې ګواښ ګرځېدلی شي.

متحده ايالتونه د نړۍ له بېلا بېلو قومونو جوړ هېواد دی، خو اوسېدونکي يې له يوې مخې خانونه امريکايي بولي، سره له دې چې دامريکې تاريخ د زرګونو نه بلکې د سوونو په کچه دی.

که خدای مه کړه، زموږ ملت په اصطلاح د بېلا بېلو مليتونو!! مذهبونو سياستونو او خاني ګټو له مخې ووېشل شي. نو د بېل يې کړه ايل يې کړه زړې حربې ته به مو خپله لاسټې اچولې وي چې له دغه مظلوم او ځګړه ځپلي ملت سره د دوستۍ په جامه کې له پټې دښمنۍ پرته بل څه نه شي ګڼل کېدای

بودا او ...

مهاجرو کمشنرۍ بوډجه لګول شوې ده. ځکه خو د مولانا صاحب هم د پلاژو جوړولو او مانيو ارمان تر سره شو او له جماعت اسلامي سره يې سيالي پوره شوه.

د پښتونخوا يوه محترم شخصيت يو وخت ماته ويل پخوا دلته د برېښنا او ګمرك ادا، و په رشوت خوړلو کې ډېر نوم ګټلی و، هرچا دا کوښښ کاوه، رشوتونه يې وړکول چې د بدنامۍ دغه داغ د ده پر تندي هم ولګېږي، خو افغان کمشنرۍ د دې ټولو مخ سپين کړ اوس هلته په پاکو همدغسې بولی لګېږي...

را به شو، بېرته د بودا مجسمې قاچاق ته، په خبرونو کې راغلي چې مجسمه مولانا صاحب او جنرال بابر په خپلو خانګړو موټرو کې ترپاکستانه سيي سلامت لېږدولې اوسملاسي يې لس مليونه ډالر پرې نغد کړي دي. قاچاقبرانو تر اوسه د دغې خبرې سپيناوی نه دی کړی. پته خوله هسې هم رضا ګڼل کېږي.

بنايي ډېر دا ووايي چې افغانستان خو هسې هم وران ويجاړ دی، څه يې پاتې دي چې تاسې د بودا مجسمې غم اخيستی پاست. يتيم هسې هم په ژړا پوخ دی

خبره دا ده چې موږ همېش د زهرو پتاسو وژلي يو، موږ ته هر زهر د درملو په پېچکاريو کې لګېدلي . پر موږ هر ګوزار له شا نه شوی، موږ هر خل د سولې په پرده کې ځپل شوي يو، هر تېری د دوستۍ په جامه کې رابانډې شوی، تر دې چې د بودا مجسمه هم د سولې په نامه او پرده کې رانه قاچاق کړای شوه.

په دغه قاچاق کې د يوه پخواني جهادي ګوند او قوماندان تومونه هم اخيستل شوي، چې تر اوسه پرې هغوی هم خوله پټه نيولې ده، چې پر خپل خای د اقرار مانا لري.

پر موږ چې هره کانه شوي، هر تبر مو چې جوړې غوڅې کړې لاسټې مو له خپله خانه و. خپلو هم وخپلو او پرديو هم. موږ ته خپلو او پرديو دواړو لاس يو کړی، تن خپل وي سا سترګې بدلې کړي، پردی شي. پردي ته لاس اوږد کړي، لکه کارمل په روسي ټانکونو سپور د يو نيم لك پوځيانو ورا جوړه کړه زموږ دوست و دښمن معلوم نه شو، يوه ورځ دوست وي، خوږ وي بله ورځ دښمن شي

بيا نو نه د بابا په توره درېغه کوي، نه د ملالۍ په لوپټه، نه د نيکه پر شمله صرفه کوي او نه هم د وطن په غيرت او عظمت، د اسمعيل بون په وينا:

د دې ګلاب ګلاب وطن حسن مو
څه هم پرديو څه هم خپلو وخوړ ◆

پښتو ژبه یوه ملي او فرهنګي اړتیا...

۲- دغه نظریه د لومړي ځل لپاره د کشمیر د ډېر پخواني تاریخ راج ترنګیني چې په نظم کښل شوی انګریزي ژباړونکي پنډت رنجیت سیتارام چې د جواهر لال اوښي هم کېده، د "راج ترنګیني" په تعلیقاتو کې وکښله. په افغاني لیکنو کې د لومړي ځل لپاره د استاد رشاد او په را وروسته کې د ژلمي هیوادمل "په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه" نومي اثر کې تکرار شوه. د نوموړي لیکوال پورتنۍ نظریه تر اوسه هم په خپل باور او ارزښت سره پاتې ده، ځکه هغه مهال چې ده دا نظریه کښلې وه په هغه وخت کې د پالي ژبې "قاموس"، "د پالي ژبې د خاصو نومونو قاموس" او نور اثار لا نه وو خپاره شوي. د نوموړي ژبې او پښتو پرتله په خپله دا څرګندوي چې په نوموړې ژبه کې د پښتو ژبې او ساکایي تاریخ او خلکو یوه بشپړه زېرمه خوندي ده.

3- S.B Upadhyaya, Feeders of Indian Culture, New Delhi, 1989, P.(V).

د پورتني اثر لیکوال د هند د ټولنیزو او کلتوري څېړنو په برخه کې په تېره بیا د لرغوني فرهنګ او فرهنګي تاریخ څېړنې په برخه کې د پاملرنې وړ لیکنې کړې چې په علمي لحاظ یې د ده نوم اوچت کړی دی. "بي اس اپادهیایا" د هندي دایرة المعارف سمونکی او کره کوونکی هم و. په بنارس پوهنتون او د هند په یو شمېر نورو کالجونو کې یې د استاد په توګه هم دنده تر سره کړې ده. د ده له مهمو اثارو څخه "په ریګویدا کې د ښځو ونډه" او "د کالیداس په لیکنو کې هندوستان" دي. د عمر په وروستیو کې په مورسش کې هند سفیر و چې هلته مړ شوی هم دی. پورتنی اثر یې د تېرو شلو کلونو په اوږدو کې تر اوسه دوه ځلي چاپ شوی دی.

۴- اکاډیمسن عبدالشکور رشاد، د پاتي ني ابتت ادهاني او په هغه کې پښتو کلمې، پښتو څېړنې، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۵۶ کال.

5- S.Abid Huasin, The National Culture of India, New Delhi, 1998, P.27.

6- M.K Gandhi, An Autobiography or the story of my experiments with trwth Ahmed abad, 1995.P.16.

د واده انتخاب...

مور چې هم داسې سړي ته اړتیا لرله، نو په سبا مو شلې په موټر کې سپره او ملنګ ته مو ورسوله. ملنګ خو دم دعا ورته وکړه، چې د جوړېدو امکان یې کم دی، خو بیا هم خدای ته امید شته. دا چې ته ډېر لمونځ ګوزاره او عابده یې، نو تا ته به د دم و دعا اجازه وکړم، ته هم ناروغان او لېونیان دموه.

له ملنګ نه چې کور ته راستانه شوو، نو شلې د خلکو په دمولو پیل وکړ، په لنډو ورځو کې ډېره مشهوره شوه، ډېر ناروغان او لېونیان ورته راتلل او ځینې به متاثر او تسلي شول. نو څه موده به یې وکړ اوس یې داسې احترام کېږي چې زما د پلار د استاذانو به هم نه وو شوی او که نه خدای مې غاړه بندي نه کړي خپل لمونځ به یې هم نه وو زده.

سوټه بوټه د کوټې په کونج کې ناسته وي او خپلې اوږدې تسبیح اړوي او د کور ټول مصرف خو لا څه کوي چې د پیسو سپما ته مو هم بدې وهلې دي او کېدای شي چې زما خسر به اوس په خپله لور د ډېر پښېمانه وي او ښه خبره دا ده چې د بل واده لګښت به ان شاء الله په یو کال کې پوره شي.

برکتي ډوډۍ

دا یې چاره ګانې ټولې ناروغاني دي، او ما ته بیا د ښوونځي د یو زده کوونکي خبره رایاده شوه چې په تفریح یې په ښوونځي کې هم په دغه برکتي ډوډۍ خبرې کړې وې چې څو ورځې مخکې مې خورېې راته کیسه وکړه. خورېې مې ویل چې یو زده کوونکی په ښوونځي کې وویل دا څرنګه بي بي فاطمه ده، چې یوازې ښځو ته یې د لیدو وېلې دي، مور ته هم دغه ډوډۍ وښایئ: مور یې هم لمسیان یو، خو مېندو او خویندو له نارینه وو نه ډېره پټه ساتله او نارینه هم خدای خبر چې ډوی وېرېدل چې ریښتیا رانده نه شي او که یه دوی ویل چې پرېږده که ریښتیا شي نو زموږ خو پکې ګټه ده په نورو کیسو کې خو ښځو ته د وېښتنه هومره واک هم نه ورکوي، خو دلته یې واک ور کړی دی، د دوی نارینه وو په مخ کې به یې ورته ښوري او چاپونه تیارول خو یوازې ډوډۍ یې نه ورښودله او وروسته چې سیندونو ته ورسېدل، نو ټولو هلکانو او نارینه وو لیدلې.

خبره خو داسې وه چې په ښار کې یوه ټوکمار خوان دغه بحري سپنج (سیند سپنج) یوې مېرمنې ته ورکړی.

کور کالي ډوډۍ

پرې غوسه شي او ورته وایې چې په مور دې و نه لیدل چې اوس ته هم ناړې وهې. "کور - کالي - ډوډۍ" خو د عنقا مرغه دي.

خو که د هغوی له خبرو تېر شو او په ریښتیا قضاوت وکړو، نو کور او کالي خو یې لاخیر، له دغې ډوډۍ نه که د عنقا مرغه نه وي جوړ، نو د ریدي ګل خو خامخا ترې جوړ شوی او د ریدي ګل عمر خو تاسې ته معلوم دی چې تر نیمې غرمې وي.

داخل ښایې کمونستان د "کور، کالي، ډوډۍ" غلطي داسې سمه کړي چې "ډوډۍ، کالي، کور" خو دوی چې همدغه شعار ورك کړي، بیا به یې څنګه په خوله راشي؟! او اوس خو د شعار او عمل تر منځ واټن هر چا ته ښه سیې ور معلوم او ښایي تر دې وروسته د خېټې مړولو غم هېڅوك دې ته وزګار نه کړي چې بیا دې شعار ورکړي او د لاپو او دروغو درمندونه دې یاد کړي، ځکه اوس خلك "شعار" ته "باټې" وایي.

وردګ - نرخ
۳-۳-۱۳۷۸

د خوشال خان په دستارنامه کې...

هغوی(ص) وویل: ما همدغه پوښتنه له جبرائیل(ع) څخه وکړې وه، هغه د الله(ج) له خوا وویل: دا زما د دوستانو او اولیاوو او خانګړو دوستانو (اصفیاوو) په منځ کې یو پټ راز دی چې د دوی په زړونو کې یې ږدم، چې نه پرې مـا (خدای[ج]) نه نږدې ملائیک خبرېږي او نه لېږل شوی پیغمبر.

عسقلاني ویلي دي چې دا حدیث موضوع (جوړ شوی) دی، ځکه چې حسن د حذیفه سره هېڅکله لیدل نه دي کړي.

الفقر فخري (بي وزلي زما ویار دی). ۸۱ مخ

خوشال خان خټک دغه عبارت حدیث ګڼلی او داسې تعبیر یې ورڅخه کړی دی: هغه مراد بل دی، یعني تعلق دې په دنیا نه وي دا فقر اختیاري دی، که پر مال لري چې اختیار یې داسې وي، هغه فقیر دی.

ملا علي قاري د موضوعات کبیر په (۵۰) مخ کې د "الفقر فخري و به افتخر" [غریبي مې ویاړ دی او پرې ویاړم] عبارت سره داسې لیکلي دي:

امام عسقلاني ویلي دي چې دا حدیث باطل اوموضوع دی.

ابن تیمیه ویلي دي چې دا حدیث سراسر درواغ دی.

من عرف نفسه فقد عرف ربه

(چا چې ځان وپېژاند هغه خپل څښتن وپېژاند (۹۰مخ)

خوشال خان خټک د دې عبارت په اړوند هم چوپه خوله پاتې دی، خو د خپلې وینا د پخلي لپاره یې کارولی دی. ملا علي قاري په موضوعات کبیر ۷۲ مخ کې لیکلي دي: ابن تیمیه وایي دا حدیث موضوع دی.

سمعاني وایي: موضوع نه دی پېژندل شوی، بلکې دا د یحیی بن معاذ رازي وینا ده.

امام نووي وایي: د دې حدیث متن له رسول الله (ص) څخه ثبوت نه لري، که څه هم مانا یې ثابته ده.

د دې مانا له دې ایت شریف څخه هم څرګند بدای شي چې "من یرغب عن ملة ابراهیم الامن سفه نفسه".

دابراهیم له دین څخه مخ نه ګرځوي، مګر هغه څوک چې ځان یې کم عقل کړی وي. خو پورتنی عبارت بیهقي تاریخ هم د حدیث په نامه ذکر کړی او داسې یې لیکلي دي:

پیغمبر ما علیه السلام گفته است: من عرف نفسه فقد عرفه ربه(۳)

انا ولدت فی زمنه الملك العادل

زه د عادل پاچا په وخت کې زېږېدلی یم. ۱۰۸ مخ.

خوشال خان خټک دا عبارت حدیث ګڼلی، ځکه دی وایي: که کافر وي څوک یې وستایي چې عال دی، بیم د کفر نه شته، چې پیغمبر په نوشیروان مباهات کړی و.

د موضوعات کبیر په ۹۷ مخ کې د (ولدت فی زمن الملك العادل) عبارت سره داسې لیکلي دي:

سخاوي وایي: د دې حدیث اصل نه شته.

زرکشي وایي: دا حدیث درواغ او باطل دی.

سیوطي وایي چې بیهقي په شعب الایمان کې ویلي دي چې:

زموږ شیخ استاد حافظ ابو عبدالله د ناپوهانو دا خبره باطله ګڼلې ده، چې ګوندې پیغمبر(ص) ویلي دي چې زه د عادل پاچا یعني نوشیروان په زمان کې زېږېدلی یم.

یادونه: که څه هم دا دومره ژوره څېړنه نه ده خو د ګرانو محصلینو لپاره به یې ګټې هم نه وي.

اخځونه:

۱- مشکوه، کتاب الرقاق، دریم څپرکی.

۲- محمد اعزاز علي "نفحه العرب" الباب الاول فی النثر، قدیمي کتب خانه، ارام باغ کراچي.

۳- تاریخ بیهقي، شپږ ټوک، ۱۱۸مخ، ۴۲۱ه. ●

عالمګیر ادب...

موږ ته د یوه عالمګیر ادب اړتیا ده، خو دا ضروري نه ده چې د دې لاره دې د یوې عالمګیرې ژبې اړتیا وي، ژوند چې له کومو مصائبو ډک دی او قانون چې کومې پابندۍ پر موږ عاید کړي دي، د هغه څخه نفرت به د هر انسان په زړه کې یوه نه یوه ورځ پیدا شي. د ژوند د اصولو او بلند نظریو د حصول شوق په هر ترقي پسند انسان کې پیدا کېږي. په دې سبب عالمګیر ادب هغه دی چې دغه ډول تولو جذباتو ته په خپل ځان کې ځای ورکړي او د دنیا ټولو خلکو ته خپل نظر دوربین کړي.

د دنیا که برخه د خلکو داسې ده چې پر هغه دي لوږه ورسې او دوی دې خاموش وي؟ کوم غریب دی چې د سرمایه دار له ظلم څخه به پرېشان نه شي؟ کوم انسان دی چې د سماج او قانون د ناحقه پابندیو څخه به چیغې و نه وهي؟ کوم غلام دی چې د زنځیرانو یار به محسوس نه کړي او د هغه د شکولو کوښښ به و نه کړي؟ دا هغه مشترك جذبات دي چې تر یوه ملك محدود نه وي. بلکې په هر ځای او هر ملك کې دي. په کوم ځای کې چې داسې فضا پیدا شي، نو د ادیبانو دا فرض دی چې دوی هم د دغه موضوعاتو انتخاب وکړي. که ادیبان داسې و نه کړي، نو ګویا دوی هغه خدمت سرته نه رسوي، چې د دوی فرض ګڼل کېږي.

زموږ ذاتي او ملکي اختلافات چې هر څومره وي، زموږ په طرز معاشرت کې یو له بله توپیر چې هر څو وي او زموږ د مذهبي اختلافاتو شیلې چې څو پراخې وي د ادب فرض دا دی چې د دې ټولو څخه بلند وي. او د ټولو انسانانو په ژوند کې یو مرکزي او بنیادي مناسبت پیدا

کړي، کـه یـوه ورخ ادبِ دومره وسعت پیدا کړي، همغه ورخ بـه د انسـانیت د بـري ورځ وي. دغـه ادب زمـوږ پـه خیال او شعور کې ګهرایي پیدا کوي. زموږ احساسات د انساني همدردۍ په غالب (سانچه) کې اچوي او زموږ زړونو کې دغه جذبه پیدا کوي چې ټوله دنیا د ټولو انسانانو ده، دا د ټولو انسانانو د ویښو او غوښې څخه جوړه شوې ده.

په هر هېواد کې د مذهبي ریاکارۍ کیفیت یو ډول وي، د ژوند هغه بې رحمه اختلافات چې په افرادو، طبقاتو یا په قومونو کې د دښمنۍ عداوت او نفرت تخم کري د ادب په نظر دا د یوې زړې غلطۍ بنیاد دی. د انسانانو شریفې ارادې دغه راز غلطۍ په ډېره اسانۍ ختمولای شي●

خوب پوهنه...

اوبه:

ټول به پوهېږو چې د هر څه ژوند پر اوبه دی، خدایﷻ فرمايي [و من الماء کل شیی حی]

د سیرین زوی (ابن سیرین) وایي: کـه چېرې څوك پـه خوب کې ووینـي چې پاکې او خوږې اوبه څښي، نو مانا یې دا ده چې عمر به یې اوږد وي او ژوند بـه یې ښه شـي. کـه د تروو او تروشو اوبو څښل په خوب ووینې نو مانا یې پر خلاف ده. کـه چېرې څوك خوب ووینـي چې د راده لـه خوږو اوبـو نـه یې څښي نو د همدغو اوبو په کچه به له پاچـا نـه د نعمت مال تر لاسه کړي. کـه چېرې خوب ووینـي چې د ټول راده اوبه یې وڅښلې نو مانا یې دا ده چې د ټولې نړۍ پاچاهي بـه تر لاسه کړي او ځینې وایي چې څومره اوبه یې څښلې دي، د هغو په اندازه بـه شان و شوکت او نعمتونه تر لاسه کړي. کـه چېرې خوب ووینـي چې ګرمې اوبـه څښي نـو ناروغي او کړاو بـه وزغمي. که په خوب ووینـي چې د یوه لوښي ټولې ګرمې اوبه پرې توی شي، داسې چې مخکې یې په خوا او خاطر کې هم نـه ګرځي نـو ناروغ بـه شـي او یـا بـه ډېر سخت غـم ورتـه ورسېږي. که خوب ووینـي چې پـه اوبو کې ولوېږي مانا دا چې پـه کړاو او غم بـه اخته شي. کـه څوك خوب ووینـي چې ګرانې اوبه یې خلکو تـه ورکړې نو دا دلیل دی چې پـه دنیا او اخرت کې به یې خلکو تـه خیر ورسېږي او خراب ځای بـه اباد کړي. که په خوب ووینـي چې یو داسې کور تـه ننوزي چې هلتـه اوبه تلې (تویې) شوې وي، نـو مانا دا ده چې پرېشانه بـه شـي. کـه چېرې خوب ووینـي چې د سپي پـه کندولي کې اوبه وڅښي نو دلیل دی چې ژوند بـه پـه عیش او عشرت کې تېر کړي، خـو یو داسې کار بـه وکـړي چې فتنـه او بد بـه تېرې ووینـي او راټول کړی مال بـه لږ لږ خلکو تـه ورکړي او پـه خیرات سره بـه یې مصرف کړي.

جابر مغربي وایـي: کـه پـه یـوه مـهال ډېرې اوبـه پـه خـوب ووینـي، دلیل دی چې پر دغه کال بـه د نعمتونو پراخي وي او کـه ډېرې اوبـه یې ولیدې چې پر ځمکـه ننوزي مانا دا ده چې عـام وګړي بـه پـر دغـه کـال ارام او سلامت وي. کـه پـه خـوب ووینـي چې اوبـه د خلکو تر سرونو اوړي نو مانا دا ده چې پر دغه کال بـه نعمتونه ډېر وي. کـه چېرې پـه خـوب ووینـي چې پـه کاله کې یې ډنډې اوبـه ولاړې دي نو مانا یې د دې پر خلاف ده.

خلکو تـه اوبـه ورکول پـه خوب کې دا مانا لـري چې پر دین او دیانت او ښو چارو بـه بوخت شي. کـه چېرې خوب ووینـي چې پـه پاکو اوبو لـه کـالیو سره ننوزي مانا دا ده چې دیني ګروهې بـه یې پیاوړې شي او پـه خپلو چارو کې بـه استقامت وښیي. کـه چېرې خوب ووینـي چې د خلکو بـاغونو تـه اوبـه ورکوي، نو واده بـه وکړي. کـه چېرې پـه خوب ووینـي چې د چا لـه لاسـه پرې پاکې اوبـه تلې شي نو لـه هغـه سړي نـه بـه څه ګټه ورتـه ورسېږي او کـه چېرې یې د چټلو اوبو تلېدل (تویېدل) ولیدل مانا یې د دې پر عکس ده◆

افغانان د چوارېانو...

پسې راغلی یم، دلتـه یـوازې اوسـم. د ورځې مـزدورې کـوم او د شپې همدلتـه د سړك پر غـاړه ویده کېږم او ګنلـې روپۍ مې دلتـه د یوه کلیوال خپلوان دی لـه هغـه سره ږدم. لا مې دومره څه نـه دي موندلـي چې بېرتـه کـور تـه ستون شـم. زه د خدای شکر کاږم چې بیا هم دا مزدوري راتـه پیدا کېږي.

عبدالله زیاته کړه:

تر اتم ټولګي مې پـه کلي کې ښوونځي لوستـی، خو د اقتصاد درنې څپېړې تر دې ځایه را ورسولم.

زه د لوی خدای پـه دربار کې شپه او ورځ زارۍ کـوم چې پـه ګران هېواد کې مو ارامي راشي.

د عبـد الله خبـرې مـې چې واورېدې، نـو پـه زړه کـې راوګرځېدل چې ګڼ مـزدوران بـه همدلتـه لـه تاوڼ سـره د لـوی سـړك پـر غـاړه ویـدېږي، راځکـه د شپې ورشـه، لـه دوی هـم وپوښتـه چې څه حال یې دی؟

د ډېرو کورونـه پـه هـېواد کـې وي او یـوازې پـه مـزدورۍ پسې راغلي دي. د سړك پر غاړه شپه نه بلکې شپې تېرول لـه ستونزو او کړاوونـو تشې نـه وي.

د شپې لس. لس نیمې بجې ب وې چې د تاون پـه تمـځي کې لـه موټره کښته شوم، نو د دوه ارخیز سړك پـه منځ کې مې ګڼ شـمېر خوانـان پر ځادرونـو پراتـه ولیـدل چې ځینـې یې پـه خواږه خـوب ویـده وو او ځینـې یې لا د خـوب مېلمانـه شـوي نـه وو.

هېڅ زړه مې و نـه شـو کړای چې د خـوب او ارام مزاحم یې شم. همداسې چوپه خوله تېرې روان شو●

ا. ویس وردګ

د په زړه پورې معلومات

الازهر پوهنتون:

د نړۍ تر ټولو پخوانی مذهبي پوهنتون الازهر دی، چې د ۹۷۰م کالونو پر شاوخوا په قاهره کې جوړ شوی دی. دا پوهنتون چې د الازهر جومات (پر هغه مهال جوهر جوړ کړی و) تر څنګ موقعیت لري، له هغې وروسته چې خپل باور یې نړیوالو ته پوخ کړ، پر ۱۸۷۲م کال یې ډیپلوم، BAs، ماسټري، ډاکټري... ډګرۍ ورکول هم پیل کړل. پر ۱۹۳۰م کال د دغه پوهنتون پوهنځي او استادان په دریو برخو ووېشل شول: ۱- دنیات، ۲- حقوق او ۳- عربي. بیا وروسته پر ۱۹۶۱م کال نوی قانون (حقوق)، ساینس، طب، انجنیري او زراعت پوهنځي یې جوړ کړل.

الازهر خکه د پاملرنې وړ دی چې په نړۍ کې لومړی پوهنتون دی، چې د زده کوونکي لپاره یې د لیلیې سیستم جوړ کړ.

د دې پوهنتون تګلار دا ده چې بنایي د الازهر زده کوونکي مسلمان وي او د هر مسلمان پر غوښتنلیک له نژادي، ژبني، ملکي او.. تعصب پرته غور وکړي. دغه پوهنتون ته له ټولې نړۍ څخه زده کوونکي ځي، لکه، افغانستان، عراق، اندونیزیا، چین، جاپان، فرانسه، امریکا او.... همدا اوس په دغه پوهنتون کې ۹۰۰۰۰ زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي.

شطرنج:

د شطرنج نړیوال اتل ګري کسپاروف د نړیوالې سیالۍ تر ګټلو وروسته له (Deep Blue) IBM کمپیوټر سره د سیالي په حال کې دی، چې پایله یې د ده په ګټه وه. کسپاروف IMB کمپیوټر ته په نیویارک کې د ۲-۱ نومرو سره ماتې ورکړه.

ګري کسپاروف له بلوډیپ کمپیوټر سره د سیالۍ پر مهال

تر اوسه د دې لوبې اوولس اتلان تېر شوي دي، چې ټول د روسیې اوسېدونکي دي او کسپاروف له دغو اتلانو نه دولسم تل دی.

تر ټولو ګران بیه سکه

د سپینو زرو یوه ډالري سکه چې پر ۱۸۰۴ زېږدي کال هک شوې. په نړۍ کې دغه ډول سکې شپږ نمونې دي. دغه سکې پر ۱۹۰۰ زېږدي کال پر (۲۸۰۰۰) ډالرو خرڅه شوې.

تر لرغونی (پخوانی) چاپ شوی کتاب

لومړی لرغونی چاپ شوی کتاب طومار دی، چې ۴،۸۷ متره اوږدوالی لري. په دغه کتاب کې بودا ایې ښبې او لارښوونې کښل شوې دي، تر دې کتاب وروسته د بودا د مراقبې اداب دي چې پر ۹۴۹ زېږدي کال چاپ شوی. د یادونې وړ ده چې دا دواړه کتابونه د انګلستان په لرغونتون کې خوندي دي.

راډیو:

افغانستان ته پر ۱۳۰۵ ل کال د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهي په پېر کې راډیو راوړل شوه او پر ۱۳۰۶ ل کال یې پر خپلو خپرونو پیل وکړل، چې مدیر یې محمد حسن نومېده.

تلویزیون:

په افغانستان کې د ۱۳۵۶ ل کال په لیندۍ کې د اسمایي غره له پاسه په لوړو څوکه ودرول شو او د همدې کال د کب پر ۲۵مه نېټه یې عملا ازمېښتي خپرونې پیل کړې او د کابل ښار په مهمو پارکونو او د ګڼې ګوڼې په ځایونو کې یې د تلویزیون پایې کېښودې. دولت پرېکړه کړې وه چې د تلویزیون رسمي خپرونې به د ۱۳۵۷ ل کال د چنګاښ پر ۲۶مه د جمهوریت د کلیزې په ورځ د جمهور رئیس په وینا پرانیستل کېږي.

سینما:

په لومړي ځل افغانستان ته سینما پر ۱۹۰۴ کال راوړل شوه.●

****

د محمد هاشم میوندوال د شهادت ۳۶مه کلیزه

د ګوربت اداره غواړي د هېواد د ملي شخصیتونو او ملي لاربښوونکیو د یاد ساتلو او نوي نسل ته یې د ښه وربېژندلو په اړه د هغو د ژوکړې او یا د مړینې د ورځې په ویاړ ځانګړي پاڼې خپرې کړي، په دې ګنه کې مو د شهیدمیوندوال د شهادت د ۲٦مې کلیزې په ویاړ لنډ یادښت خپور کړ، هیله ده، ګران لوستونکي د ملي شخصیتونو د یاد ساتلو په اړه موږ ته خپلې لیکنې او د هغوی تصویرونه را ولېږي. اداره.

محمد هاشم میوندوال د مولوي محمد حکیم زوی پر ۱۳۰۰ل کال د مقر ښار په یوه متوسط الحاله کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستلې او پر ۱۳۰۹ل کال په حبیبیه ښوونځي کې شامل شو، پر ۱۳۲۱ل کال یې په حبیبیې ښوونځي کې زده کړې پای ته ورسولې.

میوندوال د ښوونځي تکړه زده کوونکی و او په ښوونځي کې یې د زده کړې تر څنګ مقالې هم لیکلې چې د هغه مهال په ورځپاڼو کې به چاپېدلې. په حبیبیې ښوونځي کې د زده کړې تر پای ته رسولو وروسته له درنګ پرته په هرات کې د اتفاق اسلام ورځپاڼې مدیر وټاکل شو، پر ۱۳۲۸ ل کال د مطبوعاتو مستقل ریاست د مرستیال په توګه وټاکل شو. پر ۱۳۲۹ل کال د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه مطبوعاتي مشاور و او پر ۱۳۳۰ ل کال د مطبوعاتو مستقل رئیس شو، پر ۱۳۳۲ل کال په امریکا کې د افغاني سفارت مطبوعاتي مستشار و. پر۱۳۳۳ل کال بیا د مطبوعاتو د مستقل ریاست چارې ور پر غاړه شوې او پر ۱۳۳۸ل کال په واشنګټن کې د افغانستان سفیر، پر ۱۳۴۲ل کال په کراچۍ کې سفیر شو او پر ۱۳۴۴ ل کال د اطلاعاتو او کلتور وزیر وټاکل شو او پر همدغه کال د صدراعظم په توګه د کابینې جوړولو لپاره وټاکل شو، پر ۱۳۴٦ل کال یې له صدراعظمۍ نه استعفی وکړه او د مترقي دیموکرات ګوند پر چارو بوخت شو. چې بنسټ یې مخکې په خپله شهید میوندوال ایښی و.

د شهید میوندوال د ګوند اسلام، مشروطیت، ملت، دیموکراسي او ټولنیز عدالت یې بنسټیزې موخې او اصول وو. د شهید میوندوال اصلي موخه په افغانستان کې د روسانو د نفوذ پر ضد مبارزه او مقاومت و، غوښتل یې چې یو روښانه او پرمختللی افغانستان جوړ کړي.

شهید مینوال د قرآن اعظیم الشان حافظ و او د خپل ژوند په اوږدو کې یې کوښښ وکړ چې قرآن کریم په عامیانه ژبه ولس ته وژباړي او په یوه رساله کې چې د 'وحدانیت خداوند' تر سرلیک لاندې یې د قرآن کریم د وروستی سپارې د لنډو سورتونو عام فهمه ژباړه او تفسیر کښلی و، چې په پېښور کې د میوندوال د شهادت د لسمې کالیزې په ویاړ د مترقي دیموکرات ګوند له خوا د دویم ځل لپاره په پېښور کې چاپ شو.

د شهید میندوال له نظره تیایي دیموکراسي موخه هغه وي چې سیاسي دیموکراسي ورو ورو خپل ځای د ملت دیموکراسي او حقیقي دیموکراسي ته پرېږدي او دا مترقي یموکراسي ده.

شهید میدوال پر وطن مین سر ایستلی شخصیت و، په فطرت کې یې له هېواد او هېوادوالو سره مینه اخښل شوې وه، له ملي درد ډکې لیکنې او ویناوې یې کړې دي.

شهید میوندوال د ۱۳۵۲ ل کال د وږي پر ۲۹مه نېټه د نبي عظیمي چې د پولیسو مشر پر لاس زندان ته واچول شو او تر ۱۱ ورځو زندانیتوب وروسته (د همدغه کال د تلې پر ۹مه)، د همده له خوا پر شهادت ورسول شو.

اخځلیک:

۱- مجاهد ولس، ۷ ګڼه پرله پسې ۲۲۹مه ګڼه، ۱۳۷۷.

۲- مساوات، دریم کال اتمه ګڼه، ۱۳۷۸ل کال.

/انیسه حسن خیل

کور او پخلنځی

د هګیو حلوا

هګۍ	۶ دانې
شیدې	۱ پیاله
بوره	د خپلې خوښې په اندازه
غوړي	د خپلې خوښې په اندازه

هګۍ په یوه لوښي کې ماتې کړئ. بیا یې ژېړ او سپین ښه سره ګډ کړئ. په یوه دیګچې کې غوړي سره کړي. بوره شیدې او هګۍ ور واچوئ او په اور یې باندې کړئ. تر څو اوبه یې وچې شي. نو بیا یې را کوزې کړئ او پر سر یې وچه مېوه پسته یا چارمغز هم اچولای شئ، نور نو خوړلو ته چمتو ده.

د ګازرو مربا

ګازر ښه ومینځئ او بیا یې پر چاکو پاك کړئ. په منځ یې نیم کړئ، بیا یې په اوږدو ټوټې کړئ، لیمو او بوره پرې واچوئ او ویې خوټوئ. تر هغه چې اوبه یې ښې ټینګې شي. یوه شپه پرې تېره شي، سبا ته یې بیا وخوټوئ، چې په ګازرو کې د بورې خوند ښه ننوزي. وروسته تر هغه چې ساړه (یخ) شي په مرتبان کې یې واچوئ او که غواړئ تر ډېرې مودې پورې یې وساتئ، نو د مرتبان سر ښه بند کړئ او د مرتبان د سر پر شاوخوا موم وڅڅوئ، چې هوا ور نه شي او پام چې ګرم یې په مرتبان کې وا نه چوئ، ځکه د خرابېدو وېره لري.

د شیدو سیمیان

دا خوراك اسان او خوندور دی. تاسې ته پکې د ډېرو شیانو اړتیا نه پېښېږي. سیمیانو ته بوره ور واچوئ (چې هر څومره ستاسې خوښېږي) او بیا یې په شیدو کې وخوټوئ، خو دومره مو پام وي چې ډېر یې کلك نه کړئ. ځکه که شیدې وچې کړي، نو بیا پکې د شیدو خوند ورك کېږي. نو چې لږ شیدې یې په سر ولاړې وي (ډېرې نه) له اور نه یې کوز کړئ. په لوښي کې یې واچوئ او په یخچال کې یې کېږدئ، درې څلور ساعته وروسته یې خوړلای شئ.

تای لینډي چکن (چرګ)

د چرګ پتون (لینګي)	:	۶ دانې
ټکېدلې کشنیز	:	۱ کاشوغه
مالګه	:	یوه کاشوغه
هګۍ	:	۲ دانې
ټکېدلې هوږه	:	۱ کاشوغه
د وریشو اوړه	:	۱/۳ پیاله
د چرګ قیمه	:	۱/۲ پیاله
وچه ډبل روټۍ (میده)	:	۱ کاشوغه
غوړي	:	۳ کاشوغې

ګشنیز، هوږه، دوه کاشوغې اوړه، یوه هګۍ، مالګه او د چرګ قیمه ګډ کړئ. بیا یې په یو یو پتون (لینګي) پورې کړئ او په تاو یې پاخه کړئ چې وچ شي. نو یخېدو ته یې پرېږدئ او تر یخېدو وروسته اوړه پرې ودوړئ. یوه هګۍ واخلئ ښه یې ګډه کړئ او یو یو پتون پکې غوټه کړئ. بیا پرې د ډبل روټۍ میده واچوئ. تر هغه وروسته چې په غوړیو کې سره کړئ او د خوږې چټنۍ سره یې وخورئ.

ګرانو آغلیو خویندو له اخلي پخلي سره د کور ډېر نور کارونه هم در پسې غاړه دي او په هغو کې د جامو مینځل له غوروالي (مهمو والي) سره په یو ډېر ګران هم دی. بنایي د دغو یو څو ټکیو یادونه به د جامو د مینځلو پر مهال ګټور وي:

۱- که چېرې مو پر جامو ژاولې (چینګک Chawn gum) ونښلي نو تاسې پر هغه ځای د یخ ټوټه کېږدئ، ژاوله چې یخه شي، نو په اسانۍ او صفايۍ سره هغه له جامو لېرې کېږي.

۲- که چېرې مو په جامو ګریس ولګېږي نو پر هغه ځای د خاورو تیل ولګوئ او ویې وموښئ، نو هغه داغ به پاك شي.

نور بیا

د محمد صديق روهي د فرهنګي ټولنې پيغام

په افغانستان کې د ناوړه سياسي، اجتماعي او فرهنګي حالت د حاکميت تر څنګه له نېکه مرغه له هېواده د باندې د بېلا بېلو سيمو ځوانان را بيدارېږي او د خپل ملي فرهنګ د روزلو لپاره فرهنګي ټولنې جوړوي او د فرهنګ په ساحه کې نورو ځوانانو ته د ګډ کار زمينه مساعدوي.

د فرهنګي کار لپاره د ځوانانو دا ډول روحيه سړئ باوري کوي، چې حتی په ډېرو سختو شرايطو کې هم زموږ ځوانان د خپل ملي هويت او ملي ارزښتونو د خوندي ساتلو په نيامت د خپل ملي فرهنګ روزلو ته ملا تړي. له شرايطو سره مبارزه کوي او خپل هدف ته د رسېدلو لپاره ټول خنډونه له مخې لرې کوي.

د ټولو غير دولتي افغاني فرهنګي ټولنو د کار په لاره کې ستر خنډ د مالي امکاناتو لږوالی او يا نشتوالی دی، که چېرې زموږ شتمن افغانان او هغه افغانان چې په غرب کې ژوند کوي لږ د دغو فرهنګي ټولنو حالت ته هم توجه وکړي. لږ مالي مرسته ورسره وکړي. نو دا ټولنې به تر اوس لا ډېر موثر کارونه سرته ورسوي او افغاني فرهنګ بڼ به تل تاند او خړوب وساتي. موږ پوهېږو چې د ټولو افغاني فرهنګي ټولنو کار کوونکي په داوطلبانه ډول بې له معاشه او بې امتيازو يوازې د فرهنګي مينې له مخې په دغو ټولنو کې کار کوي. د فرهنګي ټولنو فعالين کار بل چېرې کوي، ډوډۍ له بلې لارې پيدا کوي خو خوله په دغو فرهنګي ټولنو کې توي.

که په غرب کې مېشت او يا شتمن افغانان د دغو فرهنګي ټولنو خپرونې، لکه مجلې او کتابونه هم رانيسي دا ټولنې کولای شي تر يوه حده په خپلو پښو ودرېږي.

د محمد صديق روهي فرهنګي ټولنې لارښوده شورى وياړي چې دا دی نن د هېواد د يو بل ګوټ ځوانانو او په فرهنګ مينو افغانانو د يوې بلې فرهنګي ټولنې بنسټ کېښود او د لازياتې خوښۍ خبره خو پکې دا ده چې دا فرهنګي ټولنه د ګوربت په نامه مجله خپروي او د خپل زيار د ډېر وياړمن سوغات په توګه يې افغانانو ته ډالۍ کوي.

د محمد صديق روهي فرهنګي ټولنه د دې نوي فرهنګي ټولنې د جوړېدو او د ګوربت د مجلې د خپرېدو له امله خپلو ټولو هېوادوالو او په تېره هغو ځوانانو ته تبريك وايي چې يې د دې ټولنې د جوړېدو او د دې مجلې د خپرېدو ابتکار کړی دی. د دې فرهنګي ټولنې او د ګوربت د مجلې د لا زياتو بريو په هيله.

د محمد صديق روهي د فرهنګي ټولنې
لارښوده شورى.

د افغان فرهنګي ټولنې پيغام

روان ناورين او د دې تر مخه روسي بربنډ تېري او د هغو نوکرانو زموږ د وياړلي او قهرمان هېواد ډېر څه لوټ او تس نس کړل، پښتو ادب ته يې هم نه خسمانه کېدونکي درانه زيانونه ور واړول او د چا په خوا و خاطر کې هم نه راتله چې ګنې دا زيان به خسمانه شي، خو لله الحمد، زموږ فرهنګيانو ورونو په ځان شپه او ورځ يوه کړه او د خپلې مورنۍ ژبې خدمت ته يې ملا راونغښتې چې دا دی نن د دې خدمت ثمره او مثبته نتيجه زموږ مخې ته پرته ده. فرهنګي او ادبي ټولنې او جرګې جوړېدل ادبي فرهنګي، تاريخ، سياسي، اجماعي کتابونه چاپول، مجلې او رسالې خورول دا ټول د پښتو خدمت دی چې زموږ فرهنګيانو په تشو لاسونو پرته د چا د ډاډ او سرپرستي پيل کړي دي او ډېر ورته ګوته په غاښ ناست دي.

څه مهال وړاندې مې د "ګوربت" خپرونې د چاپ زېرى تر غوږ شو، ډېر خوشحاله شو، زه د مجلې چلوونکيو ته له لويه خدايه ستر اجر غواړم او د کلکې حوصلې او هوډ غوښتنه يې کوم. د دوی او د دوی په څېر د نورو فرهنګيانو ورونو کار او زيار او هلې ځلې دي چې پښتو ادب بېرته خپل مقام تر لاسه کړ، زه د افغان فرهنګي ټولنې په استازيتوب دوی ته د فرهنګي خدمت مبارکي وايم.

په درنښت
جنرال عبدالصمد مومند
د افغان فرهنګی ټولنی مشر

محمد يونس خوښ

سيورى

درته ګورمه حيران شم لکه سيورى
پته خوله درنه روان شم لکه سيورى
حيرانتيا ستار ښايست چې مې لږ واخلي
تت په زړه کې مې پټ ګومان شم لکه سيورى
ايينې غوندې بې رخه بې ريا شم
چې تصوير د خپل جانان شم لکه سيورى
ستا د نوم په لټه وځم له خپل ځانه
لالهانده سرګردان شم لکه سيورى
زما د سړي ستړي ژوند شاعره ياره!
نه په تا پوه نه په ځان شم لکه سيورى.

جلال کوټ، انګور بڼ.

PROPERTY OF ACKU

مننه او کور ودانی

(یاد مې ته کړه ښاد به دې خدای کا)

د "کوربت" د وزرو په غوړېدا او د "کوربت" د لمنې په سینګارولو کې موږ د دغو ښاغلیو څخه ډېره مننه کوو چې په ورین تندي یې زموږ متې پیاوړې کړې، مشورې یې راکړې او لارښوونې یې کړې دي.

● ښاغلي پوهندوی استاد عبدالخالق رشید تر ټولو لومړی په خپلو مشورو او لارښوونو سرلوړي کړو.

● ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل په خپلو لارښوونکیو مشورو او وړاندیزونو ویاړمن کړو، تل به یې یاد ساتو. ښاغلي استادهېوادمل صاحب له خپل شخصي کتابتون څخه په ډېره مینه او لورېینه (۵۰) ټوکه بېلا بېل کتابونه د ټولنې کتابتون ته ډالۍ کړل.

● له ښاغلي شهرت ننګیال مننه کوو، چې په ورین تندي یې په خپلو رغنده لارښوونو د کعبې لار راوښوده.

● د ښاغلي ډاکټر عبد الله وردګ ډېره مننه کوو چې له موږ سره یې د (۱۰۰۰) روپیو مالي مرسته او د نورو ژمنه وکړه.

● د ښاغلي استاد عبدالجلیل وجدي موږ په خپلو لارښوونو اومانیزو مرستو دومره سرلوړي او سورمخي کړو چې تل به یې یاد تاند ساتو.

● د ښاغلي ډاکټر فضل هادي وردګ له لارښوونو، مشورو، وړاندیزونو ډېره مننه کوو چې "کوربت" یې د لوړ الوت پر لور و هڅاوه.

● د ښاغلي محمد عارف وردګ له مینې، لورونې غوره مشورو او ژمنو ډېره مننه کوو، چې پر لومړي ګام یې په ۵۰۰ روپۍ یاد کړو.

● د ښاغلي عبداللطیف وردګ د مینې او لورېنې ډېره مننه کوو چې د خپلې خولې مړی یې راسره نیمه کړه، موږ یې پر هوډ ویاړو.

● د ښاغلي ظاهر جان بابړي ډېره مننه کوو چې له خپل شخصي کتابتون څخه یې "کوربت" ته د څلورو بېلا بېلو کتابونو ۲۵ ټوکه کتابونه ورکړل.

● له ښاغلي پوهنیار محمد اسمعیل یون ډېره مننه کوو چې کوربت ته یې ۵ ټوکه کتابونه ډالۍ کړل. غوره مشورې او لارښوونې یې راته کړې.

د ښاغلي اسد الله دانش ډېره مننه کوو چې د مجلې د چاپ چارو ته یې تندی ورین کړ او کتابتون ته یې د خپلې خپرندویې ټولنې له اړخه ۱۳۰ ټوکه کتابونو د ډالۍ ژمنه وکړه.

● د ښاغلي انجنیر محمد انعام واك ډېره مننه کوو چې د ټولنې کتابتون ته یې ۵ ټوکه کتابونه ډالۍ کړل.

● او له ښاغلي ډاکټر م. جاوېد وردګ او ډاکټر م.یحیی وردګ ډېره مننه کوو چې تر ټولو پر خنډ یې په خپلو مشورو زموږ د یادتازه کولو هڅه وکړه.

موږ بیاهم له یادو ښاغلیو د زړه له کومې مننه کوو په ځانګړي ډول د هغو ښاغلیو چې په نیمه خوله یې خپلې لیکنې پر موږ ولورولې. -

زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی زېړی

فينسي شال او فراګ کور

Faience Shawl and Frog House

د خپل هېواد او خپل دود جامې په ارزانه بيه، ښه معيار او ښکلا سره د پېښور په کارخانو مارکېټ شينواري پلازه کې له سي بلال دويم پوړ شپږمه نومره دکان "فينسي شال او فراګ کور" څخه تر لاسه کړئ.

په ياد لرئ چې فينسي شال او فراګ کور به تر ټولو په ښه معيار او ارزانه بيه تاسې ته د خپل دود و کلتور ستاسې په غوښتنه ښکلي کالي (جامې) جوړوي.

په فيسني او فراګ کور کې تکړه کار کوونکي کار کوي، چې سرکښ يې عبداللطيف دی. ټيليفون: ۸۱۵۱۳۳

دانش خپرندويه ټولنه

دانش کتابتون او چاپخې ستاسې هر ډول کتابونه، مجلې، رسالې، کارتونه، اخبارونه او... په ښکلې ښه په وړ بيه چاپوي که غواړئ په ښه ښه خپلې خپرونې چاپ کړئ په دې پته اړيکې ونيسئ:

دانش کتابتون، ډکې نعلبندي، قصه خواني، پېښور: ټيليفون: ۲۵٦٤۵۱۳

چيلنجر

د انګليسي ژبې او د کمپيوټر د زده کړې ټولو مينه والو ته زېری ورکوي چې د انګليسي ژبې او کمپيوټر چيلنجر کورس د خپل نوي پېر (دورې) لپاره له لومړنيو ټولګيو (Beg) نه تر (Adv-II) پورې زده کوونکي مني. په چيلنجر کې د تکړه او وتليو استادانو له خوا ښوونه کېږي.

د چيلنجر دا غوره والی او ښه والی په ياد لرئ چې:

* اضافي کتاب. * د اورېد وړ توکيو (مواد سمعي). * د ګړنې (محاورې) ټولګی. * د پښويي (ګرامر) ځانګړي ټولګي.

* د ښوونکي د روزلو ټولګي. او * مياشتينۍ خپرونه.

د کمپيوټر په ټولګيو کې د دغو پروګرامونو ښوونه کېږي:

Dos, Wp5.1, Wp6.0 Foxpro2.6 for window, Windows 97, Windows 98, Ms Word 97, Ms Excel 97, Ms Power point 97, Ms Access 97, Ms Word 2000, Ms Excel 2000, Ms Power point 2000 Ms Access 2000, Inpage, Print Artist.

پته: شاهين تاون، مقابل کسټم هاوس، ټيليفون: ۸٤۵۵۵۵۵

په راتلونکې ګڼه کې:

- اسامه بن لادن، امريکا، طالبان او افغانستان.
- له ميتودولوژۍ څخه تيولوژۍ ته د اوښتون لوی فکري تحول.
- په کابل کې د دولتي مامورينو څه حال دی؟
- افغانان که سوالګر؟
- د اکثريت دريځ. او ...

د پښتۍ خلورم مخ: د خوات دره، وردګ. E-mail: asiasoft@liwal.net – ۸۴۴۹۷۴ - ۴۰۷۰٦ تخنيکي چارچې اشياسافټ پېښور پښتونخوا ټيلفون